د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د شوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو
د تالیف لوی ریاست

پښتو

دولسم ټولګی

پښتو – دولسم ټولګی

اخیستنه او
ټوني چلن

Ketabton.com

چاپ کال ۱۳۹۰ هـ . ش.

Cover.indd 1

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو
د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تألیف لوی ر یاست

پښتو

دولسم ټولګی

۱۳۹۰ هـ. ش. کال

الف

ketabton.com - The Digital Library

ليکوال:

ـ محمد زرين انځور

علمي او مسلکي ايډيټ:

ـ پوهنمل بريالی باجوړی

ديني، سياسي او کلتوري کمټه:

ـ حبيب الله راحل د تعليمي نصاب د پراختيا په رياست کې د پوهنې وزارت سلاکار.

ـ مولوي پيرمحمد روحاني

د څارنې کمټه:

ـ دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين.

ـ دکتور شېرعلي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول.

ـ د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رئيس.

کمپوز او ډيزاين:

ـ صفت الله مومند

ـ اروانباد احمد ضمير علمدوست

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هېواد به تل ځلېږي — لکه لمر پر شنه اسمان
په سینه کې د اسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزیر پېغام

ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف وموميي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده‌کړې په بهیر کې د زده‌کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده‌کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو مینديې او پلرونه هم د خپلو لونې او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

پر دې تکې پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیارکاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاو له مخې پراختیا وموميي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له مینډو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

ketabton.com - The Digital Library

لیک لړ

شمېره	د لوست نوم	مخ
لومړی لوست	د عرفان روښنايي	۱
دويم لوست	نعت	۵
دريم لوست	پښتو او پښتانه	۹
څلورم لوست	سليمان ماکو او د هغه ((تذکرة الالياء))	۱۵
پنځم لوست	پښتو ولسي ادبيات	۲۱
شپږم لوست	د ښکارندوی بوللـه	۳۱
اووم لوست	په شعر کې قافيه	۳۹
اتم لوست	ادبيات د اسلام د سپېڅلي دين له نظره	۴۵

ketabton.com - The Digital Library

شمېره	د لوست نوم	مخ
نهم لوست	د خوشحال بابا دستارنامه	۵۱
لسم لوست	پښتو قلمي پانګه	۵۷
یو ولسم لوست	عبدالحمید مومند	۶۳
دولسم لوست	احمد شاهي شهنامه	۷۱
دیارلسم لوست	د پښتو ادبیاتو اوسنۍ دوره	۷۷
څوارلسم لوست	غني خان ـ نه هېرېدونکی شاعر	۸۷
پنځلسم لوست	په بهرکې پښتو پوهان	۹۷
شپاړسم لوست	الف جانه خټک	۱۰۷
اوولسم لوست	کیسه او ژوند	۱۱۳
اتلسم لوست	شفیق او پښتو لنډه کیسه	۱۲۱
نولسم لوست	د رښو اوبو ونه	۱۳۱
شلم لوست	په پښتو کې ناول لیکنه	۱۳۹
یو ویشتم لوست	ویکتور هوګو ـ د فرانسې نومیالی لیکوال	۱۴۵
دوه ویشتم لوست	ژوند او چاپېریال	۱۵۱
دیرویشتم لوست	مقاله څنګه ولیکو ؟	۱۵۷
څلرویشتم لوست	پوهاند حبیبي، لیکوال او څېړونکی	۱۶۳
پنځه ویشتم لوست	د شرابو (الکولو) زیانونه	۱۷۱
شپږویشتم لوست	د شعر په اړه څرګندونې	۱۷۷
اوویشتم لوست	د ماین، ناچاودو توکو معلولیت رواني اغېزې	۱۸۳
اته ویشتم لوست	ادبي کره کتنه	۱۸۹
	ویپانګه	۱۹۵
	اخځلیکونه	۲۰۵

ketabton.com - The Digital Library

د عرفان روښنايي

د عرفاني شاعرۍ په هکله څومره معلومات لرئ؟

په پښتو کې د دعائيه شاعرۍ بل نوم څه دی؟

د دولسم ټولګي پښتو کتاب د لوی خدای جل جلاله په نامه پيلو و. موږ او تاسو د هر کار پيل د الله جل جلاله په نوم کو و او له دې څخه مو موخه دا وي چې په کار کې مو خير او برکت پيدا شي. دولسم ټولګی زمونږ د ثانوي زده کړو وروستی ټولګی دی او موږ يې د خدای پاک په سپېځلي نامه پيلو و او هيله کو و چې راتلونکي ته هم د خپل ځان لپاره، هم د خپلې کورنۍ لپاره، هم د افغاني ټولنې او هم د ټولې بشري ټولنې لپاره يو خير غوښتونکی، مهربان او کارپوه انسان راڅخه جوړ شي. په همدې هيله دغه کتاب د پښتو د نوميالي کلاسيک شاعر علي محمد مخلص په دې لاندې مناجات پيلو و.

ketabton.com - The Digital Library

نن د زړه دانايي غواړم له وهابه
له دښنو رهايي غواړم له وهابه
چې ګويا په تسبيحات په مواعظ وي
فرقاني ګوياي غواړم له وهابه
په هر بوی چې شم اګاه مولا مې ياد شي
اينچنين پويايي غواړم له وهابه
چې ازاد د دواړو کونو له سودا وي
هسې زړه شيدايي غواړم له وهابه
چې فاني شي بقايي د ابد مومي
د ابد بقايي غواړم له وهابه
چې هېڅ څيز مې په نظر کې حايل نه وي
د وحدت هوايي غواړم له وهابه
معرفت د زړه افتاب زړه يې روشن دی
د عرفان روښنايي غواړم له وهابه
چې په خوی شي ښايسته، ښايسته تل وي
زه خودي زيبايي غواړم له وهابه
ګدايي د حق په در لويه شاهي ده
دا مخلص ګدايي غواړم له وهابه

ketabton.com - The Digital Library

د شاعر پېژندګلوي:

علي محمد مخلص په پښتو کې د روښاني غورځنګ له نومیالیو شاعرانو او لیکوالو څخه دی. هغه د ابابکر کندهاري شینواري زوی دی.

ابابکر د احداد او الهداد د پوځونو یو قومندان و، کله چې احداد او الهداد سره خوابدي شول، نو الهداد (رشید خان) هندوستان ته لاړ. ابابکر هم د هغه په ډله کې و. نوموړی د پښتو شاعر او لیکوال و. د ((مراة العارفین)) او ((سراج العارفین)) دکتابونو مؤلف دی.

علي محمد مخلص په غالب ګومان د ۱۰۱۵ او ۱۰۲۰ هـ. ق. کلونو په شاوخوا کې زېږېدلی دی. څېړونکي وایي چې هغه به یا په کندهار او یا هم په تیرا کې زېږېدلی وي چې د روښاني غورځنګ روحاني او عسکري مرکز و او د هغه د مور پلارګنۍ سیمه وه. نوموړی عالم او فاضل شخص و. مشهور اثر یې د بایزید روښان ((حالنامه)) ده چې په فارسي ژبه یې لیکلې او د پیر روښان او روښاني غورځنګ په اړه یې یو مهم او لومړی لاس تاریخي مواد وړاندې کوي. د شعرونو دیوان یې د ډاکټر پروېز مهجور خویشکي په همت چاپ او خپور شوی دی. یوه منثوره رساله یې هم د هندوستان په کتابتونونو کې پیدا شوې ده.

د علي محمد مخلص د مړینې دقیقه نېټه نه ده څرګنده، خو د هغه د دیوان او حالنامې د پېښو له بیان څخه یې د مړینې نېټه د ۱۰۸۰هـ. ق. حدود اټکلولی شو.

احداد او الهداد: د بایزید روښان او روښاني غورځنګ د مبارزو مخکښان وو.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ یو یو زده کوونکی دې ددغه مناجات یو یو بیت ولولي. د لومړني زده کوونکي د بیت له لوستلو وروسته دې یو تن په خپله خوښه د بیت معنا وکړي او یو څه خبرې دې پرې وکړي. د دویم زده کوونکي د بیت له لوستلو وروسته دې د بیت د معنا او تفسیر په اړه ښوونکی خپله یو تن انتخاب کړي.

۲ـ یو یو شاګرد دې په خپله خوښه له یو یو ټولګیوال څخه ددغو لغتونو د معنا پوښتنه وکړي او د معنی په څنګ کې دې یې په یوه ادبي جمله کې وکاروي:

دښمنه، تسبیحات، فرقان، معرفت، فاني، وحدت، شیدایي، رهایي

۳ـ ددغه مناجات د عمومي مفهوم په باب دې پنځه تنه زده کوونکي لنډې لنډې خبرې وکړي.

۴ـ زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځواب ووایي:

ـ تاسو په پښتو ژبه کې کوم کوم عرفاني او تصوفي شاعران پېژنئ؟

ـ د بایزید روښان د ملي او عرفاني غورځنګ دکومو شاعرانو نومونه مو یاد دي؟

ـ د روښاني غورځنګ شاعرانو څه ډول شاعري کړې ده؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په پښتو پخوانیو ادبیاتو کې د تصوفي او عرفاني شاعرۍ په اړه نیمه پاڼه په خپلو کورونو کې وليکي، د ځینو شاعرانو نومونه دې واخلي او د هغوی د کتابونو لنډه یادونه دې وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

نعت



د اسلام د مبارک پیغمبر حضرت محمدﷺ په ستاینه کې زمونږ ډېرو شاعرانو د خپلو قلمونو ښایست د خپلو دیوانونو پر پاڼو شیندلی دی. شاعرانو د حضرت پیغمبرﷺ د ستاینې پر کرښو د خپل شعر دیوانونه متبرک کړي دي.

په دغه لوست کې به موږ هم خپل کتاب د خپل پیغمبرﷺ په ستاینه او یادونه سپېڅلی کړو. دغه نعت د پښتو د پیاوړي شاعر حاجي جمعه بارکزي د دیوان څخه غوره شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

تـر نـامـه دې سـم قـربـان سـتـا محمدﷺ
هـم تـر واړه خـانـدان سـتـا محمدﷺ
چـې رضـا دې پـه رضـا و خـاونـد ورکـړه
هـر مـشـکـل يـې کـړ اسـان سـتـا مـحـمـده ﷺ
مـعـرفـت دې تـر تـوحـيـده پـوري تـللـی
بـل څـوک نـه وينـم پـه شـان سـتـا مـحـمـده ﷺ
پـيـغـمـبـران يـولـک څـلـېـربـشـت زره وايـي
رب کـړه واړه خـادمـان سـتـا محمدﷺ
کـه مـعـراج دمـوسـی پـاس پـر کـوه طـور و
رب مـعـراج کـړ لامـکـان سـتـا مـحـمـده ﷺ
رب مـنـسـوخـه کـړه درې واړه کـتـابـونـه
چـې يـې ر اسـتـاوه فـرقـان سـتـا مـحـمـده ﷺ
تې (ته يې) سـردار په دواړو کونو په قـدرت کړې
هـم تـابـع دې ايـن و آن سـتـا محمدﷺ
غـفـلـت حـرص ورځـخـه ولاړ قـنـاعـت ونيو
هـم پـر زړه بـانـدې مـکـان سـتـا محمدﷺ
پـه مـعـنـی يـې د رمـوزو پـوهـولـې
رب پـه بـاب کـی مـهـربـان سـتـا محمدﷺ
تـر ازلـه بـه بـاقـي وي تـل تـرتـلـه
کـمـال نـه لـري نـقـصـان سـتـا محمدﷺ
نـور دينـونـه يـې مـنـسـوخ کـړه هـمـه واړه
چـې ښـه ديـن يـې کـړ بـرهـان سـتـا محمدﷺ
د تـوحـيـد د بـاغ گـلاب يـې غـوړيـدلـي
مـعـطـر پـه بـوی جـهـان سـتـا محمدﷺ

ketabton.com - The Digital Library

بـل چـراغ دي د يـقـيـن د وړانـــدي ونـيـو
مـخـفـي راز سـو در عـيـان سـتـا محمدﷺ
و مـكـان تـه د لـويـي دي نـه رسـيـږي
او الـلـعـزم مـرسـلان سـتـا محمدﷺ
زه يـي كـلـه كـړم ادا صـفـت دي كـيـږي
پـر زمـيـن و پـر آسمان سـتـا مـحـمـده ﷺ
مـا "جـمـعـه" دي د بـاور لاسـونـه دواړه
لـگـولـي پـرگـريـوان سـتـا محمدﷺ

د شاعر پيژندگلوي:

حاجي جمعه باركزی د پښتو ژبې له نومياليو شاعرانو څخه دی. دكندهار په ماشور نومې كلي كې زيږېدلی دی. په پښتانه شعرا كې يې د مړينې نيټه (۱۲۵۹هـ.ق.) ښودلې ده.

دی د سردار كُندل خان معاصر و چې د نوموړي لومړنی واكمني پخپلو شعرونو كې يادوي. ديوان يې په كابل كې په (۱۳۶۰هـ.ق.) كال چاپ شوی دی.

فعالیتونه

۱ـ زده كوونكي دې له يوې مخې ددې نعت شريف يو يو بيت ولولي، كله چې ټول نعت په لوړ غږ ولوستل شو، بيا دې نو پاتې زده كوونكي يو يو بيت معنی او د هر بيت په اړه دې يو څه خبرې وكړي.

ketabton.com - The Digital Library

۲ـ هر یو زده کوونکی دې د پښتو د لرغونې او منځنۍ دورې د شاعرانو له ډلې څخه د یو یو نوم واخلي، هېڅوک دې تکرار نوم نه اخلي.

۳ـ یو شاګرد دې دغه لغتونه پر تخته ولیکي او بیا دې یو بل شاګرد تورې دړې ته پورته شي، له دغه لوست څخه دې اته نور لغتونه ولیکي، بیا دې شپاړس تنه زده کوونکي دغه لغتونه یو یو معناکړي او دا دې هم ووایي چې دا اسم دی که صفت یا فعل؟

واړه، پاس، منسوخ، لامکان، غوړېدل، باور.

۴ـ په حمد او نعت کې پر کومو موضوعګانو خبرې کېږي؟

دوه تنه زده کوونکي دې د نورو په وړاندې پرې رنا واچوي.

۵ـ د نعت دغه بیت څه معنا لري؟

رب منسوخه کړه درې واړه کتابونه
چې یې ر استاوه فرقان ستا محمده ﷺ

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې دغه نعت شریف یو ځل بیا په خپلو کورونو کې ولولي او بیا دې د ټول نعت لنډ مفهوم په نیم مخ کې په خپلو کتابچو کې ولیکي. بله ورځ دې په پښتو درسي ساعت کې ښوونکی په انتخابي ډول د پنځو تنو شاګردانو لیکنې ټولو ته واوروي.

ketabton.com - The Digital Library

پښتو او پښتانه

د پښتو ژبې او یا په عمومي توګه د پښتنو په هکله به تاسو خامخا یو څه لوستي او اورېدلي وي. یعنې دا چې د پښتو ژبې منشاء او چېنه چېرته ده او د ژبو له کومې کورنۍ سره اړه لري؟ یا دا چې پښتانه په کوم توکم پورې مربوط دي؟

دغه ډول څېړنو ته اتنولوجي هم وایي چې د توکم یا نژاد تاریخي علمي څېړنه کوي. د ژبې د تاریخي اړیکو په باب څېړنه په ژبپوهنه پورې هم اړه پیدا کوي.

په دې لوست کې د پښتو او پښتنو په باب دغه لنډه تاریخي څېړنه کوو.

- پښتو ژبه د ژبو په کومه کورنۍ پورې تړلې ده؟
- ستاسو په نظر پښتانه په کوم توکم پورې تړلي دي؟
- د آریایانو په باب مو څه لوستي دي؟

ketabton.com - The Digital Library

پښتو د نړۍ له پخوانيو ژبو څخه ده. پښتانه هم د نړۍ د يو پخواني تېر په توګه د اوږد تاريخ لرونکي دي. د پښتنو د توکم (نژاد) په اړه د پوهانو او څېړونکو له خوا تراوسه پورې بېلابېلې نظريې ورکړل شوې دي.

يو شمېر کسانو د پښتنو په اړه د هغوی د ((سامي)) توکم نظريه ورکړې وه او دوی يې له آره (بني اسرائيل) ګڼلي وو. پښتو يې هم پر همدغې ژبنۍ کورنۍ پورې نښتې ګڼلې وه. دغه نظريوازې يوازې يوه افسانوي او له حقيقته لرې نظريه وه چې پر هېڅ ډول علمي څېړنو او اصولو نه وه ولاړه.

د نړۍ پوهانو د خپلو علمي څېړنو په رڼا کې دا موضوع پوره څېړلې ده. پښتو يې هندو آريايي يا ايندو- جرمن ژبو په کتار کې يوه پخوانۍ ژبه ګڼلې ده. پښتانه يې هم د آريايي توکم مربوط ولس ګڼلی دی.

((د افغانستان ژبې او توکمونه)) په نوم د کتاب مؤلف اروانباد دوست شينواري په دې اړه اوږده څېړنه کړې ده چې افغانستان د آريايي ژبو زانګو ده. د هغه د څېړنو ځينو برخو ته پاملرنه ضرور ده:

د معاصر افغانستان په خاوره کې دننه او د هغه د باندې په ګاونديو نړۍ سيمو کې ارکيالوژيکي (لرغونپوهنيزې) پلټنې او څېړنې او د هغو نتيجې څېړونکو ته دا قناعت ورکوي چې افغانستان د لرغونو آريايي قومونو زانګو او تاټوبی دی. بشر چې د تاريخي پېښو ډېر تياره اړخونه نن د زيار، هاند او فني وسايلو په مرسته روښانه کړي، د نولسمې پېړۍ له پيله دا نظريه ورته پيدا شوې چې پښتانه د بشري لويو کورنيو په لړ کې هندو اروپايي او په هغه کې آريايي باختري توکم دی. دا نظريه د پښتونخوا د لرغونو تاريخي اسنادو او له نورو ژبو سره د پښتو په تاريخي مقايسوي رڼا کې سپينه شوې ده.

مهمه خبره داده چې د هر اړخيزو څېړنو په رڼا کې پښتو ژبه د هندو اروپايي، يا هندو آريايي يا هندو جرمن ژبو په کتار کې خپل ځانګړی ځای لري. خرنګه چې ژبنۍ تاريخي او مقايسوي څېړنې يو علم دی او د همدغه علم په چوکاټ کې پښتو آريايي ژبه ګڼل کېږي، نو خپله ولس يې هم ((چې پښتانه دي))، په همدغه توکم پورې اړه لري.

ketabton.com - The Digital Library

ارواښاد پوهاند حبيب الله تڑی په خپل کتاب (پښتانه) نومې کتاب کې په دې هکله د نړۍ د بېلابېلو پوهانو او څېړونکو نظرونه راوړي دي. هغه وايي:

هر څومره چې د ژبې تاريخي مقايسوي څېړنې زياتره د علم حيثيت غوره کاوه، د ژبو په باره کې مطالعه هم هغومره دقيقه کېدله. د پښتو په برخه کې هم پوهانو يوازې په دې قناعت ونه کړ چې د هندو- آريايي ژبو په کورنۍ مربوطه آريايي ژبه يې وبولي، بلکې غوښتل يې دا هم معلومه کړي چې ددغې لويې کورنۍ له کومې څانګې سره خاص ارتباط لري. څرنګه چې په پښتو کې د هندو آريايي ژبو د لويې کورنۍ د دواړو ډلو (ختيځ او لويديځ) ځانګړتياوې پکې په پراخه توګه شته دي، هغه پوهان چې پښتو يې د هندو اروپايي يا هندو آريايي ژبو په ختيځه يا هندي څانګې پورې اړونده ګڼلې وه، په هغوی کې دغه نومونه د يادولو دي: رابرټ لېچ، رودولف هورنل او څو نور... هغه پوهان چې پښتو يې ددغې لويې کورنۍ په لويديځه څانګه پورې مربوطې ګڼلې، دغه پوهان دي: شيلي ډيور، ماکس ميولر او نور...

يو شمېر پوهانو بيا دا خبره په ډېره څرګنده توګه کړې ده چې پښتو د هندو آريايي ژبو په دوو ختيځو او لويديځو څانګو کې (يا د سانسکريت او اوستا) په څنګ خپل يو ځانګړی هويت (پېژند) لري او په حقيقت کې د دواړو ترمنځ د اتصال کړۍ ده.

نومیالی ختيځ پوه جيمز ډارمستتر په دې نظر دی چې پښتو له زند يا اوستا سره نږدې اړيکې لري، خو د هندي ژبو يو شمېر ځانګړنې يې هم خپلې کړې دي. يو شمېر اوسنې ژېپوهان لکه د جرمني سبيستيان هاينه هم په دې نظر دي چې پښتو د جوړښت او د لغاتو د پانګې دواړو په برخه کې له بلې هرې ژبې څخه زيات له اوستا سره نږدې ده.

پوهاند عبدالحی حبيبي ((د پښتو ادبياتو تاريخ)) په لومړي ټوک کې په دې اړه ډېرې زياتې څېړنې کړي دي. له اوستا (زند) او سنسکريت (ريګويدا) سره يې د پښتو ژبې هر اړخيزه پرتله کړې ده، هغه هم دې پايلې ته رسېدلی دی چې پښتو ژبه له اصلي (لومړنۍ) اروپايي ژبې څخه راجلا شوې ژبه ده، چې له اوستا او سنسکريت سره اړيکې لري او د دوی ترمنځ واقع ده. په حقيقت کې د دوی د وصل د کړۍ په توګه ارزښت لري.

ketabton.com - The Digital Library

د متن لنديز:

پښتو يوه لرغوني ژبه او پښتانه د نړۍ يو لرغونی تبر يا ولس دی. د هغو هر اړخيزو څېړنو په پايله کې چې کورنيو او بهرنيو څېړونکو مؤرخينو او ژبپوهانو کړې دي، پښتو د هندو اروپايي يا آريايي ژبو د کورنۍ يوه مهمه ژبه ده. په دې توګه نو ددغې ژبې ويونکي هم په همدغه توکم يا همدغه لويه کورنۍ پورې اړه لري.

څېړونکو او ژبپوهانو په دې برخه کې هم څېړنې کړې چې د آريايي ژبو د لويې کورنۍ په کومه څانګه کې د پښتو ژبې موقعيت تثبيت کړي؟ ځينو څېړونکو له سنسکريت او ځينو له اوستا سره پښتو نږدې ګڼلې ده، خو يو شمېر پوهان او د ژبو څېړونکي نظر لري چې پښتو د آريايي ژبو د ختيځو او لويديځو څانګو ترمنځ واقع ده او د سنسکريت (ريګويدا) او زند (اوستا) ترمنځ د اتصال د کړۍ په څېر ده.

څرګندونې

اتنولوجي (اتنوګرافي) د بشر د توکم او نژاد په باب علمي څېړنو ته ويل کېږي.

ارکيالوجي (ارکيالوژي ـ لرغونپوهنه) د نړۍ د لرغوني تاريخ په باب، د لرغونو انسانانو، لرغونو تمدنونو او لرغونو موجوداتو په اړه څېړنې کوي. د ولسونو د لرغوني تاريخ او لرغونو نښو نښانو په باب څېړنې ددې علم موضوع ده.

هندو اروپايي: دغه اصطلاحات د نړۍ د بېلابېلو ژبپوهانو له خوا په بېلابېله بڼه راغلي دي. چا هندو اروپايي، چا هندو جرمن، چا هندو آريايي اصطلاح کارولې ده، خو د ټولو مقصد تري هماغه هندو اروپايي ژبنۍ کورنۍ ده چې د ختيځ او لويديځ هېوادونو او ولسونو ډېرې ژبې پکې راداخلېږي. پښتو ژبه هم په همدغه کورنۍ کې شامله ده.

ketabton.com - The Digital Library

۱ـ زده کوونکي دې ددې لوست په پام کې ساتلو سره دغو پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

- دا چې پښتانه په (سامي) توکم پورې مربوط دي، دغه نظریه کوم علمي بنسټ لري، که نه؟
- د آریایي ژبو په کتار کې د پښتو ژبې مقام کوم دی؟
- پوهانو پښتو ژبه د آریایي ژبو په کورنۍ کې په کومو کومو څانګو پورې تړلې ده؟

۲ـ په دغو څلورو ځوابونو کې کوم یو سم دی، په نښه یې کړئ:

الف: پښتو د هندو اروپایي یا هندو جرمن کورنۍ په ژبو پورې اړه لري.

ب: پښتو د سامي ژبو په کورنۍ پورې مربوطه ده.

ج: پښتو د تُرکي ژبو کورنۍ ته منسوبه ده.

د: درې واړه ځوابونه سم دي.

۳ـ زده کوونکي دې ددغو درېو موضوعګانو په باب په وار سره لنډې لنډې خبرې وکړي:

- د پښتو ژبې لرغونتوب
- پښتو د آریایي ژبو د دوو لویو څانګو د اتصال د کړۍ په توګه
- افغانستان د آریایانو ټاټوبی

ketabton.com - The Digital Library

ددې لوست تر یو ځل بیا لوستلو وروسته د پښتو ژبې په اړه د پوهانو د هغو دریو نظرونو لنډیز ولیکئ چې د آریایي ژبو د کورنۍ په کومو کومو څانګو پورې یې اړونده ګڼلې ده.

لا تر اوسه یې ماغزه په قرار نه دي
چا چې ما سره وهلی سر په سنګ دی
لا په خوب کې په لړزه پریوځي له کټه
چې د چا تر غوږ زما د تورې شرنګ دی
د خوشحال د زړه د حال ننداره وکړه
که د تخت د پاسه کښېنې هم ملنګ دی
((خوشحال خان خټک))

طوطي مې ووت نن له قفسه
خالي کالبد یم زه بې نفسه
رب په غربت کې لکه بېکس کړم
خدای دې څوک نه کاهسې بېکسه
((د پیرمحمد کاکړ له دیوان څخه))

ketabton.com - The Digital Library

سلیمان ماکو او د هغه «تذکرة الاولیاء»

تذکرة الاولیاء د پښتو د لرغوني نثر یو کتاب دی. تاسو د لسم ټولګي په پښتو کتاب کې د پښتو ادب د لرغوني دورې په هکله پوره معلومات ترلاسه کړي وو. د پښتو ادب په لرغوني دوره کې مو د پښتو نثر د پیلامې د آثارو په باب هم یو څه لوستي وو.

دادی په دې لوست کې د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیاء په اړه بشپړې خبرې لرو. تاسو به په دې لوست کې د پښتو لرغوني نثر دغه کتاب په پوره ډول وپېژنئ او د پښتو د لرغوني نثر په ځانګړنو به خبر شئ.

ketabton.com - The Digital Library

سليمان ماکو د پښتو د لرغوني دورې پيژوړی ليکوال دی. هغه د ((تذکرة الاولياء)) په نوم يو ډېر مهم اثر په پښتو نثر ليکلی دی چې له بده مرغه ټول کتاب يې لاس ته نه دی راغلی او يوازې د پيل څو پاڼې يې د اروانښاد استاد پوهاند حبيبي په زيار پيدا شوي او خپرې شوې دي.

سليمان ماکو د بارک خان صابزي ماکو زوی دی چې د کندهار په ارغسان کې اوسېده. نومورې د پښتونخوا په غرو رغو کې سياحتونه کړي او د خپل عصر نومیالي روحاني او ادبي رجال يې ليدلي دي. دی پخپله وايي چې په (۶۱۲ هـ.) تللی وم او د پښتونخوا په غرو او رغو گرځېدم. تر دغه سفر وروسته سليمان ماکو په دې بريالی شو چې د پښتنو د نامتو لويانو د ژوند په باب د ((تذکرة الاولياء)) په نوم يوه تذکره وليکي.

د استاد حبيبي په قول: د سليمان تذکره د پښتنو مشاهيرو او ادبي رجالو يو مفصل تاريخ دی. د هر سړي احوال چې بيانوي، د هغه علمي او روحاني مقام ښيي او بيا يې اشعار او ويناوې رانقلوي. د تذکرې يو څو پاڼې چې پيدا شوې دي، دا ځنې معلومېږي چې د پښتنو مشاهيرو احوال يې په داسې ډول ليکه چې د هغو د ژوندانه پېښې ثبت شي چې پلاني سړي څنگه ژوند کاوه، چېرې اوسېده، پلار، نيکه او کورنۍ يې کومه او چېرې وه او له هغه سړي څخه د خلکو په خولو او زړو کې کومه وينا او کوم شعر پاتې دی.

هغه د خپل دغه کتاب په سريزه کې ددې کتاب د ليکلو هدف او د خپل سفر هدف هم بيانوي.

همدغه برخه به ددې کتاب د نشر د نمونې په توگه هم ولولئ:

((زه غريب خاورې سليمان، زوی د بارک خان ماکو صابزی چې په ويالې د ارغسان هوسېږم او په دې مزکو پاېږم په سن دولس او شپږ سوه (۶۱۲) د هجري تللی وم او د پښتونخوا په راغو او کليو گرځېدم او مراقد د اولياوو او واصلينو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل. چې له دې سفره په کور کښېنستم او تپاکې وچاودلې د پښو، بيا پاڅېدلم او له څښتنه مې مرستون شوم چې احوال د هغو کاملانو وکاږم او دوی چې

ketabton.com - The Digital Library

هغه ويناوې پاته کړې دي او پښتانه يې لولي اوس.))

د تذکرة الاولياء په هغو اوو پاڼو کې چې زموږ لاس ته راغلې دي، ددغو شاعرانو او ليکوالو احوال پکې راغلی دی:

۱ـ بيبۍ نيکه ۲ـ ملکيار غرشين ۳ـ شيخ اسماعيل ۴ـ قطب الدين بختيار

تر سليمان ماکو د مخه د پښتو نثر کومه منثوره نمونه موږ ته نه ده معلومه چې پخوا به د پښتو نثر څنګه و او څه سبک او ډول يې لاره؟ خو د سليمان د نثر پوخوالی او متانت دا راته څرګندوي چې ددغه عصر نثرونه به داسې پاخه وو او لکه د پارسي نثر چې په هغه وخت کې (په غزنوي او غوري دورو کې) متين، پوخ او خوږ و، د پښتو نثر به هم په زړه پورې او خوږ و.

د سليمان ماکو د نثر څو ځانګړتياوې داسې شمېرلای شو:

۱ـ دغه نثر روان او خوږ دی، بې له کړکېچ او کږلېچه دی.

۲ـ د اوږدو جملو پر ځای، لنډې لنډې جملې کاروي. يوه جمله په بله پورې نه تړي.

۳ـ د طبيعي مکالمې او روانو خبرو اترو بڼه لري.

۴ـ جملې يې غوڅې، څرګندې او واضح دي.

۵ـ ځينې داسې زاړه تعبيرونه او اصطلاحات هم لري چې اوس نشته مثلاً (تڼاکې وچاودلې د پښو) چې مقصد يې په خپل کلي کور کې هوسايي ده.

۶ـ که څه هم د پارسي کلمات ډېر نه راوړي او زياتره پښتو سوچه او نږه کلمې ليکي، خو بيا هم د چاپېريال د اغېز له مخې يې ددې ژبې د ترکيبونو او لغتونو يو څه اغېز منلی دی، لکه دغه کلمې:

درخواست، سپاس، خاک پای، مهربان او نور...

۷ـ د سليمان په نثر کې تر فارسي د عربي ژبې اثر هم ډېر او درونده ښکاري او ددې علت هم دادی چې عربي په دغو وختو کې د پښتنو درسي او ديني ژبه وه او که به چا له علمه سره مينه درلوده، هغه به عربي زده کوله. څرنګه چې سليمان يو متدين او تصوف

ketabton.com - The Digital Library

ته مايل او د ديني علومو طالب سړی و، نو هغه به خامخا عربي کتابونه لوستي وي. د عربي دغه اثر يوازې په پښتو نثر کې نه دی، بلکې د هغه وخت د پارسي نثر په شهکارونو کې هم د عربي نثر اغېز جوت دی، نو د پښتو نثر له يوې خوا له عربي نثره اغېزمن دی او له بله پلوه يې له فارسي نثره گټه اخيستې ده چې هغه له عربي اغېزه خالي نه و، نو له دې کبله د سليمان ماکو په نثر کې د عربي اغېز ښه څرگند دی.

۸ـ په دې نثر کې د فعلونو تکرار هم لکه د نورو ژبو د لرغونو نثرونو په څېر تر سترگو کېږي او کله خو په پرله پسې ډول زيات فعلونه په مکرر ډول راوړي، لکه: (بختيار په پښتو سندرې کړينه، اوښې تويوينه، خدای ته نارې کړينه، غلبلې کړي، پاڑکي لرينه) په يوه کرښه کې پنځه فعله سره يوځای شوي دي، دوه يې کټ مټ تکرار شوي دي.

۹ـ دغه نثر که څه هم مسجع نه دی، خو لکه د نورو ژبو پخواني نثرونه کله کله وزن لرونکي او مسجع کلمات لري. د فعلونو په پای کې يې يو (نه) د وزن او ترنم لپاره نښلولی دی.

پروفيسر افضل رضا ددغه کتاب په اړه ليکي: ((سليمان ماکو د خپل دور په تذکره ليکوالو کې داسې لار اختيار کړه چې يو خوا دا د هغه وخت د پښتنو روحاني مشاهيرو تاريخ دی، بل خوا د ادبي رجالو د ادبياتو تاريخ دی. د تذکرې د ليکلو په وخت سليمان هم پوخ مؤرخ دی، هم ښه تذکره نگار. دا تذکره اول کې د تصوف کتاب نه، بلکه د شعر او ادب گران بها مجموعه ده.))

د متن لنديز:

سليمان ماکو د پښتو لرغوني ادب يوه ځلانده څېره ده. نوموړي د ((تذکرة الاولياء)) په نوم په پښتو نثر يو کتاب ليکلی دی چې د پښتنو شاعرانو او اولياوو د ژوند حالات او د کلام نمونې يې پکې راغونډې کړې دي. د پښتو نثر لومړنی لاس

ketabton.com - The Digital Library

ته راغلی کتاب دی چې په (۶۱۲هـ.) کې کښل شوی دی. له دې څخه پخوا د پښتو نثر د یو بل کتاب یادونه په ((پټه خزانه)) کې شوې ده چې د ((سالو وړمه)) نومېرې او لیکوال یې ابو محمد هاشم سرواني (۲۲۳ - ۲۹۷هـ.) دی. د هغه کتاب یوازې نوم تر موږه رارسېدلی دی او خپله کتاب ورک دی.

د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیاء د کتاب یوازې لومړني او وه مخه پیدا شوي او خپاره شوي دي. ددې کتاب نثر روان، خوږ او په زړه پورې دی، د پښتو نثر په تاریخ کې دغه کتاب د ځانګړې ارزښت لرونکی دی.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې د ښوونکي دغو پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

ـ په تذکرة الاولیاء کې دکومو اولیاوو او شاعرانو د ژوند حالات او دکلام نمونې راغلې دي؟

ـ تذکرة الاولیاء په پښتو ادب کې څه ارزښت لري؟

ـ له تذکرة الاولیاء څخه د مخه په پښتو ژبه د نثر کوم بل کتاب پېژنئ که نه، که یې پېژنئ و وایاست چې چا لیکلی او دکتاب نوم څه دی؟

۲ـ په دغو څلورو ځوابونو کې یو یې سم دی، سم ځواب په نښه کړئ:

الف: د سلیمان ماکو په تذکرة اولیاء کې یوازې د اولیاؤ او علماوو ژوند پېښې راغلې دي.

ب: په تذکرة الاولیاء کې د اولیاوو او شاعرانو ژوند پېښې او دکلام نمونې راغلې دي.

ج: په تذکرة الاولیاء کې یوازې د نثر لیکونکو او شاعرانو ژوند پېښې او دکلام نمونې راغلې دي.

د: په تذکرة الاولیاء کې د شپږو تنو شاعرانو او اولیاوو ژوند پېښې او دکلام نمونې راغلې دي.

ketabton.com - The Digital Library

۳_ زده کوونکي دې دغه لغتونه پر تخته وليکي او له ټولګيوالو څخه دې يو تن هغه په يوه مرکبه جمله کې وکاروي:

مرقد، متانت، شهکار، مسجع، تذکره نګار

۴_ ددې لوست ټول (قيدونه) دې هر څوک په خپله خپله کتابچه کې وليکي او هر زده کوونکی دې دوه دوه قيده ټولګيوالو ته ووايي.

۵_ څو تنه زده کوونکي دې په خپل خپل وار د سليمان ماکو د نثر يوه يوه ځانګړنه په لنډه لنډه توګه ووايي.

کورنۍ دنده

د سليمان ماکو د نثر د ځانګړتياو و په باب په لنډيز سره يو څه وليکئ او سبا ته به يې د ښوونکي په انتخاب د څلورو تنو ليکنې ټول ټولګيوال واوري.

حکايت:

نوشيروان چې په عدل په انصاف مشهور و، يوه ورځ ښکار ته وتلی و ، څه يې وژلي وو. کباب يې کاوه. مالګه حاضره نه وه. خدمتګار يې کلي لره واستاوه چې ورشه مالګه په بها راوړه چې بد رسمي ونشي، کلی به خراب شي. چا وويل: په دا هومره مالګه راوړل به څه خرابي کېږي؟

ده وې: بنياد د ظلم اول لږ و، هر څوک چې حاکمان کېدل، په وار واريې زياتاوه، تر دې حده ورسېده.

قطعه

که باد شاه د چا له باغه شفتالو په ظلم وخوري د باغ ونې به له وښخه وکاږي دده مريونه

که ستم په يوه هويه د غريب بادشاه روا کا سپاهيان به يې چرګان د رعيت کا په سيخونه

د عبدالقادر خان ختک ((ګلدسته))

(د ګلستان پښتو ژباړه)

ketabton.com - The Digital Library

پښتو ولسي ادبيات

ولسي ادبيات د يو ملت د فولکلوري ميراثونو يوه ډېره مهمه برخه ده. تاسو په تېرو ټولګيو کې د پښتو په ځينو لوستونو کې د ولسي ادبياتو د ځينو ډولونو لکه: لنډيو، متلونو او ځينو نورو په اړه يو لړ مطالب لوستي دي. په دې لوست کې به د ولسي ادبياتو په باب بشپړې خبرې وکړو او مهمې برخې به يې تاسو ته در وپېژنو.

ketabton.com - The Digital Library

پښتو ولسي ادبيات زمونږ د غرونو، رغونو، کيږديو، کورونو، جونګړو، کليو، ديرو او حجرو د غږونو، هيلو او ارمانونو انګازه ده. له همدې کبله ولسي ادبيات د يو ملت د هيلو او ارمانونو د رازونو ساتونکي ګڼل شوي دي.

که مونږ ادبيات په دې لوست کې په دوو عامو څانګو ووېشو، نو دغه دوه څانګې يې (ليکلي يا تحريري ادبيات) او (نا ليکلي يا ولسي او شفاهي ادبيات) دي. په ليکلي ادب کې هغه ليکلي او ديواني ادبيات راځي چې وخت په وخت د ځانګړو ليکوالو يا شاعرانو او ناظمانو په قلم ليکل شوي او په ديواني او کتابي بڼه تر مونږه رارسېدلي دي.

شفاهي يا ولسي ادبيات بيا د هغه ولس غږ دی چې له ليک لوست څخه لېرې پاتې شوی دی او دغه سندرې چې په حقيقت کې د خلکو سندرې دي او د ولس ادبيات دي، سينه په سينه په شفاهي بڼه د پښتنو د تاريخي ولسي ميراث په توګه تر دې دمه رارسېدلې او يوه برخه يې د راټولوونکو او د فولکلور د څېړونکو له خوا راټوله شوې ده.

((د خلکو سندرې)) نومي کتاب ليکي:

((د خلکو ادبيات په عمومي توګه په دوو برخو وېشلای شو چې لومړی برخه يې د خلکو سندرې (منظوم ادب) او دويمه برخه يې د خلکو روايات، امثال (متلونه) افسانې او نور (منثور ادب) تشکيلوي.))

انګرېز مستشرق راورټي ډېر پخوا د پښتو سندرو په باب ويلي وو: ((پښتانه که څه هم ورځپانې او خپرونې نه لري، مګر هغه ساده او عاميانه اشعار او بدلې چې په عام ډول د پښتنو د هرې طبقې له خوا ويل شوي، د دوی تاريخ او ورځپانې بلل کېدای شي.))

پښتانه ډېر غني ولسي ادبيات لري. د غرونو، درو او سردرو دغه اوسېدونکي د ولسي ادبياتو ډېرې غوره نمونې لري. د نړۍ ډېر لږ ولسونه به د پښتو له ولسي ادبياتو سره د سيالۍ جوګه وي.

څېړونکو د پښتو د ولسي ادب منظومه برخه هم په دوه ډوله وېشلې ده: يوه برخه يې (عامې سندرې) او بله برخه يې (ځانګړې يا خاصې سندرې) دي. د لومړۍ برخې ويناوال

ketabton.com - The Digital Library

څرګند نه دي او په ټول ولس پورې اړه لري، خو د دويمې برخې ويناوال يې څرګند دي او هغه ولسي شاعران دي. په عامو سندرو کې دغه بېلابېلې برخې شاملې دي:

د مينډو سندرې: لکه اللو للو، پيشو- پيشو مه راځه د غرو (پلانکی) جان داسې ويده دی لکه ګوډی د رنجو. يا منظوم چيستانونه، د ماشومانو سندرې، د وړو مشاعرې، کيسې، د لوبانو سندرې، د اتڼ نارې، بابولالې، لنډۍ يا ټپې، سروکي، منظوم متلونه، د هوتکو نارې، کاکړۍ (يا د کاکړو غارې) ساندې او نور...

په ځانګړو يا خاصو سندرو کې دغه برخې راځي:

مقامونه، چاربيتې، بدلې، بګتۍ، لوبې، کيسې او داستانونه او يو شمېر نور...

((د خلکو سندرې)) د کتاب ليکوال د دغو سندرو د ارزښت په اړه وايي چې د پښتو دا سندرې هم له ډېر پخوا څخه شروع شوې دي. دا سندرې د پښتو د هغو پخوانيو اشعارو زېرنده ده چې له اريايي شعرونو سره د موضوع او بڼې له مخې ټينګې اړيکې لري، لکه د امير کرور شعر، د بيټ نيکه دعا، د بابا هوتک سندره او نور... دا سندرې زموږ د ملي ادب يوه ستره برخه ده. په دغو سندرو کې پښتنې حماسه او غيرت، دود او دستور، خيالونه او فکرونه او د پښتنو روحي ځانګړنې رامعلومېږي. ددغو سندرو تشبيهات او استعارې او د افادې ډول، خيال او تصور د پښتو په ولسي او عاميانه ژبه پورې اړه لري او ټول د ولسي او عاميانه ژوند تفسيرونه او تعبيرونه دي. موږ ته له داسې سپېڅلو او خوږو سندرو څخه خبرېدل هرومرو پکار دي.

د پښتو په ولسي سندرو کې چاربېتې ځانګړی مقام لري. چاربيتې د ولسي ادبياتو د منظومې برخې په خاصو يا ځانګړو سندرو کې شمېرل کېږي چې شاعران يې معلوم دي. چاربېتې په بېلابېلو تاريخي، حماسي، ديني، عشقي او نورو موضوعګانو کې ويل شوي دي. تاريخي او حماسي چاربيتې په دغه لړ کې ځانګړی تاريخي ارزښت لري او په حقيقت کې د تاريخ لپاره تړې مواد برابرېږي. د تاريخي چاربېتو يوه برخه فرانسوي ختيځ پوه ((دارمستتر)) هم خوندي کړې او ((د پښتونخوا د شعر هار و بهار)) په نوم يې ډېر کلونه پخوا چاپ او خپره کړې ده. همدارنګه د ((تور برېښ)) د کتاب ليکوال هم يو شمېر

ketabton.com - The Digital Library

مهمې تاريخي چاريټې راټولې او خپرې کړې دي، د ولسي سندرو په يو شمېر مجموعو کې هم دغه ډول چاريټې وخت په وخت چاپ شوې دي.

ددغو ادبياتو په اړه د تور برېښ په سريزه کې پوهاند صديق الله رښتين ليکي:

... په دې سلسله کې ټپه يا لنډۍ د پښتو شاعرۍ تر ټولو پخوانۍ نمونه ده چې د پښتون ولس ډېر لرغوني، پاک او سپېڅلي احساسات پکې په يو اغېزناک او ښايسته ادبي رنګ کې ساتل شوي دي.

په لنډيو پسې وروسته نيمکۍ، بګڼۍ، چاريټې او لوبې د ولسي شاعرۍ د ادبي خزانې يوه لويه پانګه ده. په دغو ډولونو کې چاربېټه تر ټولو زياته پراخ او خوندور ډول دی.

نومیالی فرانسوي ختيځ پوه دارمستتر وايي چې چاربېټه د پښتنو يو ليکلی تاريخ دی. د دوی د جنګونو او غزاګانو تاريخ په چاريټو کې نغښتی دی.

له بده مرغه چې ډېرې پخوانۍ چاريټې له خپلو ويونکو سره يوځای تر تورو خاورو لاندې شوې دي او څه زياته پانګه يې لاس ته نه ده راغلې. څومره چې ښکاره ده چاريټي زياتره د نالوستو خلکو له خوا ويل شوي دي مګر ځينې اخوندان او ملايان هم پکې ډېره لويه برخه لري.

د ((د تور برېښ)) د کتاب ليکوال د دغو ولسي سندرو د راټولولو او خوندي کولو اهميت په دغو ټکو کې څرګندوي:

۱ـ زمونږ د تاريخ ډېرې پټې او نامعلومې پېښې او ددغو پېښو قهرمانان مونږ ته معلومېږي او د ملي تاريخ له ليکوالو سره مرسته کوي.

۲ـ زمونږ د ادب ډېره قيمتي برخه له ورکېدو او تباه کېدو څخه خوندي پاتې کېږي.

۳ـ د داخلي او خارجي ادب څېړونکو، ژېپوهانو او د کلتور او ملي فولکلور د پلټونکو لپاره د استفادې وړ مواد لاس ته راځي.

۴ـ شاعرانو ته ډېر ښکلي او ښايسته آهنګونه په لاس ورکوي چې خپل نوي فکرونه پکې واچوي.

ketabton.com - The Digital Library

۵ـ له ولس او عامو لوستونکو سره د ملي احساساتو په روزلو کې مرسته کوي.

تاريخي چاريټې د ولسي سندرو ډېره غوره برخه ده. دا د ربښتيني تاريخ د ليکلو لپاره د مهمو خامو موادو په توګه پوره ارزښت لري.

ددغو تاريخي او حماسي چاريټو زياته برخه د افغان ـ انګليس د بهلابهلو جګړو ځيني اړخونه موږ ته راڅرګندوي. فرانسوي جيمز ډارمستټر د افغان انګليس د جګړو دغه تاريخي چاريټې خوندي کړي دي. دغه راز يو زيات شمېر دغه ډول ولسي سندرې په ((پښتو سندرې))، ((تور برېښ))، ((ولسي سندرې)) او نورو آثارو کې خوندي شوې دي.

له دغو چاريټو څخه ((د ډکې غزا)) په نوم د افغان- انګليس د دريمې جګړې يا د خپلواکۍ د جګړې يوه مشهوره چاريته د ولسي نامتو شاعر د لالپورې شريف له خوا ويل شوې ده چې يوه برخه يې د نمونې په توګه دلته راوړو:

لـه هندوسـتانه کاغذونـه راغله — امیـر صاحب تـه پريادونـه راغله
نـن مې جګـړه ده لـه کفاره سـره — بهلتـون مې نه پرېږدي له ياره سـره

* * *

امیـر صاحب د جنـګ اختيار وکړ — د غـزا نيـت يـې پـه تلـوار وکړ
سـپه سـالار يـې مقـرر کړلـو — پروت په ډکـه ټينګ يې خيبر کړلو
سـپه سـالار وتـاړه لام ورپسـې — په هـره ورځ راته ګودام ورپسـې
پوځ يـې کـم ميخزيـن يـې ډېرو — خلکـه حسـاب لـه حـده تېـر و
پـه ښـکارغلي پلټنـې پرېوتلـې — لـه انګرېزانـو سـره کښـېوتلې
ورځ د جمعې وه چې جازونه راغله — امیـر صاحب تـه پريادونـه راغله
يو څو ګولـۍ يې کړې ګوزار خلکه — په ډکه يې جوړ کـړ دندوکار خلکه
مړي زخميان پراته بې شـماره سره — نـن مې جګـړه ده لـه کفاره سـره

* * *

ketabton.com - The Digital Library

سپه سالار یوه چره وخوړه　　خلکه په پونده یې خره وخوړه
په ستنه سپور شو په موټر باندې　　پوځ یې پرېښود په خیبر باندې

ولسي سندرې د موضوع له پلوه په بېلابېلو برخو وېشل شوې دي. د ((ولسي سندرې)) ښاغلی مؤلف یې په دغو برخو وېشي: تاریخي سندرې، جغرافیایي سندرې، قصصي سندرې، اجتماعي او انتقادي سندرې، ټوکي سندرې، وعظیه او اخلاقي سندرې، اړونه او ((تقابلي سندرې)) ویرنې، د مینې سندرې د عشق او محبت سندرې.

د ولسي ادبیاتو له منظومې برخې څخه چې راټېر شو، منثوره برخه یې هم د پاملرنې وړ ده. په منثوره برخه کې یې متلونه، ولسي نکلونه، حکایتونه، افسانې او نور شامل دي.

په پښتنو کې د ولسي نکلونو او کیسو ډېرې په زړه پورې نمونې شته دي. په دغو کیسو کې هم لکه د لنډیو او متلونو په څېر د پښتنو د ژوند، هیلو، غوښتنو او ارمانونو انعکاس په ډېره ښه توګه لیدلی شو. موږ په دغو کیسو او نکلونو کې د خپل وخت د پښتنو د ژوند، فکر او نظر، هنر او نورو خواو و ښه مطالعه کولای شو.

په ملي هنداره نومې فولکلوریک اثر کې ددغو ولسي پښتني نکلونو ځینې بېلګې اړوانباد محمدګل نوري خوندي کړې دي، لکه: فتح خان او رابیا، ښادي او بیبو، مرد او نامرد، زبزبانه ښاپېرۍ، موسی جان او ولی جان (یا موسی خان او ګلمکۍ)، مومن خان او شیرینو، جلا ت خان او شمایله، ملا عباس او ګلبشره، ظریف خان او مابۍ، خشکیار او شاتریه، قطب خان او نازو، دلی او شهو او آدم خان او درخانۍ.

له بده مرغه د پښتو دغه ولسي کیسې لا تراوسه پورې د ولس په سینو او حافظو کې پرتې دي او په پوره ډول راټولې شوې نه دي، یوازې یوه کوچنۍ برخه یې راټوله شوې ده. له همدې کبله ښایي ډېرې دغه ډول کیسې او نکلونه هم د راویانو له مړینې وروسته له خاورو سره خاورې شوې وي.

ketabton.com - The Digital Library

موږ ته لازمه ده چې د خپلو ولسي او فولکلوريکو ادبياتو دغو ټولو برخو ته پوره غور وکړو او د ډېر مهم کلتوري ميراث په سترګه ورته وګورو. ددغو ارزښتناکو کلتوري ميراثونو راټولول، خپرول او پرې څېړنې کول د يو ملت د فولکلوريکو ولسي پانګو د خوندیتوب په معنا دی. له دغو راټولونو او څېړنو به اوسني او راتلونکي نسلونه ددې ولس د ژوند دود، رواجونو، فکر او نظر، تاريخ، کلتور او ادب په هکله معلومات ترلاسه کوي او څېړونکي به ترې ددې ولس د ژوند او ژواک په اړه نوي نوي ټکي راباسي او ددې ولس په ښه پېژندکې به ترې ګټه اخلي.

د متن لنډيز:

ولسي ادبيات، د فولکلور او د يو ملت د کلتوري ميراثونو ارزښتناکه برخه ده. په ولسي ادبياتو کې منظومه او منثوره برخه شامله ده. په منظومو ولسي ادبياتو کې عامې او خاصې سندرې دواړه د پاملرنې وړ دي. په عامو سندرو کې دغه برخې شاملې دي. د مېندو سندرې، د ماشومانو سندرې، د اتڼ ناري، بابولالې، لنډۍ، سروکي، منظوم متلونه، د هوتکو ناري، کاکړۍ، ساندې او نور.

خاصې سندرې دادي: مقامونه، چاربيتې، بدلې، بګتۍ، لوبې، منظومې کيسې او داستانونه او نور... په منثوره برخه کې يې: متلونه، ولسي نکلونه او حکايتونه او نور ډېر د ارزښت وړ دي.

څرګندونې

فولکلور: يوه لاتيني کلمه ده چې له فولک (خلکو يا ولس) او (لور يا پېژندنې او پوهنې) څخه جوړه ده. له همدې کبله فولکلور ته ولسي پوهه هم وايي، فولکلور په خپله ځولۍ کې د يو ولس دودونه، رواجونه او عنعنې، انګيرنې او نظرونه، ولسي ادبيات او نور ډېر ولسي ميراثونه رانغاړي.

ketabton.com - The Digital Library

د تاريخ لپاره خام مواد: په دې لوست کې د تاريخ د ليکلو لپاره خام مواد ياد شوي دي. موخه مو تر ې داده چې کله يو مؤرخ تاريخ ليکي، نو سندونه، مرکې او مصاحبې، فلمونه او تصويرونه ورته د خامو تاريخي موادو په توګه مهم دي چې راټول يې کړي او د همدغو سندونو په رڼا کې د يوې ځانګړې دورې تاريخ وليکي، دغه تاريخي چاربيټې چې د هماغه وخت د سترګو ليدلي حالات دي، د يوې دورې په تاريخ ليکنه کې د خامو موادو په توګه تاريخ ليکونکي (مؤرخ) ته مهمې دي او پوره ګټه تر ې اخيستلی شي.

جيمز دارمستټر: مشهور فرانسوي ختيځ پوه دی. په ۱۹ عيسوي پېړۍ کې اوسېده. د پښتو تاريخي او حماسي چاربيټې يې د ((پښتونخوا د شعر هار و بهار)) نومې کتاب کې راټولې کړې او چاپ کړې دي. د پښتو او پښتنو په باب يې نورې څېړنې هم کړې دي چې د ختيځ پوهانو په بحث کې مو درپېژندلي دي.

د لالپورې شريف: د ننګرهار د لالپورې نامتو ولسي شاعر و.

امير صاحب: غازي امان الله خان

سپه سالار: د ختيځې جبهې قوماندان، سپه سالار صالح محمد خان

لام: لښکر، پوځ

ښکارغلی: په خيبر کې يوه سيمه ده

ميخزين: وسله، تدارکات

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې د ښوونکي دغو پوښتنو ته په خپل خپل وار ځوابونه ووايي:

- فولکلور څه ته وايي؟
- ولسي ادبيات په کومو کومو څانګو وېشل کېږي؟

ketabton.com - The Digital Library

- چاربيټې د ولسي ادبياتو کوم ډول دی او څه ځانګړنې لري؟
- ولسي سندرې د موضوع له پلوه په کومو کومو برخو وېشلای شو؟
- فرانسوي ختیځ پوه جیمز دارمستتر په خپل کوم کتاب کې کوم ډول چاربېټې راټولې کړې او خپرې کړې دي؟

۲ـ زده کوونکي دې (په انتخابي توګه له هر کتاره یو یو تن) په وار سره د خپلو ټولګیوالو مخې ته ودرېږي او یو یو تن دې ددې یوې یوې موضوع په اړه خبرې وکړي:

- په پښتو کې د ولسي ادب ارزښتونه
- پښتو لنډۍ په کوم ډول ادبیاتو کې راځي او کوم مقام لري؟
- د پښتو د ولسي سندرو یا د ولسي ادب د منظومې برخې ډولونه
- د پښتو منثور ولسي ادبیات

۳ـ یو یو زده کوونکی دې په خپله خوښه ددې لوست د یوې یوې اصطلاح په باب توضیحات وغواړي، یو شاګرد دې په خپله خوښه ددې کلمو، موضوعاتو او یا اصطلاحاتو په باب لنډ لنډ ځوابونه ورکړي. یو څو اصطلاحات یا موضوعګانې دادي:

الف: تحریري یا لیکلي ادبیات

ب: نا لیکلي یا شفاهي ادب

ج: فولکلوري میراث

د: تاریخي چاربیټې

هـ: ولسي نکلونه

نور اصطلاحات او نورې موضوعګانې دې شاګردان په خپل لټون سره له متن څخه راوباسي او له نورو ټولګیوالو څخه دې د هغو د معنا او مفهوم په هکله پوښتنې وکړي.

۴ـ زده کوونکي دې لکه د یوې کوچنۍ مباحثې یا خبرو اترو په توګه په ادبیاتو کې د (استعارې)، (تشبیهاتو)، (خیال) او (فکر) په باب په خپلو کې په نوبت سره منظمې خبرې وکړي. دوه تنه شاګردان دې دغه جریان د ښوونکي تر نظارت لاندې وڅاري او بیا دې

ketabton.com - The Digital Library

همدغه دوه تنه شاګردان د ټولو ټولګيوالو نظرونه راغونډ کړي او ددغو ګډو خبرو اترو ارزونه دې وکړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلې سيمې او شاوخوا کوم ولسي شاعر په لنډيز سره معرفي کړي او يا دې د کوم ولسي شاعر کوم شعر يا کومه ولسي سندره يا ولسي نکل په کلي-کور کې له چا څخه وليکي او ټولګي ته دې يې له ځانه سره راوړي. په راتلونکي درسي ساعت کې دې يې ټولګيوالو ته واوروي. ښوونکی به دغه ټولې ليکنې او د ولسي شعرونو نمونې له ځانه سره خوندي کړي، که نوې څېړه پکې وه چې تراوسه په مطبوعاتو کې نه وي معرفي شوي، د همدغه زده کوونکي په نوم دې کومې مجلې يا جريدې ته د چاپ لپاره واستوله شي.

په لوړو غرو د خدای نظر دی
په سر يې واورې وروي چاپېر ګلونه
په اصل څوک نه سړی کېږي
سړی هغه دی چې يې خوی د سړو وينه
په پټ کې تور مسلي ښه دی
بې پته يار که شهزاده شي څه يې کړمه

ketabton.com - The Digital Library

د ښکارندوی بوللـه



ـ په پښتو کې مو کومه بوللـه یا قصیده اورېدلې ده؟

ـ د لرغوني پښتو ادب څومره شاعران پېژنئ؟

په پښتو لرغوني ادب کې د ښکارندوی بوللـه (قصیده) ډېر شهرت لري.

تاسو د پښتو د نورو ټولګیو په لوستونو کې د لرغوني ادب په هکله ډېر څه لوستي دي. دادی په دې لوست کې د ښکارندوی دغه ارزښتناکه بوللـه یا قصیده لولئ او د شاعر په اړه يې بشپړ معلومات ترلاسه کوئ.

ketabton.com - The Digital Library

ښکارندوی د پښتو لرغوني شاعرۍ یوه وتلې څېره ده. هغه په شپږمه هجري پېړۍ کې په غور کې اوسېده. محمد هوتک په پټه خزانه کې د هغه د ژوند لنډ حالات لیکلي او د هغه بوللـه یې په خپل کتاب کې رانقل کړې ده. په ((پټه خزانه)) کې د هغه په باب لولو:

((ذکر د ښکارندوی علیه الرحمه چې د غور و. پوه شه په دې چې شیخ کټه متي زي رحمة الله علیه کښلي دي، په کتاب ((لرغوني پښتانه)) کې چې ((په تاریخ سوري)) کې دي چې ښکارندوی مېشته د غور و او کله کله په غزنه او بست کې هم اوسېدلی. پلار یې احمد نومېد او د غور د فېروز کوه کوتوال و. ښکارندوی د سلطان شهاب الدّنیاوالدّین محمد سام شنسباني په پادشاهۍ کې مخور او د درناوي خاوند و او هغه وخت چې هغه سلطان پر هند یرغل کاوه، ښکارندوی چې شاعر او عالم سړی و، هم د هغه سلطان په لښکر کې و او هسې وایي چې ښکارندوی په مدح کې د سلطان محمد سام او سلطان غیاث الدین غوري د ستاینې قصیدې لري چې بوللې دي. محمد ابن علي وایي چې ما په بُست کې دده د بوللو غټ کتاب ولیدئ او له هغه څخه مې دغه بوللـه چې د محمد سام علیه الرحمه ستاینه ده، وکښله.))

په پټه خزانه کې د ښکارندوی راغلې بوللـه (قصیده) داده:

د پسرلي ښکلونکي بیا کړه سینګارونه
بیا یې ولونل په غرونو کې لالونه
مځکه شنه، لاښونه شنه، لمنې شنې شوې
طیلسان زمردي واغوسته غرونه
د نیسان مشاطې لاس د مچېدو دی
مرغلرو باندې وښکلل بنونه
د غټولو چندې خاندي و ریدي ته
زرغونو بنو کې ناڅي زلمي جونه
لکه ناوې چې سور ټیک په تندي وکا
هسې وګانل غټولو سره پسولونه

ketabton.com - The Digital Library

مرغلرې چې اورو وخونو لیه
په ځلا یې شوه رانه خپاره دښتونه
زرغونو مځکو کې ځل کا لکه ستوریه
چې پر هسک باندې ځلیږي سپین ګلونه
سپینې واورې ویلېده کاندي بهیږي
لکه اوښې د مین په ګریوانونه
هر پلو رنې والې بهاندې خاندي
له خوښیه سر وهي له سینګرونه
هر پلو د ګلو وږم دی لونلی
ته وا راغله له ختنه کاروانونه
د مسیح په پو به مړو ژوندون بیاموند
پسرلی مګر مسیح شو په پوکړنه
له مړو خاورو یې آغلی ګل راویوست
وچ بیدیا او غر یې کړله جنتونه
سړی جاجي چې رامشت کړ رامشتګرو
ګهیځ چونې چې په بن وکا ږغونه
په بربن چې ږغ د چونیو نغوږېده شي
ته وا چندی سره پیودي اشلکونه
د زلما تاپی راغلی پر جندیو
لکه پېغله غوتی کاندي مکېزونه
د پوپلو مخ سور کړی پسرلي دی
یو د بل په غاړه اچوي لاسونه
د هنداروپه څېر غرونه سپین ورنګن دي
چې پر واورو باندې ځل وکا لمرونه

ketabton.com - The Digital Library

په غورځنګ غورځنګ له خولې ځګونه باسي
لکه شنې هاتي شنې کاندي سیندونه
نه به چونې په ستایه د جنډو مور شي
نه به مور شم د سلطان په صفتونه
د شنسب د کهاله ختلی لمر دی
د پسرلي په دود ودان له ده رغونه
د ښندو اورو یې درست ایواد زرغون کړ
له قصداره تر دیبله یې یونونه
په زابل چې د بري پر نیلي سپور شي
په لاهور یې د مېړانې ګوزارونه
نه یې څوک مخ ته دري د میرځمنو
نه یې تورې ته ټینګېږي کلک ډالونه
د اسلام د دین شهاب د نړۍ لمر دی
تور ستهان یې کړ رنا په جهادونه
هره پلا چې دی پر هند و سند یرغل کا
رنوي تورې نړۍ په شهابونه
په پسرلي چې یې تېرون په اتک وکا
غاړه غاړه یې تری شوللې زړونه
نه به ده غوندې رونې ستوری په هسک ځلي
که څه پورته شي له غوره ډېر مېړونه
نه به راولي جګړن د سیند په لوړې
نه به بري څوک د هند خپاره ښهرونه
نه به څوک زلمي د غور سره راغونډ کا
د داور تورې به چېرې کا ځلونه

ketabton.com - The Digital Library

يـو خـاونـد شـهـاب الـديـن دی چـې يـې وکـا
پـه هـر لـوري هـر اړخـواد تـه يـرغـلـونـه
پـه جـوپـو جـوپـو جـګـړن يـې هـنـد تـه يـون کا
چـې د غـور بـادار هـمـت وکـا زغـلـونـه
نـن پـه سـيـنـد بـانـدې تـبـرېـدي يـرغـل کـانـدي
پـه پـرتـم يـې زمـري ريـږدي پـه ځـنـګـلـونـه
څـپـان سـيـنـد يـې هـم لـه ډاره ايـلايـي کا
پـر اوږو وړي د غـوريـانـو ښـه ايـړونـه
پـه هـر کـال اټـک دده ښـه راغـلـی کـانـدي
غـوړوي پـه څـنـډو خـپـل پـاسـتـه سـالـونـه
پښتونخوا ښکلي ځلمي چې زغلي هند ته
نـو آغـلـيـه پـېـغـلـې کـانـدي اتـڼـونـه
زرغـونـې خـتـې اخـيـسـتـې وي دې غـرونـو
بـڼ بـيـديـا هـم پـسـولـلـي دي ځـانـونـه
هـر ګـهـيـځ چـې لـمـر څـرکـېـږي لـه خـاتـيـځـه
څـو چـې يـون کـا د لـويـديـځـيـه پـه څـنـډونـه
کـه بـريـځ وي، کـه غـرمـه وي، کـه بـرمـل وي
کـه لـرمـل، کـه لـمـر لـوېـده، کـه تـرمـلـونـه
د شـهـاب جـګـړن بـه نـه کـښـېـنـي لـه زغـلـو
نـه بـه پـرېـږدي دا زلـمـي خـپـل بـهـيـرونـه
زمـری کـلـه کـاږي ځـان لـه يـرغـلـګـربـو
څـو يـې نـه کـا مـات مـتـونـه ورمـېـږونـه
يـا بـه جـګ کـا د بـريـو رپـی هـنـد کې
يـا بـه پـرېـږدي هـم پـه دې چـاره سـرونـه

ketabton.com - The Digital Library

يـــا بـــه وران کـــا بـــودتـــونـــونـــه د بـمـبـنـو
يـــا بـــه ســـره کـــانـــدي پـــه ويـــنـــو ايـــوادونـــه
پـــه رنـــا اوســـــي تـــه تـــل د ديـــن شـهـابـه
نـــوم دې تـــل و پـــر دريـــځ پـــه نـمـزدکـونـه
څـــو رانـــه شـــي ســتـا پـــه تـــوره د هـنـد لـوريـه
څـــو چـــې نـشـت کـــړې لـــه نـــړۍ نـــه بـودتـونـونـه
ســتـا پـــه زهـرمـــه دې خـــاونـــده لـــوی څـښـتـن وي
مـــوږ خـــو ســتـا پـــه مـرسـتـه يـــو نـــه څـــو چـــې يـونـه

د پښتو ادبياتو په تاريخ کې ددې قصيدې په هکله ښه بحث شوی دی او داسې ليکل شوي دي:

د ښکارندوی دا قصيده د پښتو ادب يو شهکار دی او د شاعر مهارت او استادي او د قريحې غښتلوالی او سپېڅلتوب ځنې ښکاري. لومړی مزيت چې په دې قصيده کې ليدل کېږي، د کلام سلاست، بلاغت او رواني ده. شاعر په ډېر مهارت خپل مقصد په ساده عبارت ادا کوي. ډېر پښتو نادر لغات او مواد پکې شته، دا لغات موږ ته دا رابنيي چې پښتو خورا پراخه ژبه وه او اوس يې ډېر پخواني کلمات له رواجه لوېدلي دي، لکه: ختيځ، لويديځ، لرمل، برمل او نور... ښکارندوی چې په دې قصيده کې د پسرلي کوم ښکلی منظر تصوير کړی دی، د وطن له ښکليو دښتو او غرو څخه يې الهام اخيستی دی. له دغې بوللې څخه چې د ښکارندوی له ديوانه پاتې ده، موږ ته رامعلومېږي چې شاعر د ادبي فنونو او بلاغت په اساسونو کې هم پوخ و او دده شعرونه له ښکلو تشبيهاتو او استعارو ډک دي.

ketabton.com - The Digital Library

د متن لنډيز:

ښکارندوی د غور اوسېدونکی و او د پښتو د لرغوني شاعرۍ يوه مخکښه څېره ده. په شپږمه هجري پېړۍ کې د سلطان شهاب الدين غوري په واکمنۍ کې يې د درناوي مقام درلود او هلته پوره مخور و. له ديوان څخه يې يوازې يوه بوللـه (قصيده) د پټې خزانې په روايت تر موږه رارسېدلې ده.

دغه (۴۵) بيتيزه قصيده ډېره پخه او په روانه او خوږه پښتو ويل شوې ده. شاعر پکې د هغه وخت ډېر داسې لغتونه خوندي کړي دي چې اوس يې خلک نه کاروي. له دې کبله د پښتو د معنوي ذخيرې او پانګې له مخې هم مورِ ته ډېره ارزښتناکه ده. د ادبي فنونو او ښکلاوو له مخې هم دغه بوللـه د ډېرې ستاينې او ارزښت وړ ده.

څرګندونې

لرغوني پښتانه: دغه کتاب د پټې خزانې په روايت د شېخ کټه په قلم ليکل شوی دی. پټې خزانې له دغه اثر څخه ډېره استفاده کړې ده. په دې کتاب کې هغه په ډېر درناوي يادېږي، لکه: ((نقل کا زبدة الواصلين شيخ کټه متي زی غورياخيل په خپل کتاب ((لرغوني پښتانه)) کې چې دی نقل کا له ((تاريخ سوري)) څخه...)) دغه کتاب اوس ورک دی.

تاريخ سوري: ((تاريخ سوري)) هم هغه کتاب دی چې د پټې خزانې د روايت له مخې تر په ((لرغوني پښتانه)) نومي کتاب کې ډېره استفاده کړې ده. ليکوال يې محمد بن علي البستي و. دغه کتاب هم اوس ورک دی.

سلطان محمد سام شنسباني (سلطان شهاب الدين) له ۵۶۹ څخه تر ۶۰۲ هـ.ق. پورې د غور او شاوخوا پاچا و چې په معز الدين هم مشهور و او ښکارندوی يې په دربار کې مقرب او د درنښت وړ و. د هند په فتوحاتو کې هم ورسره و، دغه بوللـه يې هم د هغه په ستاينه کې ويلې ده.

ketabton.com - The Digital Library

سلطان غیاث الدین غوري: دی هم د غوري سلسلې واکمن و او ویل کېږي چې ښکارندوی یې ستاینه کړې ده، خو هغه غزلې اوس زمونږ په لاس کې نشته.

قصدار: اوس دغه سیمه په بلوچستان کې واقع ده او خضدار یې بولي.

دیبل: دغه سیمه اوس د سند په وادي کې پرته ده او هلته یوه سمندري بندرګاه وه.

داور: د زمینداور سیمې دي چې دلته یوازې د داور په ښه راغلی دی.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې د ښکارندوی بوللـه په چوپه خوله او دقت له ځانه سره ولولي. ستونزمن لغتونه او بیتونه دې له ځانه سره یادداشت کړي. بیا دې د نوبت له مخې یو یو زده کوونکی خپل ستونزمن لغتونه یا بیتونه خپلو همټولګیوالو ته په لوړ غږ ووایي. د ټولګي له منځ څخه دې بل زده کوونکی په خپله خوښه ځواب ورته واېي. که په ټولګي کې هیچا د ستونزمنو برخو ځواب پیدا نه کړای شو، ښوونکی به یې ستونزې حلوي.

۲ـ د ښکارندوی د بوللې درې درې بیتونه دې په لوړ غږ د یو یو کتار زده کوونکي په نوبت سره وواېي، نور به ورته غوږ غوږ وي.

۳ـ زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځواب وواېي:

- ښکارندوی د کوم واکمن په ستاینه کې شعرونه لیکلي دي؟
- نورکوم مشهور قصیده ویونکي پېژنئ، نومونه یې واخلئ.

کورنۍ دنده

د ښکارندوی دغه بوللـه یو ځل بیا په خپلو کورونو کې په دقت ولولئ او په اړه یې دوه مخیزه لیکنه وکړئ. په بله ورځ یې خپلو همټولګیوالو ته واوروئ.

ketabton.com - The Digital Library

په شعر کې قافيه

تاسو د تېرو ټولګيو په پښتو او دري کتابونو کې د بديع او بيان د بېلابېلو برخو په هکله يو لړ مطالب لوستي دي. په دې لوست کې تاسو ته (قافيه) په يو څه مفصل ډول درپېژنو.

د پښتو شاعرۍ په چوکاټونو کې په غزل، قصيده، مثنوي او نورو بېلابېلو ډولونو کې (قافيه) د ارزښت وړ برخه ده. يوازې په آزاده شاعرۍ کې دې برخې ته پاملرنه ضرور نه ده. په کلاسيکو او عنعنوي شعري فورمونو يا چوکاټونو کې قافيه ډېره مهمه ونډه لري. دلته پرې خبرې کوو.

ketabton.com - The Digital Library

مخکې له دې چې د قافيې په اړه خبرې وکړو، دغه غزل ولولئ. په غزل کې به په اټکلي توګه د قافيې لټه وکړئ. وروسته بيا د قافيې په اړه له زده کو ونکو سره غږېږو.

د کاظم خان شيدا غزل په دې ډول ده:

د شبنم دانه که تخم شي د ګلو — زړه به سور په ديدن نه شي د بلبلو
چې يې نشته لکه ګل ښه رخسارونه — څوک به څه کا تورې زلفې د سنبلو
په څه شان درته بيان سوې طالع کړم — لکه نمر زما جبين دی د داغلو
معطل په عارضه د شام غريب دی — که مې زړه په حلقه بند شو د کاکلو
د آسمان په شانې تېز د فتنو تېغ کړې — صبح و شام ګرځې ښکاره په سرو منګلو

د دريابه له سرد جوشی د حباب زړه چوي
شيدا قطع د اميد بويه له خپلو

په دې غزل کې يوازې قافيه راتر سترګو کېږي. په غزل کې بايد د لومړي بيت (مطلع) دواړه نيم بيتي هم قافيه وي او د نورو بيتونو دويم نيم بيتي ورسره هم قافيه کېږي. په دې غزل کې: ګلو، بلبلو، سنبلو، داغلو، کاکلو، منګلو، خپلو قافيې دي، دې ته د قافيې کليمې هم ويل کېږي. په دې غزل کې له قافيې وروسته، ردیف نه تر سترګو کېږي، خو د کاظم خان شيدا په دې بله غزله کې بيا قافيه او ردیف دواړه شته دي:

هېڅ نقصان د ساده حسن و جمال نشته — د آفتاب په رخسار هم خط و خال نشته
چې بدل يې په کچکول د مهتاب خوان کړ — اعتماد د زمانې په کمال نشته
نښلولی زمانې په کوم سبب يم — لکه ژبه خود زما پر وبال نشته
د کجل لکی يې ګوره شوخې سترګې — په دا هسې خوبی شاخ د غزال نشته
هره لار يې اژدها دی جهان نغري — و بورجل ته يې د هر چا مجال نشته
چې ګره يې د کوکب دکار وانه کړه — ولې نه وايې ناخن د هلال نشته
افروخته وي پکې تل د حسن شمع — د خاطر غوندې فانوس د خيال نشته

شيدا ګوره هر طرف ګلګوني اوښې
هېڅ خندا په دا بهار کې امسال نشته

ketabton.com - The Digital Library

په دې غزل کې: جمال، خال، کمال، بال، غزال، مجال، هلال، خیال او امسال قافیې او ((نشته)) ددې غزل ردیف دی چې په نیم بیتیو کې له قافیې سره نښتی او له قافیې وروسته تکرارېږي. په دې توګه په دغو شعرونو کې قافیه لازمي ده، خو ردیف لازمي نه دی. قافیه او ردیف غزل، قصیدې او نورو ته آهنګ او موسیقیت ورکوي او د وزن په څنګ کې د دوی شتوالي شاعري په سندریز ښایست سنباله کړې ده.

خو قافیه څه ته وایي؟

قافیه هغه یو ډول (یا سره ورته) یا همغږې کلمې دي چې د مصراع په پای کې راځي او تکرارېږي. په قافیه کې مهمه خبره د همغږې ده، هغه کلمې چې دغه همغږي پکې مراعت شوې وي، د قافیې کلمې بلل کېږي. په پورتني لومړني غزل کې: ګلو، بلبلو، سنبلو، داغلو او نور... په دویم غزل کې: جمال، خال، کمال، بال او نور د قافیې کلمې دي.

د قافیې توري بیا د کلمو هماغه برخه ده چې همغږي جوړوي، په پورتنۍ لومړي غزل کې (لو) او په دویم غزل کې (ال) د قافیې هماهنګه (همغږه) برخه ده او له همدې کبله یې د قافیې توري بولي.

د (قافیه) لیکوال په دې اړه وایي:

((قافیه عربي کلمه ده، په لغت کې وروسته ته وایي، په اصطلاح کې هغه علم دی چې د دورونو له وروستیو هم آهنګیو (همغږیو) څخه بحث کوي. یا په بله وینا د بیت د پای کلمه چې شعر وربانديې ختمېږي او اعاده یې په ورپسې بیتونو کې لازمه وي، قافیه بلل کېږي. د نظم اساسي رکن وزن دی او قافیه د شعر اساسي رکن نه ګڼل کېږي، بلکې قافیه د نظم یو عارضي رکن دی، ځکه موږ په ډېرو ژبو کې داسې شعرونه ګورو چې قافیه نه لري (لکه آزاد او سپین شعرونه)).

د نظم د ((دورونو)) په باب باید ووایو چې: دور په لغت کې پېر، دوران، حرکت، څرخېدنه، د یو شي په خپل ځای حرکت او ګرځېدنې ته وایي، په اصطلاح د بیت یا نظم له پیل څخه د لومړۍ هماًهنګۍ تر پای پورې یو دور دی، په مصراع او غیر مصراع بیتونو کې دورونه توپیر پیدا کوي.

که د یو بیت هره مسره (نیم بیتي) قافیه ولري نو دا بیت له دوو دورو څخه جوړ شوی

ketabton.com - The Digital Library

دی او مصراع بیت دی، که د یو بیت هماغه وروستی مسره قافیه ولري نو دا بیت یو دور لري او غیر مصراع دی. ردیف هم په دور کې راځي. د قافیې او ردیف توپیر په دې کې دی چې قافیه تر پای له همغږو (هم آهنګو) تورو او غږونو څخه جوړه وي او معناییز یووالی نه لري، مګر ردیف تر قافیې وروسته په هماغه یوه لفظي او معناییزه بڼه بیا بیا راغبرګږي. په کلاسیکو شعري چوکاټونو کې قافیه لازمي او ردیف لازمي نه وي، خو د همغږی د تکرار او ښکلا لپاره راځي.

((روي)) د قافیې هغه توری دی چې له هغه پرته د قافیې همغږي نه راځي. دا په حقیقت کې د قافیې د همغږی د برخې (کلمې) لومړی توری وي.

په لومړني غزل کې (ل) خپلواک توری دی، خو ورپسې نښتې د (و) توری راځي.

د حرکت له مخې روي دوه ډوله دی:

۱ـ مطلق روي: که چېرې د روي توری حرکت ولري، مطلق روي ورته وایي.

۲ـ مقید روي: که چېرې د روي توری حرکت ونه لري، مقید روي ورته وایي.

هغه قافیه چې ردیف ورپورې نه وي نښتي، مجرده قافیه یې بولي.

د ((قافیه بندی)) یا قافیه جوړونې اصطلاح دیو شمېر هغو ناظمانو لپاره کارول کېږي چې په خپلو نظمونو کې د قافیې کتارولو ته پاملرنه کوي او د شعر هنري او شاعرانه خواو و ته پام نه اړوي. د داسې منظومو ویناو و په اړه کره کتونکي ددې لپاره انتقادکوي چې ځینې ناظمان یوازې د قافیو دکتارولو او سر پر سر راوړلو مهارت لري، خو د خپل شعر هنري جوهر او ارزښت ته لږه پاملرنه کوي.

قافیه دکلاسیکو شعرونو د چوکاټونو لپاره ضروري ده، په دې توګه:

ـ په غزل کې د لومړي بیت دواړه مسرې (دواړه نیم بیتي) هم قافیه وي او د نورو بیتونو وروستني نیم بیتي یې باید له مطلع سره هم قافیه راشي. په قصیده کې هم همداسې ده.

ـ په څلوریزه کې هم د لومړي بیت دواړه نیم بیتي هم قافیه وي او د دویم بیت دویم نیم بیتي همدغه قافیه اخلي.

ketabton.com - The Digital Library

ـ په مثنوي کې هر بيت خپله خپله قافيه لري، يعنې دا چې د يو بيت دواړه نيم بيتي بايد خپله ځانګړې قافيه ولري، خو په عمومي توګه ټوله مثنوي واحد وزن او څېې لري.

د قافيې په هکله د خپل دې بحث په پای کې د پښتو د نوي او معاصر غزل د نومیالي شاعر او غزلبول امير حمزه شينواري يوه غزل راوړو. په يو شمېر اوسنيو غزلو کې په قافيه پسې ترلې رديف يو څه اوږد راځي او د غزل عمومي آهنګ او موسيقۍ ته ښکلا وربښي. د استاد حمزه دغه غزل له قافيې سره نښتی همداسې يو رديف لري:

راشـه مـروره چې بيا روغـه سـره وکـړو　　نن ښه ده له دې چې سبا روغـه سره وکړه
زور د مينې ګوره، که څو روغه زموږ نه وي　　يـو ناڅاپه مـوږ پـه خطا روغـه سـره وکړو
بـې د زړه، د زړه لـپـاره چـرتـه آېينه وي　　ځـه چـې لـه ريـبـاره جـدا روغـه سـره وکړو
خاندو به سحر غوندې خپه يو که خوشحاله　　بـس لکه تـيـاره او رڼـا روغـه سـره وکړو
ښکليه د رقيب په خاموشۍ کې مالګه نشته　　خوښه که وي ستا چې په دا روغه سره وکړو
پسته به قصې د زړه چاودون لکه د ګل کړو　　ځـه چـې د بلبل پـه نـوا روغـه سـره وکړو
اوښکې دتا اوښکې زما، بيادواړه موسکي شو　　بيا په دې برېښنا او ځلا روغه سره وکړو

برند کتل د تا وو، اسويلي د حمزه ښکليه
ځـه چـې د بـلا او بـلا روغـه سـره وکـړو

د متن لنډيز:

د شعر په منظومو ډولونو او چوکاټونو کې (قافيه) خپل خاص ځای لري. قافيه هغه سره ورته او همغږه کلمې او توري دي چې د نظمونو د بيتونو په پای کې راځي او تکرارېږي. د قافيې توري د کلمو هماغه برخه ده چې په يو نظم کې همغږي جوړوي.

په ځينو نظمونو کې قافيه له رديف پرته راځي او په ځينو نظمونو کې په قافيې پسې د رديف برخه هم وي. رديف په يو واحد نظم کې له هرې قافيې سره په ورته ډول تکرارېږي. قافيه او رديف د يو نظم د آهنګ او موسيقۍ د په زړه پورې والي او ښکلا لپاره مهمه برخه ده.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې یو ځل بیا ټول متن په چوپه خوله ولولي او بیا دې د ښوونکي دغو پوښتنو ته ځواب ووایي:

- د کاظم خان شیدا د لومړنۍ غزلې قافیه کومه ده؟
- د دویم غزل قافیه کومه ده؟
- د قافیې او ردیف له مخې د لومړي او دویم غزل ترمنځ څه توپیر شته؟
- قافیه څه ته وایي؟

۲ـ ټول زده کوونکي دې د کاظم خان شیدا او امیر حمزه شینواري غزلونه په وار سره ولولي. بل زده کوونکی دې د هغه په نظر د سختو او ستونزمنو لغتونو د معنا پوښتنه وکړي، د هر زده کوونکي چې یې معنا زده وه، لاس به جګوي او ځواب به ورکوي. د ښوونکي په تائید به یې معنا په خپلو کتابچو کې لیکي.

۳ـ درې تنه زده کوونکي دې په دغو موضوعاتو خبرې وکړي:

- په کلاسیکو شعري چوکاټونو کې د قافیې ارزښت
- ردیف څه ارزښت لري؟
- قافیه بندي یا قافیه جوړونه ولې کره کتونکي انتقادوي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلې خوښې د یو شاعر شعر ولیکي او په هغه شعر کې دې قافیې او ردیفونه په جلا رنګونو وښیي. سبا ته دې پرې په لنډیز سره په ټولګي کې خبرې وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

ادبيات د اسلام د سپېڅلي دين له نظره

د ((ادب)) کلمه ېېلا ېېلې معناګانې او تعبيرونه لري. چا د نفس تاديب او تهذيب بللی او چا د انساني معارف او تجربو زده کړه. ادب په عام مفهوم د انساني ښيګښو ټولګې ته ويل کيږي، خو په ځانګړې معنا، ادب يا ادبيات هغه ويناته ويل کيږي، چې په هنري اغېزمن قالب کې د انساني افکارو، احساساتو او تجربو تعبيرونکې وي. د ((ادب)) کلمه د انساني تاريخ له تګلوري سره يوځای د لوړو، ژورو او ډېر اوږد واټن په وهلو وروستيو پېړيو ته رارسېدلی ده. نن که د چا غوږ ته د ((ادب)) کلمه رسيږي، نو په عام ډول ترې د ((شعراو نثر)) په برخه کې د انسان د ذهني انځور معنا اخيستل کيږي.

ادب خير ښيګڼې او ټولو لوړو ارزښتونو ته د انسان رابلل او له بدو کارونوڅخه د هغه منع کول دي. نيکو او ښو کارونو ته پام اړول او په دې لاره تلل د ادب معنا څرګندوي. د اسلام ستر پيغمبر د ((ادب)) د کلمې دريځ په ډېرو خوږو الفاظو بيان او ډېر ښکلی انځور کړی دی: [ژباړه: قرآن د ځمکې پر مخ د خدای تعالی له خوا خلکو ته د ادب (بلنځای) دی. له دې بلنې څخه زده کړه تر لاسه کړئ.] په دې توګه ((ادب)) او ((ادبيات)) د اسلام په قاموس کې لوړ دريځ لري.

د ((ادب)) لغوي معنا پوهه،فرهنګ،معرفت، غوره لاره، ښه خوی ده. د ((ادب علم)) هغه پوهې ته ويل کيږي، چې د هغې په لاسته راوړنه يوشخص کولای شي سم او ښه شعر ووايي اوښکلی نثر وليکي، سمه او ناسمه خبره يوتر بله توپيرکړي.

د پورته تعريفونو له مخې د ادب د ډګر پوهان د ادب په تعريف اومفهوم کې دوه توکي ډېر اړين بولي، چې مفکوره او فني چوکاټ يا مضمون او هنري بڼه ده. په دې لوست کې د اسلام د سپېڅلي دين له نظره د ادبياتو پر ارزښت او اهميت خبرې کوو.

_ ستاسو په اند څرګند بيان او شعر د انسان پر ذهن څه اغېز کوي؟

ketabton.com - The Digital Library

په اسلام کې د ادب دريځ

يو شمېر ليکوالو او پوهانو اسلامي ادب د اسلامي نړۍ ليد له لوري د اديب پر وجدان د ژوند، هستۍ او انسان د غبرګون هنري تعبيرڅرګند کړی دی. دلته غواړو د اسلامي ادب پر تګلوري اوخوځښت لنډه کتنه وکړو:

هغه مهال چې د نړۍ پر هسک د اسلام ځلند لمر راوخوت، عربي ادبيات په (شعر، نثر او وينا) کې لوړې پوړۍ ته رسېدلی و. شعر او وينا پرعربو هغومره زيات ژور اغېز اوتاثير درلود چې پر روح، روان او د ژوند په ټولو برخو يې برلاسی شوی و. خدای تعالی د خپلې ارادې او حکمت له مخې د عربو منکرو شاعرانو او ادیبانو ته بلنه ورکړه، چې د قرآن د يو ډېر کوچني سورت په څېر يو سورت راوړي، خو هغوی په دې کار ونه توانېدل:[ژباړه: او که تاسې د هغه کتاب په اړه شکمن ياست چې موږ خپل بنده ته نازل کړی، نو د هغه غوندې يو سورت راوړئ ... البقره سورت: ۲۳]. داکار له يوې خوا د الهي کلام د اعجاز د اثبات او وروستني پيغمبر د رښتينولۍ د تاييد اوتاکيد لپاره د عربو وينا والو اوپوهانو ننګونه وه، له بلې خوا يې اسلام ته د فصيحې وينا او لوړو ادبياتو ارزښت او اهميت څرګندکړ.

لوی خدای جل جلاله د اسلام ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته لارښوونه وکړه چې د ويناپر وسلې ((د قرآن پر کلمې)) له مشرکينوسره جهاد پيل کړي. [ژباړه: د قرآن (په وسله) له هغوی سره په ستر جهاد،جهاد وکړه: د فرقان سورت، ۵۲ آيت] د عربو په فکري او ټولنيز ژوندکې شعر او وينا زيات اغېز درلود. له همدې امله له مشرکينو سره د مبارزې او مقابلې په ډګر کې د اسلام د ستر پيغمبر شاعران او وينا وال پر خپلو سيالانو برلاسي کېدل. په يوه فکري او ادبي مبارزه (شعر او وينا) کې د تميم د لويې قبيلې د پلاوي مشر، اقرع بن حابس اعتراف وکړ او ويې ويل: ((په پوره باور دا سړی (پيغمبر صلی الله عليه وسلم) منصور او تاييد شوی دی، ځکه وينا وال يې زموږ د وينا وال په پرتله څرګند غربېږي او شاعر يې زموږ له شاعرڅخه تکړه دی.)) هغه له خپل قوم سره يوځای د اسلام په سپېڅلي دين مشرف شو.

په دې ډول شعر او ادب د نبوت په پېر او له هغه راوروسته د راشده خلفاوو په زمانه کې داسلام د زده کړو او ايماني اخلاقوپه سيوري کې پرمخ لاړ. د اسلام د صدر د پېر د ادیبانو اوشاعرانو په زړونو کې يې ځای ونيو. د هغوی په شعرونو او اثارو کې د حماسي قصيدو، اسلام ته د بلنې، د اسلامي ارزښتونو پر ويارنې، د ستر پيغمبر پر صفت او نعت، د اسلام د

ketabton.com - The Digital Library

شهیدانو په ویر، د خدای پر نعمتونو د شکر او نورو بنو وځلید. په دې پرا و کې د جاهلیت د پېر د شعر او ادب مضمون، چې پر مال او شتو، نژاد او قبیلو ویاړنه وه او لوخ او لغړ غزل پکې دود درلود، له منځه لاړ او ځای یې نیکو اخلاقو او انساني او اسلامي لوړو ارزښتونو ونیو. ادب اوهنر د اسلامي تمدن په لمن کې د انساني لوړو ارزښتونو په توګه وده وکړه او د اسلام او بشري تمدن پر مخ داسې څرګند او ښه وځلېد، چې په فرهنګي ډګر او فرهنګي زېرمو کې د انساني بریاو و او ویاړنو څه ویل له اسلامي ادب او هنر پرته ناشوني او ستونزمن کار وو. له بده مرغه دې دود او لاړې د تاریخ په اوږدو کې خپل اصلي تګلوری بدل کړ. د اسلامي ادبیاتو د کمزوري کیدو له امله هنر او ادب زیاتره انساني لوړ ارزښتونه له لاسه ورکړل. اوس ددې مهال رارسېدلی چې پر هغې یو ځل بیا له سره غور وشي،ترڅو خپله لاره بیاموميې او په خپلې اصلي څېرې او بڼې د هنر او ادب ډګر ته راووځي.

د اسلامي ادب ځینې ځانګړتیاوې:

په راوروسته پېړیو، په تېره بیا د شلمې پېړۍ په پیل کې دکلاسیک، رومانتیک، ریالیستي، لیبرالي ... ادبیاتو په څېر بېلا بېل ادبي مکتبونه رامنځته شول. دا ادبي مکتبونه هر یو خپلې ځانګړتیاوې لري، چې د هماغه ډلو ټپلو عقېدې او نظریې خپروي، ځکه ادب او هنر د عقیدو او مختلفو فلسفي افکارو د خپرلو وسېله ده.

د اسلامي لیکوالو او پوهانو له مخې اسلامي ادبیات هم خپلې ځانګړتیاوې لري او په دې توګه له نورو ادبي مکتبونو سره توپیرپیداکوي.. دا ځانګړتیاوې له اسلامي عقېدې اوفکر څخه سرچینه اخلي تر هغه چې د اسلامي ادبیاتو صفت بیاموميې.

اسلامي ادب زیاتې ځانګړتیاوې لري. یو څو یې لاندې راوړل کیږي:

۱_ عقیدوي او اخلاقي مسؤولیت

د اسلامي ادبیاتو لومړنۍ ځانګړتیا د ((مسؤولیت)) منل دي. په دې معنا چې اسلامي ادب د اسلامي عقیدې پر بنسټ ولاړ دی او انسان، هستۍ او ښکلا ته د اسلامي نړۍ لید له لوري ګوري اوهمدا فسلفه یې بنسټ جوړوي.

۲_ دنده او رسالت

اسلامي ادب څرګنده موخه اوهدف لري، چې د اسلام له حقیقت څخه سرچینه اخلي. یعنې مسلمان شخص داسې وینا او عمل نه کوي، چې په هغې کې د چا ګټه او موخه نغښتې نه

ketabton.com - The Digital Library

وي. مسلمان اديب نه غواړي خپل وخت خوشې له لاسه ورکړي او يا د بل چا وخت بې ګټې تېرکړي.

۳ـ بشپړتيا او هراړخيزوالی

اسلام انساني نفس او روان ته هراړخيزه کتنه کوي او په دې باور دی چې انسان له بدن او روح دواړو څخه جوړ دی. په دې توګه اسلامي ادب د انسان ټولو اړخونو ته پام کوي او تر ارزوني لاندې يې نيسي، ترڅو په هغه کې انسجام، توازن او همغږي رامنځته کړي.

۴ـ رښتينولي

اسلامي رښتينولي د لويديځ د ريالیزم د ادبي مکتب په څېر نه ده چې انسان د مادیت په تنګ چاپېريال کې ساتي او انساني ژوند د هغه د زمان او مکان په ژوروالي او اوږدوالي کې له یاده باسي. بلکې د اسلامي ادب رښتينولي انسان د هغه دکمزورو اړخونو او نامنلو کړنو سره یوځای په پام کې نيسي. خو دا حالتونه د لوېديځ ريالیستي ادب په څېر تلپاتي نه ګڼي. ځکه د اسلامي ادبياتو له مخې د انسان کمزوري او کړلېچ د تکامل وړ دی او هنر په دې برخه کې بنسټيزه او مهمه ونډه لري.

۵ـ رغندتوب او مثبت لوري ته کتنه

د اسلامي ادب بله ځانګړتيا مثبت لوري ته د انسان کتنه او مخ پر ودې فعاليت دی. ددې ځانګړتيا اصلي ريښه د اسلام په اصلي مبادي کې نغښتې ده. ځکه اسلام د انسان کمزوري، ښويېدل او ګناه کول مني. لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: [ژباړه: انسان کمزوری پيدا شوی دی. النساء ۲۸] خو له دې ټولو کمزوريو او ګناهونو سره سره بيا هم اسلامي ادب په دې حالت کې د انسان لاس نيسي او د کمزوری او نهيلی له کندو يې راباسي او د پياوړتيا او نېکمرغۍ په لور يې بيايي.

ادب د فضيلت په خدمت کې

اسلام ((ادب د ادب لپاره)) او ((هنر د هنر لپاره)) څرګندونې نه پېژني، بلکې هنر او ادب د انسان او د هغه ټولنې د خير، فضيلت، ښيګڼې، ژمنې او خدمت يوه لار بولي. سپېڅلي قران مؤمن او ژمن شاعران د بېباکه، ناڅرګندو او بې ماهيته شاعرانو له ډلې څخه بېلوي او ستايي يې: [خو هغه کسان (دروغجن او لار ورکي شاعران نه دي) چې ايمان يې راوړی او ښه کارونه

ketabton.com - The Digital Library

سرته رسوي او خپل خداى ډېر يادوي... الشعراء ۲۲۷]

د اسلام ستر پيغمبر د وينا ښکلا او د شعر حکمت ستايلى او د شعر د اغېز په اړه يې خپل احساسات څرګند ګړي دي: [ژباړه: ښه وينا د سحر په څېر اغېزکوي.] او [ځيني اشعار له حکمت څخه ډک دي.]. هغه خپل شاعران راوبلل چې د شعر او ادب وسله د اسلامي ارزښتونو او د اسلامي ټولنې د واکمنۍ او برلاسۍ لپاره وکاروي. په دې اړه يې حسان بن ثابت رضى الله تعالى عنه ته وفرمايل، چې د مشرکينو شعرونو ته په ښو او لوړو شعرونو ځواب و وايي.

د متن لنډيز:

لکه څنګه چې څرګنده ده شعر او ادب د يوې ټولنې د ويښتيا اوبيدارۍ ستر لامل دى. د يوې ټولنې فرهنګ د هغه ټولنې د شاعرانواو ليکوالو په شعرونو او ليکنو کې غبرګيږي. همدا راز شعر او ادب دى چې د يوې ټولنې تګلورى ټاکي. ښو ته ښه اوبدو ته بد وايي. له نېکه مرغه اسلامي شعر او ادب پېړۍ، پېړۍ راهيسې زموږ د ګران هېواد افغانستان په فرهنګ کې ژورې ريښې ځغلولي دي اوزموږ پر ټولنې يې دروند اغېز کړى دى . زموږ په اسلامي او افغاني ټولنه کې داسې ليکوال اوشاعران تېر شوي او شته چې د اسلامي لارښوونو او ارشاداتو په رڼا کې يې روان ټولنيزحالت څېړلى، خلکو او ولس ته يې د هغوى د نېکمرغۍ او فلاح لاره ښودلې، د ظالمانو ظلم اود حکمرانانو ناروا کارونو ته يې بد ويلي او مظلوم ته يې د ظالم له منګولو څخه د خلاصون لارې چارې ښودلې دي. ځوانو شاعرانو او ليکوالو ته لازمه ده د علم او پوهې په داسې ګانو ځانونه سمبال کړي چې دنيوي او اخروي نيکمرغي يې پکې نغښتې وي. د شعر له ليکلو او ليکوالۍ څخه يې موخه د وخت تېرول او د لوستونکو د وخت زيانول نه وي، د شعرمضمون او محتوا يې رغنده وي، څرګند پيغام ولري او د انساني او اسلامي ارزښتونو په پام کې نيولو سره خپله ټولنه د خير او فلاح لوري ته رهنمايي کړي. دا حقيقي اسلامي ادب دى او همدا رغنده لار ده.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې د بېلا بېلو ادبي مکتبونو نومونه واخلي او له اسلامي ادبیاتو سره دې پرتله کړي.

۲ـ دوه تنه زده کونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او د اسلامي ادبیاتو څو ځانګړتیاوې دې بیان کړي.

۳ـ درې تنه زده کوونکي دې د ټولنې په ویښتیاکې د رغنده ادبیاتو رول او ونډه څرګنده کړي.

۴ـ مبتذل هنر او ادب څه شی دی؟ دوه تنه زده کوونکي دې د نورو په وړاندې پرې خبرې وکړي.

۵ـ فصاحت او بلاغت په ویناکې څومره ارزښت لري؟ یو تن زده کوونکی دې پرې خبرې وکړي.

۶ـ ((ادب د ادب لپاره)) تیوري څه معنا لري؟ دوه تنه زده کوونکي دې نورو ته خپل نظر څرګند کړي.

۷ـ زده کوونکي دې سوچ وکړي چې ادبیات (شعر او نثر) او رسنۍ د یوې ټولنې په پرمختګ او سوکالۍ کې څه ونډه لري. بیا دې خپل نظر په وار نورو ته واوروي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د اسلامي ادبیاتو د اهمیت او ارزښت او د خلکو پر ویښتیاکې د هغه د رول په اړه دوه مخه لیکنه وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

د خوشحال بابا دستارنامه





خوشحال خان خټک

تاسو به د خوشحال خان خټک دغه شعر خامخا اورېدلی وي:

چې دستار ترې هـــزار دي
د دستار سړي په شمار دي

پر دغه شعر يو کتاب خبرې کېدای شي او له نېکه مرغه خوشحال بابا پرې يو ځانګړی کتاب هم ليکلی دی چې ((دستار نامه)) نومېږي. تاسو د خوشحال بابا په باب مخکې پوره معلومات ترلاسه کړي دي، په دې لوست کې د هغه د ((دستار نامې)) په باب بشپړ معلومات ترلاسه کوئ او په پښتو ادب کې يې پر ارزښت خبرېږئ.

_ د خوشحال بابا کوم کوم آثار مو تراوسه لوستي دي؟

_ د پښتو د پخواني نثر په باب څومره معلومات لرئ او کوم کوم کتابونه يې پېژنئ؟

ketabton.com - The Digital Library

خوشحال خان خټک د خپل ارزښتناک شعري ديوان په څنګ کې يو شمېر نور کتابونه هم ليکلي دي. د پښتو شعر د ودې او پياوړتيا د ستر کار په څنګ کې خوشحال بابا د پښتو نثر په وده او پرمختګ کې هم نه هېرېدونکی خدمت کړی دی.

((دستارنامه)) د خوشحال خان خټک هغه اثر دی چې په پښتو نثر يې ليکلی دی. دغه منثور اثر په ۱۰۷۶ هـ. ق. کال کې خوشحال بابا د هند د رنتبور په زندان کې ليکلی دی. دغه وخت هغه د مغولي واکمن اورنګزېب په امر په رنتبور کې بندي و. خپله خوشحال بابا وايي چې په دې وخت کې دی په زندان کې يوازې و او هېڅ کتاب ورسره نه و چې ګټه تري واخلي او له خپل هېواد څخه د فراق په حال کې يې د دوستانو، يارانو او زامنو د استفادې لپاره ليکلی دی. د کتاب د ليکلو نېټه يې په دې مسرې کې ښودلې ده:

بس دی محنت د بېلتانه

چې ددې کلمو ابجدي ارزښت (۱۰۷۶) کېږي.

د خوشحال خان خټک دغه کتاب په حقيقت کې د مشرتوب لپاره د يو لړ شرايطو ښودل دي، دا هغه شرايط دي چې خوشحال بابا يې په يوه ټولنه کې د مشر لپاره يادول او يا لرل لازمي ګڼي. دا د دستار د ايښودلو، د مشرتوب د لرلو شرطونه دي.

په ((دستارنامه)) کې له سريزې وروسته په دوو بابو يا څېرکو کې د مشرتابه لپاره د شلو هنرونو او شلو خصلتونو يا ځانګړنو لرل تشريح شوي دي. دغه شل هنره او شل خصلته په دې ډول راغلي دي:

اول هنر د ځان د پېژندګلوی، دويم هنر د علم چې کسب کمال باله شي، دريم هنر د خط، څلورم هنر د شعر د نظم، پنځم هنر د تير اندازی دی، شپږم هنر د آب بازی، اووم هنر د آسب تازی، اتم هنر د ښکار، نهم هنر د شجاعت، لسم هنر د سخاوت، ورکول، پخول، يوولسم هنر د معاشرت، دولسم هنر د اولاد د تربيت دی، ديارلسم هنر د تاديب د خدم، څوارلسم هنر د اسباب د معشيت، پنځلسم هنر د زراعت، شپاړسم هنر د سوداګری د تجارت، اوولسم هنر د تحقيق د نسب، اتلسم هنر د علم موسيقي، نولسم هنر د نرد د شطرنج دی، شلم هنرد نقاشی د تصوير دی.

د خصلتونو په باب کې دغه شل ځانګړنې لازمې بلل شوې دي:

اول خصلت د مشورت دی، دويم خصلت د عزم، دريم خصلت د خاموشی دی، څلورم

ketabton.com - The Digital Library

خصلت د راستی، پنځم خصلت د شرم د حیا دی، شپږم خصلت د خلقت دی، اووم خصلت د مروت دی، اتم خصلت د عفو و کرم، نهم خصلت د تمیز د تانی، لسم خصلت د عدل د انصاف دی، یوولسم خصلت د توکل دی، دولسم خصلت د تربیت، دیارلسم خصلت د خوف د رجاء دی، څوارلسم خصلت د ملک د انتظام، پنځلسم خصلت د همت دی، شپاړسم خصلت د حلم، اوولسم خصلت د غیرت دی، اتلسم خصلت د حزم د احتیاط، نولسم خصلت د طاعت او شلم خصلت د استغفار.

اروابنـاد پوهاند عبدالحی حبیبي د خوشحال خان ختک د دستارنامې په باب وایي:

خوشحال خان د دستار نامې په لیکنه کې یو مهم کارکړی او هغه دادی چې ده د پښتو د نثر لیکلو کلک بنسټ په دې کتاب کې پر ساده او روان نثر باندې ایښی دی. د پښتو نثر لرغونې نمونه چې مورږ پیدا کړې ده، د کندهار د ارغسان د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیاء یو څو پاڼې دي چې د تالیف کال یې ۶۱۲ هـ. دی او دغه لیکوال ډېر روان،روښانه او بې تکلفه نثر لیکلی دی او داترې څرګندېږي چې د پښتو نثر د مغولو تر دورې دمخه ساده او روان و. کله چې بایزید پیر روښان د ۹۷۰ هـ. په شاوخوا کې خپل خیر البیان لیکه نو مبهمې او تصنعي جملې یې پکې کارولې او تر ده وروسته بیا نورو لیکوالو (لکه اخوند درویزه او نورو) هم دده پیروي کوله، څرنګه چې دغه ډول نثر په پښتو کې کوم ادبي او هنري ارزښت او ښایست نه لري، نو ځکه خوشحال خان د پښتو نثر لیکنې هغه ستونزمنه لاره پرېښوده او پښتو نثر یې د ساده، روانې او خوږې پښتو لارې ته برابر کړ.

خوشحال له افغاني دودونو سره سم دستار د انسان د لیاقت او استعداد سمبول ګڼي او پګړۍ د اداري او د اجتماعي ښېګڼې د قوت لپاره یو تعبیر بولي. تاریخي روایتونه دا خبره ثابتوي چې ددې سیمې خلکو په اداره، سیاست او اجتماعي اخلاقو او جهانداری کې ځینې پاخه اصول او فکرونه درلودل.

اروابنـاد پوهاند صدیق الله رښتین هم د خوشحال بابا د نثر په اړه لیکي:

خوشحال خان ختک څنګه چې د شعر په نړۍ کې د لوی نوم او شهرت خاوند دی، دغسې د نثر په جهان کې هم یو تکړه پهلوان ګڼل کېږي. په یوولسمه پېړۍ کې چې د پښتو نثر په باغ و بن د قافیه وال نثر کومه څپه راغلې وه او پښتو نثر یې له روانۍ او سادګۍ ویستلی و، د خوشحال په وخت کې هغه باغ و بن بیا تازه ګي ومونډله او د پښتو نثر له منځه د قافیې او

ketabton.com - The Digital Library

سجع تکلف لېړي شو. ددې کار لومړی ښېرغ د خوشحال په لاسو پورته شو. ده په خپلو اثرونو کې د عادي روان او ساده نثر لیک ډول پیدا میدان ته راوویست او د روښان او درویزه د نیم منظوم نثر سلسله يې وشلوله. لکه څنګه چې خوشحال په منځنۍ دوره کې د پښتو شاعرۍ، په تېره د قومي، ملي او حماسي شاعرۍ پېښوا ګڼل کېږي، دغسې د نثر په ډګر کې هم د يو لارښود او مؤسس په نامه يادېږي.

په دستارنامه کې سیاست، تدبیر، اخلاق، پوهه او پښتونولي دا ټول يو ځای شوي دي او د پښتو په ښایسته جامه کې يې ځان ښکاره کړی دی. په دستارنامه کې ځای په ځای پښتو شعرونه، پارسي بیتونه او عربي عبارتونه هم راغلي دي چې هغه پرې خپل مطلب ثابتوي. دلته د دستارنامې د نثر د بېلګې لپاره د (څلورم هنر د شعر، د نظم) د سرلیک يوه برخه لولو:

((دا هنر چې د شعر د نظم دی، هم داخل د کسب کمال دی، اما مشتق دی له شعوره چې جبلي طبیعت د شعر لري، شعر د هغه دی. فنونه، صنعتونه يې په کسب حاصلېږي. که ډېر تحصیل د علم وکا، صنایع، بدایع د شعر زده کا، چې طبیعت د شعر جبلي نه لري، خبره به نظم نه کا. د شعر هم جبلي طبیعت بویه، هم يې علم د صنایع بدایع بویه، چې واړه زده کا، سوای تر دا نمک، شیریني د شعر تعلق په درد په محبت لري، چې پخته ګي يې په استعمال. در اصل شعر په لغت کې کلام منظوم و ته وایي، دواړه مصراع د بیت په ټول تللې، په حرفونو سره سمې، عروض قافیه سره جوړ...

د شعر طبیعت په مثال د تونډ باد دی. لویې ونې طاقت لري چې ورته ودرېږي او که نه چې بنیاد محکم نه لري، هغه ونې له ویخه نړوي. قوت د علم بویه چې وښ يې پرې محکم وي او کنه، بې افت، مضرت به پاته نه شي، چې بې علم شعر وایي څو نقصانه لري:

اول خو به يې درست ونه وایي. د شعر د عیب جاسوسان ډېر دي، ځان به د خندا کا. بل دا چې که فقط د شعر بدایع صنایع د عروض علم زده کا، قوت يې د نور علم نه وي، خطا به ورځنې واقع شي، ایمان به بای کا. بل دا چې د شعر مستي ډېره ده، چې تاب يې د مستۍ د علم په زور رانه وړي، مخبط به شي، که له دې واړو کارونو تېر، کمال يې حاصل، هغه سړی که شعر وایي، هغه علم، حکمت، فضیلت دی، و هغه وته که رخصت نه دی هم رخصت دی.))

ketabton.com - The Digital Library

د متن لنډيز:

خوشحال خان خټک د مهمو منظومو آثارو تر څنګ په نثر هم يو شمېر غوره کتابونه ليکلي دي. په دې لړ کې ((دستار نامه)) په ځانګړې ډول د يادونې وړ ده. دستار نامه خوشحال بابا د هندوستان د رنتبور په زندان کې په ۱۰۷۶ هـ. ق. کال هغه وخت ليکلې ده چې د مغولي مستبد واکمن اورنګزېب له خوا هلته بندي و. په زندان کې ورسره کتابونه نه وو او دغه مهم اثر يې له خپلې حافظې څخه ليکلی دی. د نورو آثارو بيتونه يې هم له خپلې حافظې پکې نقل کړي دي.

دستار نامه د پښتو نثر په وده کې ډېر ارزښت لري. د هغه نثر روان، ساده او ښکلی دی. په دستارنامه کې د پښتو نثر يوه ځانګړې تېره ايښودل شوې ده.

څرګندونې

ـ رنتنبور: په هندوستان کې د هغه وخت يو مشهور زندان و چې خوشحال بابا پکې بندي و.

ـ ابجد: د شمېر يو ځانګړی ډول دی. زمونږ په کلاسيکه شاعرۍ کې د وخت او نېټو د ټاکلو لپاره ترې ګټه اخيستل کېدله. داسې چې هر توری د يو عدد (شمېر) لپاره ټاکل شوی دی. کله چې د يو بيت توري ددغو ټاکلو عددونو په شمېر سره جمع شول نو يوه ځانګړې نېټه يا کال ترې جوړېږي. د ابجد ټول توري داسې دي: ابجد هوز حطی کلمن سعفص قرشت ثخذ ضظغ. او شمېر يې داسې دی:

ا	ب	ج	د	هـ	و	ز	ح	ط	ی
۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰

ketabton.com - The Digital Library

ک	ل	م	ن	س	ع	ف	ص	ق	ر
۲۰	۳۰	۴۰	۵۰	۶۰	۷۰	۸۰	۹۰	۱۰۰	۲۰۰
ش	ت	ث	خ	ذ	ض	ظ	غ		
۳۰۰	۴۰۰	۵۰۰	۶۰۰	۷۰۰	۸۰۰	۹۰۰	۱۰۰۰		

۱ـ زده کو ونکي دي ددې لوست یو یو پراګراف په لوړ غږ ولولي. نور زده کو ونکي دې ورته غوږ شي. په هر پراګراف کې دې یو بل زده کو ونکی یوه پوښتنه جوړه کړي او له همدې زده کو ونکي څخه دې یې وکړي چې متن یې لوستی دی. داکار دې په ټول لوست کې تکرار شي.

۲ـ ګرامري برخه: زده کو ونکي دې په دریو ډلو وویشل شي:

الف: لومړۍ ډله دې ددې متن خاص نومونه له ځانه سره ولیکي.

ب: دویمه ډله دې عام نومونه یادداشت کړي.

ج: دریمه ډله دې ددې متن صفتونه یادداشت کړي.

د: هره ډله دې خپل خپل لیست ولیکي او ټول دې یې په ګډه لیست بشپړ کړي.

۳ـ د ابجد د تورو د شمېر په باب دې زده کو ونکي یو له بله پوښتنې وکړي.

۴ـ څو تنه زده کو ونکي دې د دستارنامې په باب خبرې وکړي.



زده کو ونکي دې د دستارنامې هغه نثر چې ددې لوست په پای کې راغلی دی، په غور ولولي او بیا دې د شعر او نظم په باب د خوشحال بابا خبرې په خپلو خپلو عبارتونو ولیکي.

ketabton.com - The Digital Library

پښتو قلمي پانګه

د پښتو ژبې د کتابونو قلمي پانګه زمونږ د کلتوري او ادبي ميراث يوه ډېره ارزښتناکه برخه ده. دا په پښتو ژبه د لاسکښلو (قلمي) کتابونو هغه نسخې دي چې د تېرو اوږدو کلونو په لړ کې ليکل شوي، په ښلابښلو وختونو کې د ښلابښلو کاتبانو يا خطاطانو له خوا خطاطي شوي دي او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په ښلابښلو هېوادونو کې په ملي کتابتونونو يا ارشيفونو او يا د ځينو کسانو په ځانګړو (شخصي) کتابتونونو کې د قيمتي آثارو په توګه ساتل کېږي.

په دې لوست کې په افغانستان، پښتونخوا او ټوله نړۍ کې د پښتو ددغې ارزښتناکې علمي، ادبي او کلتوري پانګې په اړه تاسو ته ګټور معلومات وړاندې کېږي. ددغې پانګې د ارزښت او اهميت په اړه به تاسو ته يو شمېر ټکي روښانه شي.

ketabton.com - The Digital Library

قلمي پانګه هغو نسخو يا کتابونو ته ويل کېږي چې په لاس ليکل شوي او خطاطي شوي وي. دغه کتابونه يا قلمي نسخې ددې په څنګ کې چې ځينې يې د خطاطۍ د هنر ښکلې نمونې لري، زمونږ د ولس او ژبې د علمي او ادبي شتمنۍ غوره پانګه يې هم په خپلو پاڼو کې خوندي کړې ده.

له بده مرغه د پښتو ژبې ددغې ارزښتناکې قلمي پانګې ډېره زياته برخه د زمانو د ناوړه حالاتو او شرايطو له کبله له منځه تللې ده، خو هغه برخه چې موږ ته راپاتې ده او د زمانې توپانونو له ځانه سره نه ده وړې، دغه برخه هم ډېره ارزښتناکه ده. که موږ ښه ځير شو، نو هغه حالات او شرايط په ښه توګه ځانته څرګندولای شو چې زمونږ ددغې مهمې ادبي او کلتوري پانګې ډېره برخه يې تباه کړې، سوزولې او تر خاورو لاندې کړې ده. دلته ځينو هغو لاملونو ته تم کېږو چې زمونږ دغه غوره پانګه د زمانو په اوږدو کې څنګه له تباهۍ او تري تم کېدو سره مخامخ شوې ده:

۱ـ زمونږ په ولس کې د زده کړې او سواد د کچې ټيټوالی ددې لامل شوی دی چې خپله زمونږ خلک خپلې دې پانګې ته پاملرنه ونه کړي. له بده مرغه زمونږ خلک د خپلې ژبې د مهمو قلمي کتابونو ساتلو او خوندي کولو ته نه دي متوجه شوي. وخت په وخت يې له لاسه وتلي، په قبرونو او سمڅو کې يې تر خاورو لاندې کړي او آن سوزولي يې دي.

۲ـ د کورنيو جګړو او بهرنيو يرغلونو په لړکې جنګ جګړو هر څه تباه کړي دي. ددغو جنګ جګړو اورونو زمونږ ډېر ادبي او کلتوري ميراثونه او په دې لړکې زمونږ د ژبې ډېر قلمي کتابونه له منځه وړي او تباه کړي دي.

۳ـ له بده مرغه موږ د اوږدو ناخوالو بهيرونو هم د خپلو کلتوري او ادبي ميراثونو راټولولو او تنظيمولو ته نه يو پريښي. اوس به هم د افغانستان او پښتونخوا په ګوټ ګوټ کې ډېر داسې قلمي کتابونه موجود وي چې موږ ترې نه يو خبر، يا به د کورونو، حجرو او جوماتونو په کونجونو کې پراته وي او يا به په قبرونو او سمڅو کې خاورو او چينجو خوړلي او يا نيمه سلامت پراته وي، خو خپل ولس به يې ترې نه وي خبر.

ketabton.com - The Digital Library

د شتو معلوماتو له مخې په افغانستان، پښتونخوا او د نړۍ په جلا جلا برخو کې د پښتو ژبې هغه قلمي کتابونه چې له پورته یادو شوو ناخوالو څخه روغ پاتې او یا یې تراوسه پورې موږ ته پته لګېدلې ده، دغه اثار او کتابونه هم د پښتو د سترو او ارزښتناکو علمي، ادبي پانګو په توګه د پاملرنې وړ دي.

تراوسه پورې د درې زرو په شاوخوا کې د پښتو قلمي کتابونو څرک لګېدلی دی، دا د داسې یو ولس لپاره چې د ژوند ډېره برخه یې په جنګ جګړو کې تېره شوې او نورې خونړۍ پېښې او تاراکونه پرې راغلي دي، یوه وياړلې فرهنګي- ادبي پانګه ګڼل کېږي.

د پښتو ددغو قلمي کتابونو او نسخو په اړه زموږ یو شمېر پوهانو او یو شمېر بهرنیو څېړونکو پلټنې کړې او خپرې کړې دي. د افغانستان نومیالي لیکوال څېړندوی حبیب الله رفیع د پښتو قلمي پانګې د راپېژندلو لپاره د ستاینې وړ کار کړی خو لا تراوسه نه دی خپور شوی. په دې لړ کې یو شمېر کتابونه خپاره شوي او په هند، انګلستان، روسیې، افغانستان او پښتونخوا کې یې یو شمېر پښتو قلمي کتابونه راپېژندلي دي.

د هغو معلوماتو له مخې چې اوس زموږ په واک کې دي، تر ټولو زیاتې قلمي نسخې د پېښور په پښتو اکاډمۍ کې خوندي دي چې شمېر یې (۵۲۰) نسخو ته رسېږي. ورپسې د افغانستان د علومو اکاډمۍ کتابتون راځي چې (۱۷۷) پښتو قلمي کتابونه پکې ساتل کېږي. د افغانستان په ملي ارشیف کې (۱۲۶) نسخې خوندي دي.

په بهرنیو هېوادونو کې تر ټولو زیاتې پښتو قلمي نسخې د انګلستان په کتابتونونو کې خوندي دي چې شمېر یې (۱۶۹) نسخو ته رسېږي. د هند په کتابتونونو کې (۱۴۴) او د پخوانۍ شوروي په کتابتونونو کې (۵۰) نسخې خوندي دي.

له دغو رسمي کتابتونونو چې راتېر شو په یو شمېر شخصي کتابتونونو کې هم زیات شمېر ارزښتناک پښتو قلمي کتابونه ساتل کېږي.

د پښتو قلمي نسخو په فهرستونو کې ډېر مهم کتابونه راتر سترګو کېږي چې یو شمېر یې زموږ د لرغوني او کلاسیک ادب ډېر مهم کتابونه ګڼل کېږي.

په دغو نسخو کې د تالیف له مخې ډېره زړه نسخه د سلیمان ماکو ((تذکرة الاولیاء))

ketabton.com - The Digital Library

ده چې تر ۶۱۲هـ. ق. کال وروسته تالیف شوې ده. د کتابت له مخې ډېره زړه نسخه د پیر روښان ((خیر البیان)) ده چې په ۱۰۶۱هـ. ق. کال کې خطاطي شوې ده.

د شتو معلوماتو له مخې د پښتو قلمي پانګې په لړکې هغه اثر چې ډېرې زیاتې نسخې یې په لاس کې دي د اخوند درویزه ((مخزن الاسلام)) دی چې تر ۳۰۰ زیاتې نسخې یې پیدا شوې دي.

په دغو نسخو کې مهمې مصورې نسخې د رحمان بابا دیوان او د سکندر خان ((لیلی او مجنون)) دی چې په سو ونو تصویرونه لري. ډېرې نفیسې او هنري نسخې د خوشحال بابا دیوانونه، د مصري خان ګګیانې د دیوان، د سکندر خان د دیوان او ګنې نورې نسخې دي چې په ښکلي خط کښل شوې دي. دغه راز ډېرې قیمتي نسخې د خوشحال خان خټک د خپل لاس لیکلی دیوان دی چې پر ۱۰۹۹هـ. ق. کال یې کتابت کړی او دغه راز د محمد هوتک پټه خزانه ده چې په ۱۳۰۳هـ. ق. کال کې یې کتابت ترسره شوی دی.

په دغو نسخو کې یو شمېر نسخې چاپ او خپرې شوي دي، خو یو زیات شمېر دغه قلمي نسخې او کتابونه تراوسه پورې لا د چاپ په ګاټه نه دي سمبال شوي. که دغه نور مهم آثار هم چاپ او خپاره شي نو زموږ د ولس سترە ادبي، علمي او کلتوري پانګه به د ټولو لاسونو ته وروړسېږي.

د متن لنديز:

پښتو ژبه یو زیات شمېر قلمي نسخې لري. دغه قلمي نسخې د افغانستان، پښتونخوا او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په ملي او رسمي کتابتونونو او ارشیفونو او دغه راز د یو شمېر کسانو په ځانګړو او شخصي کتابتونونو کې ساتل کېږي. تراوسه پورې د پښتو ددغې قیمتي پانګې د نړدې درې زره نسخو یا کتابونو پته لګېدلې ده. دغه نسخې زیاتره یې په افغانستان، پښتونخوا، انګلستان، هند، پخواني شوروي اتحاد او نورو ځایونو کې خوندي دي. سره له دې چې له دغو نسخو څخه د لرغوني او کلاسیک ادب یو شمېر آثار چاپ او خپاره شوي دي، خو یو ګڼ شمېر داسې مهم او ارزښتناک آثار لا تراوسه پورې ناچاپ پاتې دي چې خپرېدل یې د ژبې د شتمنۍ په زیاتونه کې مهمه ونډه لري.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ ددغه متن یو یو پراګراف دي په وار سره یو یو زده کوونکی په لوړ غږ ولولي او نور دي ورته غوږ کېږدي.

۲ـ د متن له لوستلو او اوږدلو وروسته دي زده کوونکي دغو پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

- تراوسه پورې په ټوله نړۍ کې د څومره پښتو قلمي نسخو او کتابونو پته لګېدلې ده؟
- تر ټولو زیاتې پښتو قلمي نسخې په کوم ځای او کوم کتابتون کې ساتل کېږي؟
- په نورو کومو کومو رسمي کابتونونو کې د پښتو قلمي نسخې شته دي؟
- د ملي او رسمي کتابتونونو او ارشیفونو په څنګ کې په نورو کومو ځایونو کې پښتو قلمي نسخې او کتابونه ساتل کېږي؟

ګرامري برخه:

الف: تاسو د ستاینوم (صفت) په اړه پوره معلومات لرئ. په دغه ټول متن کې تاسو لومړی صفتونه په نښه کړئ او بیا یې په خپلو کتابو چې ددغه صفت پر ځای بل صفت وکاروئ، لکه په دې توګه:

((له بده مرغه د پښتو ژبې ددغې ارزښتناکې قلمي پانګې ډېره زیاته برخه د زمانې د ناوړه حالاتو او شرایطو له کبله له منځه تللې ده...))

د صفتونو (ستاینومونو) له بدلون سره:

((له بده مرغه د پښتو ژبې ددغې قیمتي لاسکښلي پانګې ډېره زیاته برخه د زمانې د خرابو حالاتو او شرایطو له کبله له منځه تللې ده...))

ب: په دې متن کې لس قیده په نښه کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

که تاسو ته د خپل کور، کلي، جومات او حجرې په کوم کونج کې د کوم قلمي کتاب پته لګېدلي وي، په لنډه توګه يې معرفي کړئ. که مو پيدا نه کړ، په کلي کور کې د کوم بل مهم پښتو کتاب په اړه نيمه پاڼه ليکنه وکړئ او په سبا يې خپلو ټولګيوالو ته واورووئ.

د کاظم خان شيدا څو څلوريزې

په لږ قانع شه خاطر کړه جمع
لرې له زړه کړه د ډېرو طمع
چې قناعت يې په سيم ونه کړ
سر بريده شوه په زرو شمع
فروتني کړئ سربلندانو
بهره يو نه وړه خودپسندانو
تل خميده وي بارداري څانګې
تواضع خوی کړه بهره مندانو
واوره له ما نه که شنوا يې
د آزله سته ولې رسوا يې
د رزق په مرسته سرګردانې کړې
که مور تر حلقه لکه آسيا يې
په زړه مې ګرځې د غرونو څوکې
حملې د بازو د زرکو کوکې
وايه څه کا د روه نسيمه
ګيرا منګولې زيبا مښوکې

ketabton.com - The Digital Library

عبدالحمید مومند

د پښتو ادبیاتو د لرغونې او منځنۍ دورې د نومیالیو شاعرانو په اړه مو ځای ځای یو لړ مطالب لوستي دي. د پښتو په ټوله کلاسیکه شاعرۍ کې دري نومیالۍ څېرې د پښتنو د باباګانو (لویو ستړو) په توګه تر بل هر چا د زیات شهرت او محبوبیت لرونکي دي. خوشحال بابا، عبدالرحمٰن بابا او عبدالحمید مومند بابا.

په تېرو ټولګیو کې د خوشحال خان خټک او عبدالرحمن بابا په باب غږېدلي یو، په دې لوست کې د عبدالحمید مومند ژوندلیک، آثار او کتابونه پېژنو او د هغه د شعر په زړه پورې بېلګې لولو.

ketabton.com - The Digital Library

عبدالحميد مومند د پښتو له سترو شاعرانو څخه ګڼل کېږي. له بده مرغه د نورو ډېرو پخوانيو شاعرانو په څېر يې د زوکړې او مړينې جوتې نېټې نه دي معلومې. د زېږېدو د ټاټوبي په هکله يې هم څېړونکي يوه خوله نه وو، خو وروستيو څېړنو جوته کړې ده چې حميد بابا د پېښور- کوهاټ سړک او باړې رود پر ښۍ غاړه پراته کلي ماشوکګر (ماشو) کې زېږېدلی دی.

د پخوانيو څېړنو له مخې يې ژوند تر ۱۱۴۵ هـ. ق. پورې باوري و، خو د هغه د شرعة الاسلام نومې کتاب له پيدا کېدو سره سم، معلومه شوه چې تر ۱۱۴۸ هـ. ق. کال پورې خو ژوندی و، ځکه چې هغه کتاب يې په همدې کال پای ته رسولی دی. مزار يې د ماشو (يا ماشوکګر) په لويه هديره کې دی.

د حميد مومند په آثارو کې دغه لاندې کتابونه تراوسه پيدا شوي او وخت پر وخت خپاره شوي دي:

۱ـ ديوان: د حميد ديوان د اټکل له مخې د هغه په خپل ژوند کې راټول شوی دی. په ادبي کړيو او محافلو کې د (دُرو مرجان) په نوم هم ياد شوی دی. قلمي نسخې يې زياتې پيدا کېږي او څو څو ځله په هندوستان، پښتونخوا او افغانستان کې چاپ او خپور شوی دی. د عبدالحميد مومند وروستی چاپ شوې ديوان تر ټولو بشپړ ديوان دی چې (۲۹۰) غزلې، قصيدې، يو مخمس، يو ترکيب بند او دوې څلوريزې لري چې د ټولو بيتونو شمېر يې (۲۹۳۲) ته رسي.

۲ـ شاه او ګدا: د حميد بابا يو ژباړل شوی منظوم داستاني اثر دی. دغه اثر هغه له فارسي نظم څخه پښتو ته اړولی دی. شاه او ګدا په فارسي ژبه د هلالي چغتايي اثر دی. د ژباړې په پيل کې حميد مومند وايي:

ketabton.com - The Digital Library

چې باعث اخونزاده غلام محمد شو د نفر په څېر صاحب په خوش آمد شو
وې یې زر شه قلم واخله تکیه خدای کړه په پښتو، فارسي قصه د شاه گدای کړه
هلالي که د هلال په څېر نگار کړه ته یې میاشت د څوارلسمې په سینگار کړه
غرض دا چې په غوښتو ددې غرض راته پښتو په هره پښه شو مرض
پرې مې نه لگېدې هېڅ انې باني راته کښېناست مدعي په آستانې
چې یې نه شوم له خاطره وتی هېڅ خواه ناخواه مې زړه ته واچاوه دا پېڅ
لېونې غوندې مې پورې په کور اور کړ په رنا مې یې روښانه کلی کور کړ
دې ویلاړ مې فراغت له زړه ولاړ کړ د بل زړه مې رغاوه خپل مې لتاړ کړ
په تکلیف سره مې گرم سور دکان کړ سم له لاسه مې دا تېر پرې پیکان کړ
چې په زړه کې مې لرم ددې فکرت و سن زر سل او وه دېرش کاله د هجرت و

۳_ نیرنگ عشق: دغه اثر په فارسي ژبه د مولانا محمد اکرم غنیمت په قلم لیکل شوی او حمید مومند په خوږه او روانه شاعرانه ژبه پښتو کړی دی.

۴_ شرعة الاسلام: دغه اثر په عربي ژبه لیکل شوی دی او لیکوال یې د بخارا مفتي امام الواعظ محمود بن ابی بکر الحنفي دی. حمید مومند د حضرت پېغمبرﷺ د سنتو په اړه دغه کتاب په پښتو خواږه نظم ژباړلی دی. د دغه کتاب بشپړه نسخه چې د اتکل له مخې پنځلس زره بیته ده، تراوسه نه ده پیدا شوې، خو نیمایي کتاب یې چې تراوسه ترلاسه شوی دی، د بیتونو شمېر یې (۷۳۶۰) ته رسېږي.

د پښتو ادبي تاریخ څېړونکو حمید مومند په پښتو شاعرۍ کې د هندي مکتب یا هندي سبک مخکښ ګڼي، دی خپله هم په پښتو شاعرۍ کې د داسې یو ځانګړي سبک مؤسس ګڼل شوی دی چې وروسته نورو شاعرانو هم پر هغه لاره یون کړی دی.

کاندید اکادمیسین محمد صدیق روهي په دې اړه په زړه پورې بحث کوي چې ځینې برخې یې لولو:

حمید مومند په داسې شرایطو کې لوی شوی دی چې له یوې خوا هندي سبک د خپل عروج لوړې څوکې ته نږدې شوی دی او له بلې خوا د پښتو ادب په هسک کې له ده نه مخکې د خوشحال او رحمان بابا په شان رانه ستوري ځلېدلي وو. د حمید فرهنگي

ketabton.com - The Digital Library

چاپېريال د ادبي نوښتونو او مذهبي بدعتونو د خپرېدو له دوران سره اړه لري. په دغه دوران کې په هنر او شعر کې پرمختيا او نوښتونه ليدل کېږي. حميد ددغه چاپېريال يو پښتون شاعر دی، يعنې دده په شعر کې د ياد شوي کلتور چاپېريال او د پښتو د ادبي ميراث ارزښتونه سره ترکيب شوي دي او نوی سبک يې ايجاد کړی دی. دغه سبک د هندي سبک تر اغېزې لاندې دی، خو تر يوې اندازې يې خپله خپلواکي هم ساتلې ده. حميد د هندي سبک په باب ښه پوهېده او د هغه د تقليد پوره وړتيا يې هم لرله، خو ده په ارادي توګه د پښتو د خپل متداول سبک خپلواکي په پام کې ساتلې وه.

د حميد مومند په شاعرۍ کې بېلابېل عشقي، اجتماعي، اخلاقي او نورې موضوعګانې د شعر د مضمون په توګه راتر سترګو کېږي.

چې د بل په نامرادۍ کې مراد غواړې
دا سبب ګڼه د خپلې نامرادۍ

يا دا چې:

يو قدم چې د بدانو پيروي کړې
دانسته په لوی کمر ځغلې ميدان خورې
ماته سره په وينو خوله لېوه ليده شي
چې د ظلم په پيسه پېروی پان خوري

يا:

په خندا خدمت د خلقو کړه که مرد يې
جفا کښنه نښانه اوسه تير مه شه
نور قيدونه واړه سهل دي حميده
خو په غاړه دې د طمعې زنځير مه شه

د حميد ديوان چې په ((دُر و مرجان)) هم نومول شوی، د پښتو د لوړې شاعرۍ غوره بېلګې لري. د هغه په ديوان کې د نازکخيالۍ نندارې ته کښېناستی شو او له همدې کبله حميد مومند د نازکخيال او موشګاف شاعر په نوم شهرت لري. د هغه منظومې ژباړې

ketabton.com - The Digital Library

هم د پوره ارزښت وړ دي. د ((نيرنگ عشق)) او ((شاه او گدا)) منظومې ژباړې يې دېرې په زړه پورې دي. د حميد مومند د ديوان د انتقادي متن ښاغلي ترتيبونکي د ديوان په سريزه کې د هغه د ژباړو ځانګړنې شمېرلې دي:

۱ـ دی ترجمه په داسې قوت کوي چې په دواړو ژبو کې يې لاسبری ځنې ښکاري.

۲ـ د ده ژباړې د بلې ژبې د تعبيرونو رنګ نه لري، بلکې زيار يې ايستلی دی چې د پښتو ژبې په خپل اصلي رنګ کې يې ترجمه کړي.

۳ـ د ده ترجمه ټکی په ټکی نه بلکې آزاده ترجمه ده او اصل مطلب يې په خپله خوښه په آزاده توګه ژباړلی دی.

۴ـ له ترجمې يې د ژباړې بوی نه راځي او سړی فکر کوي چې دغه وينا خپله د شاعر ده. د ده ټولې ژباړې دغه ځانګړنې لري.

د عبدالحميد مومند له ديوان څخه د هغه د کلام دوه بېلګې را اخلو او د هغه د شعر د نمونو په توګه يې لولو:

لومړی نمونه:

يـاره مـه نمانځه رقيـب په دشـنامونه — هر سـفله ته بخښـل نـه شـي انعامونه
يـا مې عمر تلـوار کړونی دی يـا ته يې — چې همېش راځخه ځـې په لوی ګامونه
پـه اواز د اوبـو تنـده نـه ماتېـږي — کلـه سـود شـي د ديـدن په سـلامونه
يـار له يـاره خوا پـه خوا فايـده مومي — اخيسـتی نه شـي بوسـه پـه پيغامونه
کامرانـي مې لـه تا هېڅ حاصلـه نه کړه — دېـر مـې وکـړه پـه دا طمـع ناکامونه
چـې له تـا د وفـا طمـع کـرم پوهېږم — بېهـوده ږدم و عنقـاو تـه دامونـه
چې مجنون غوندې په مينه کې ګمنام شي — د هغـو پـه جهـان وخېـژي نامونـه

چې سـبا مشت و ګرېوان وي له خوبانو
کـه نن وکاندي حميد سـل سـوګندونه

ketabton.com - The Digital Library

دویمه بېلگه:

ارزومنـد دیـار د درد په دوا مه شـه — بېگانه د خپلو منځ لره رامه شه
هنگامـه د مینـې گرمـه ده تر حسـنه — د مجنون د در گدا شه لیلا مه شه
کـه بانـه دي د نـگار ټول تېره غشـي — یو زما د زړه له نخښې خطا مه شه
که مې پرېوته سـیاهي پـه خاطر باندې — چې له زلفو د دلدار ده رښا مه شه
که بلا په عشـق کـې ډېرې وي ناصحه — دا بلا واړه په ما شه په تا مه شه
پروانه غوندې خوله پټه خپسـر سـبزه — د سپند په څېر شوخ چشم رسوا مه شه

هېڅ دې دم وربانديې نه لګي ناصحه
دا حمیـد بـلا وهلـی مـلا مـه شـه

د متن لنډیز:

عبدالحمید مومند د پښتو په پخوانیو شاعرانو کې د پوره شهرت خاوند دی. په پښتو ادب کې تر خوشحال خان خټک او عبدالرحمن بابا وروسته، د حمید مومند شهرت او محبوبیت تر نورو زیات دی. د حمید ژوند تر ۱۱۴۸ هـ. ق. کال پورې باوري دی. د شعر دیوان یې د ((دُر مرجان)) په نوم شهرت لري او پر دیوان سربېره یې دغه آثار هم په نظم ژباړلې دي: شاه او گدا، نیرنګ عشق او شرعة الاسلام.

عبدالحمید مومند د خپل ځانګړي سبک شاعر دی او نورو ډېرو شاعرانو دده د سبک پیروي کړې ده. هغه په پښتو شاعرۍ کې د نازکخیال او موشګاف شاعر په توګه هم پېژندل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

هلالی چغتايي: د نهمې هجري پېړۍ د پای او د لسمې پېړۍ د پيل شاعر دی. هلالي چغتايي د پارس په استر آباد کې زېږېدلی او په هرات کې لوی شوی دی. خپل نوم يې بدر الدين دی. په ۹۳۶ هـ. ق. کال وژل شوی دی.

مولانا محمد اکرم غنيمت د مغولي اورنګزيب د واکمنۍ په وخت کې د لاهور د نواب محمد مکرم خان نديم او مصاحب و. ويل کېږي چې مولانا غنيمت د محمد مکرم خان د زوی عزيز او د هغه د پی مخي (معشوق) يعنې شاهد کيسه د نيرنګ عشق په نامه په نظم وليکله.

هندي مکتب يا سبک: دا چې په فارسي يا پښتو ادب او شاعرۍ کې د هندي مکتب اصطلاح سمه ده که د هندي سبک، څېړونکي بېلابېل نظرونه لري. اروابناد محمد حيدر ژوبل د هندي سبک ځانګړنې داسې شمېرلې دي:

۱ـ باريک مضمونونه، پېچلي افکار، غير طبيعي خيالونه، خاصې استعارې، کنايې او تشبيه ګانې او ډېره زياته خيالبافي.

۲ـ له ژوند نه شکايت، د ژوند د کرغېړنو اړخونو بيانول.

۳ـ د اغراق او مبالغې په ډول د غم، درد او خپګان څرګندولو ته تمايل.

۴ـ ويار او غرور او په شعر کې د خپل مقام په لوړتيا فخر کول.

۵ـ له حده زياته مبالغه او اغراق.

انتقادي متن:

د پخوانيو کتابونو او د شاعرانو د ديوانونو د انتقادي متن ترتيب دې ته وايي چې له بېلابېلو قلمي او چاپي نسخو څخه يو داسې متن برابر شي چې کره او سم وي. په حقيقت کې له بېلابېلو نسخو د يوې کره نسخې برابرولو ته انتقادي متن وايي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ ددې متن یو یو پراګراف دې یو یو زده کوونکی په لوړ غږ ولولي او نور دې غوږ ورته کېږدي.

۲ـ زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

ـ حمید مومند له کومو دوو نورو نومیالیو پښتنو شاعرانو سره د شهرت او محبوبیت له کبله په یو کتار کې یادېږي؟

ـ د حمید مومند دیوان په کوم نوم یادېږي؟

ـ عبدالحمید مومند دکوم سبک په شاعرانو کې شمېرل کېږي؟

۳ـ زده کوونکي دې په دغو څلور ځوابونو کې یو سم ځواب په نښه کړي:

حمید مومند ددغو آثارو څخه دی:

الف: دیوان (دُر و مرجان)، شرعة الاسلام، نیرنګ عشق، دستار نامه.

ب: دیوان (دُر و مرجان)، شرعة الاسلام، تاریخ مرصع، شاه او ګدا.

ج: دیوان (دُر و مرجان)، شرعة الاسلام، شاه او ګدا، نیرنګ عشق

د: شاه و ګدا، شرعة الاسلام، خیر البیان، نیرنګ عشق.

۴ـ څو تنه شاګردان دې پر دغو موضوعګانو لنډې لنډې خبرې وکړي:

- د هندي مکتب ځانګړنې
- د حمید مومند د ترجمه شوو کتابونو ځانګړنې
- د حمید مومند آثار

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له دې لوست څخه په استفاده، په پښتو ادب کې د حمید بابا د مقام په اړه لنډ څه وليکي او په بله ورځ دې يې په ټولګي کې ولولي.

ketabton.com - The Digital Library

احمد شاهي شهنامه



د احمد شاه بابا په هکله مو کوم کتابونه او آثار لوستي دي؟

د احمد شاه بابا خپل شعرونه مو لوستي يا اورېدلي دي؟

احمد شاه بابا د نوي او معاصر افغانستان بنسټ ايښودونکی دی. د هغه په همت له افغان هوتکي پاڅون وروسته د نوي خپلواک افغان دولت بنسټونه کېښودل شول. احمد شاه بابا ددې په څنګ کې چې نومیالی واکمن و، عالم، فاضل او شاعر شخصیت هم و. له کتاب او علم سره يې د زړه مینه لرله او د واکمنۍ له بوختیاو سره سره يې کتاب او قلم هم د بوختیاو یوه برخه وه.

دلته ددغه افغان واکمن بابا په اړه د لیکلې شوې شهنامې په باب تاسو ته معلومات وړاندې کوو چې په هماغه زمانه کې د حافظ مرغزي په قلم کښل شوې ده.

ketabton.com - The Digital Library

((احمد شاهي شهنامه)) د لوی احمد شاه بابا د وخت د پېښو په اړه ليکل شوی منظوم اثر دی. دغه منظوم اثر د احمد شاه بابا په امر د هغه د مهال يو شاعر حافظ ګل محمد مرغزي ليکلی او په ۱۱۷۶هـ. ق. کال يې بشپړ کړی دی.

((شهنامه)) هغه اثر ته ويل کېږي چې تر ډېره حماسي بڼه لري، د واکمنانو، امیرانو، پاچاهانو او پهلوانانو د حالاتو او پوځي کارنامو په اړه کښل کېږي. شهنامه د ((شاهنامه)) په بڼه هم ليکل کېږي او منظومه بڼه لري، په پخوانيو ادبياتو کې شهنامه ليکل دود و.

د حافظ مرغزي د احمد شاهي شهنامې يوازينی قلمي نسخه د انګلستان په ((بريټيش موزيم)) کې ساتل کېږي. د هماغې نسخې د مايکرو فلم له مخې لومړی په پېښور کې د پښتو اکيډيمۍ له لوري او په راوروسته کې په کندهار کې د استاد پوهاند عبدالشکور رشاد له پېژندنې او تعليقاتو سره د ښاغلي محمد معصوم هوتک په سريزه او همت چاپ شوې ده.

لکه چې اروابنياد استاد رشاد ليکي: ((د حافظ ګل محمد مرغزي د زوکړې ځای او د خاړپوخو مېنه (مرغزه) کلی دی چې د پېښور شمال شرقي لور ته د صوابۍ په شاوخوا کې واقع دی.)) حافظ په يو غزل کې ويلي دي:

د مجلس ياران دې ولاړل رابه نه شي
که تل ژاړې د مرغز په ګورستان

د وطن په ښلتانه کې يې ويلي دي:

که مرغز لرم وطن — تړې جدا يم په دا تن
دا اميد لرم له خدايه — که مې بوزي له دې ځايه
که سفر کړې د ختن — هېر به نه کړې خپل وطن
په کمند د غم اسير يم — بې وطنه اوس فقير يم
د ختن د ملک غزال يم — اوس بندي د غم په جال يم

حافظ ګل محمد په ۱۱۲۶هـ. ق. کال زېږېدلی او د شهنامې د بشپړولو پر کال ۱۱۷۶هـ. ق. يې عمر پنځوسو کالو ته رسېدلی و. داسې ښکاري چې هغه ډېر وخت

ketabton.com - The Digital Library

له وطنه لېرې په پنجاب کې اوسېدلی دی. د هغه له شعرونو ښکاري چې په ډیلي کې له احمد شاهي پوځونو سره هم ملګری و. ژوندیې تر ۱۱۷۹هـ. ق. پورې باوري دی... د موجودې شهنامې د ټولو بیتونو شمېر څلورو زرو ته رسېږي.

د احمد شاهي شهنامې پر لومړی وقایه د حافظ مرغزي درې غزلې هم راغلي دي. یوه یې د بېلګې په توګه را اخلو:

ګاه دې مخ کله دې څنګ	ګاه دې صلحه ګاه دې جنګ
اوس خندا کوه خوشحال شه	له زړه لېرې کړه دا زنګ
که دولت درسره ډېر شي	خو به پاته شي ملنګ
تمام لاندې شو تر خاورو	ډېر یوسف غوندې خوشرنګ
له اشنا سره اشنا شه	که ته ډېر یې شوخ و شنګ
حافظ پاڅه قلندر شه	او بس دا پرېږده آهنګ

احمد شاهي شهنامه ۳۶ بحثونه او فصلونه لري او د احمد شاهي دورې د لومړیو شپاړسو کالو د پېښو په روښانولو او څرګندولو کې د یو ښه او ګټور اثر په توګه کار ورکوي. دغه منظوم اثر د مثنوي په بڼه لیکل شوی او د هرې مصرې سېلابونه یې (اته) او کله کله (نهه) دي. تر ډېره حده یې نظم روان او ساده دی.

حافظ مرغزي له حمد، نعت او مناقبو وروسته خپله شهنامه په دغه سریزه (دیباچه) پیلوي:

ته زما په شعر کړه ګوش	چې بلند شي په دا هوش
په تنظیم زما نظر کړه	ښه تازه پرې دا بصر کړه
پرې دماغ کړه معطر	چې مذکور که دکشور
دا دنیا ده لکه باغ	چې بهار شي ورک شي زاغ
شاهنامه ده رنګینه	د خوبی ده ګنجینه
په ترازو د عقل سنج	جواهر لري د ګنج
ښه درونه دي آبدار	که یې بادشاه شي خریدار

ketabton.com - The Digital Library

شاهنامه ده نو عروس — نه ثاني لري په طوس
سزاوار ده د بادشاه — دبدبه لري پر ماه
چې فرمان د شهريار و — په زېبا ښکلي ګفتار و
چې حافظ دې شاهنامه که — په جهان دې دا نامه که
شاهنامه دې کارنګين — جور زيبا در ثمين
پکې حال دې د جهان وي — ښه ګنجونه دې عيان وي
ښه مذکور دې که د جنګ — چې پرې صاف شي د زړه زنګ
د بادشاه مې حال بيان که — چې دا سير يې د جهان کا
ما بيان که په تفصيل — په خپل ځای په قال و قيل
چې شاهنامه کړه ما اغازه — رنګينه راغله طنازه
د طوسي چې شاهنامه ده — ښه زيبا يې ښکلې جامه ده
په پارسي ژبه بيان ده — په قلم کاغذ عيان ده
اما دا وګوره ګنج — خوشنما درونه سنج
په زبان درانې — ښه بيان دی افغاني
د احمد شاه در دران — پکې حال مې کړ بيان
چې کتاب مې شه تيار — په تحرير زما نګار
په څو ورځې وم خاموش — بيا مې شعر راغی په جوش
معطر مې شه دماغ — ښه تازه په سير د باغ
شاهنامه کړه ما تياره — دپر شپږنه دپر آبداره
پښتنو د پاره واړه — دا خواري مې شوه په غاړه
ته پرې وکړه ښه نظر — چې سنګين شي لکه غر
مور به نه يو دا به وينه — دا قصه به نور کوينه
يادګاري ده په دنيا — له ما واوره دا وينا
خدايه ته شې مهربان — چې شيرين مې شي زبان
ښه کلام مې کړې شيرين — چې تړې څاڅي انګبين

ketabton.com - The Digital Library

د احمد شاهي شهنامې چاپي نسخه له (۷۰۰) زيات مخونه لري. له اصل متن مخکې سربزې او په پای کې د استاد پوهاند رشاد بشپړ تعليقات راغلي دي. په دغو تعليقاتو کې د هغو اشخاصو بشپړه پېژندنه راغلې ده چې په احمد شاهي شهنامه کې يې يادونه شوې ده او د احمد شاهي عصر مهم شخصيتونه وو.

د متن لنډيز:

احمد شاهي شهنامه د حافظ گل محمد مرغزي په قلم ليکل شوی تاريخي اثر دی. دغه مهم کتاب مؤلف خپله د احمد شاه بابا په لارښودنه ليکلی دی. دغه اثر په مثنوي بڼه نظم شوی، نظم يې روان او له تکلفه خالي دی.

احمد شاهي شهنامه د حافظ مرغزي له خوا په ۱۱۷۶هـ. ق. کال بشپړه شوې ده. ددغه مهم تاريخي اثر يوازينی قلمي نسخه د انگلستان په ((بريتيش موزيم)) کې خوندي ده او د هماغې نسخې له مايکرو فلم څخه په پېښور او کندهار کې چاپ او خپره شوې ده.

حافظ گل محمد مرغزي د پښتونخوا د صوابی شاوخوا د مرغز په کلي کې زېږېدلی و. په احمد شاهي شهنامه کې د احمد شاه بابا د پاچاهۍ، جنگونو او واکمنۍ نور حالات راغلي دي، په تېره بيا د هغه د واکمنۍ د لومړيو شپارسو کلونو حالات پکې په پوره تفصيل سره راغلي دي.

څرگندونه

مايکرو فلم: زياتره قلمي نسخې چې د نړۍ په کتابتونونو او آرشيفونو کې ساتل کېږي، نو د نورو د استفادې لپاره ترې مايکرو فلم جوړېږي. مايکرو فلم د هغو نسخو عکاسي شوې بڼه وي او د يو شمېر تخنيکي وسايلو په مرسته ترې بڼه گټه اخيستل کېدای شي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې یو ځل متن په چوپتیا سره ولولي، بیا دې ددې لوست د نظمونو برخه زده کوونکي په خپل خپل وار په لوړ غږ سره ولولي.

۲ـ زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځواب ووایي:

- شهنامه څه ډول کتاب ته وایي؟
- احمد شاهي شهنامه د چا له خوا لیکل شوې ده؟
- احمد شاهي شهنامه د چا په امر او لارښوونه لیکل شوې ده؟

۳ـ دغو څلور ځوابه پوښتنو کې یو یې سم ځواب دی، هماغه سم ځواب په نښه کړئ:

ـ د احمد شاهي شهنامې د مؤلف نوم کوم یو دی؟

الف: خانعلوم

ب: پیر محمد کاکړ

ج: حافظ ګل محمد مرغزي

د: شمس الدین کاکړ

ـ د احمد شاهي شهنامې یوازینۍ قلمي نسخه چېرته خوندي ده؟

الف: د کابل ملي ارشیف

ب: د پېښور پښتو اکاډمي

ج: برېتیش موزیم

د: د افغانستان د علومو اکاډمۍ کتابتون

۴ـ دوه تنه زده کوونکي دې پر دغو موضوعګانو پنځه پنځه دقیقې خبرې وکړي:

- احمد شاه بابا د نوي او معاصر افغانستان بنسټ ایښودونکی
- د احمد شاهي شهنامې تاریخي ارزښت

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلو عمومي معلوماتو او د اضافي مطالعې پر بنسټ د لوی احمد شاه بابا د ژوند، شخصیت، کارنامو او شعرونو په باب دوه مخیزه لیکنه ولیکي او په بله ورځ دې یې په پښتو ساعت کې خپلو ټولګیوالو ته واوروي.

ketabton.com - The Digital Library

په لسم او یو ولسم ټولګي کې مو د پښتو ادبیاتو د تاریخ دوه مهمې دورې لوستي دي. په لسم ټولګي کې د پښتو ادب لرغونې دوره او په یو ولسم ټولګي کې مو د پښتو ادب منځنۍ دوره لوستې ده. دغه لوست د پښتو ادب د اوسنۍ (معاصرې) دورې په اړه دی. دغه بحث د ادبیاتو د تاریخ بحث دی او د ادبیاتو په تاریخ کې د یوې ژبې او یو ولس ادبي ـ هنري آثار د خپل وخت د تاریخي ـ ټولنیزو حالاتو په پام کې ساتلو سره او د یو ولس د عمومي تاریخ د پېښو په رڼا کې باید مطالعه شي. په دغه څېړنه کې د ادب پوهنې دیوې مهمې څانګې په توګه (ادبي تاریخ) مطرح کېږي او لیکل کېږي. په ادبي تاریخ کې د یو ولس ادبي آثار په هر اړخیزه توګه د خپل تاریخي تسلسل په پام کې ساتلو سره ارزول کېږي او هنري ـ ادبي ارزښتونه یې څېړل کېږي. د پښتو ادبیاتو د اوسنۍ دورې په باب په دغه لوست کې مو هم دې ټکو ته باید پام وي.

ketabton.com - The Digital Library

د پښتو ادب اوسنۍ یا معاصره دوره د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې مهمه دوره ده. مخکې له دې چې په دې اړه خبرې وکړو چې د پښتو د ادب اوسنۍ یا معاصره دوره له کوم مهال څخه پیلېږي، غوره به وي، دې ټکي ته تم شو چې ددغه نوي بهیر د پیلېدو په ځینو خاصو لاملونو او عواملو لنډې خبرې وکړو. دا هغه ټکي دي چې مونږ ته به دا هم راڅرګنده کړي چې څنګه د پښتو ادب دغه معاصره دوره پیل شوه او دا کوم مهال و ؟

په افغانستان او ټوله پښتونخوا کې د وخت او زمان د یو لړ بدلونونو، پرمختګونو او نوو پېښو په رڼا کې، داسې حالات رامنځته شول چې ادب ته یې هم یو نوی لوری ورکړ، څرنګه چې د زمان دغو حالاتو د ژوند پر هر اړخ خپل اغېز وکړ، ادبیات ترې هم په پوره توګه اغېزمن شوي دي. دغه نوي بدلونونه کوم کوم وو:

۱ـ د نړۍ له بېلابېلو برخو د تمدن د نوو پرمختیایي بېلګو راڅرګندېدل، پر دغه بهیر خپل اغېز وکړ. دغه بېلګې په ځانګړې توګه پر هندوستان او بیا پر افغانستان د انګرېزانو له ښکېلاک سره د نوو نښو نښانو په توګه راڅرګندې شوې. دغو استعماري (ښکېلاکي) موخو، د نورو اړخونو په څنګ کې د لویدیځې نړۍ د تمدن ځینې بېلګې هم یا له ځانه سره یوځای او یا له ځانه یو څه مخکې راواستولې. دغه اغېز پر ختیځو ټولنو سربېره، له لویدیځو خواوو او د هغه هېوادونو له لوري هم د اغېز له نورو بڼو سره راڅرګند شو، په دې معنا چې د نوي ژوند او نوي تمدن نوې بېلګې او څرکونه مونږ ته له نورو خواو و هم رارسېدلي دي.

د امیر دوست محمد خان او بیا د امیر شېر علي خان د واکمنۍ په دوران کې د نوي تمدن لومړۍ صنعتي بېلګې افغانستان ته هم راغلې. د وسلو فابریکه جوړه شوه. په ۱۲۸۲ هـ. ق. (۱۸۷۰م.) کال کې په افغانستان کې لومړۍ مطبعه فعاله شوه. په راوروسته کلونو کې (د امیر عبدالرحمن خان، امیر حبیب الله خان او غازي امان الله خان د واکمنیو په وختونو کې) مطبعو لازم پرمختګ وکړ. نورې فابریکې هم جوړې شوې، سینما او راډیو فعالې شوې او د تمدن نور نوي مظاهر (نمونې) د رارسېدو په حال کې وو.

ketabton.com - The Digital Library

استاد حبيبي په دې اړه ليکي: په دې دوره کې د اروپا د مدنيت صنعتي دوره پيل شوې وه او پر هندوستان باندې د انګرېزانو استعمار بشپړ شوی و، هندوستان ته د نوي مدنيت او صنعت اغېزې رارسېدلې وې. چاپخانې او د کتابونو د خپرولو وسيلې هم ډېرې شوې وې. انګرېزان له دغو ځيزونو سره د اباسين غاړو ته هم راورسېدل. دوی د پښتونخوا يو ستر فرهنګي مرکز يعنې پېښور ونيو او په ۱۸۳۹م. کال يې پر افغانستان هم يرغل وکړ.

۲ـ په افغانستان کې لومړنی معلومه جريده د ((شمس النهار)) په نوم په ۱۲۹۰هـ. ق. (۱۸۷۴م.) کې خپره شوه. په دغه وخت کې ځينې کتابونه هم چاپ او خپاره شول، په پېښور او لاهور کې بيا د پښتو کتابونو د چاپولو بهير لا ګړندی شو. د نوي تمدن، د کتاب د چاپ او د مجلو او جريدو د چاپ دغې چټکتيا پر ادبياتو او د ادبياتو پر بدلون او وده خپله اغېزه لرله.

د امير حبيب الله خان په وخت کې لومړی د مولوي عبدالرؤف کندهاري په مشرۍ د ((سراج الاخبار افغانستان)) په نوم جريده خپره شوه چې له يوې ګڼې وروسته يې د خپرېدو لړۍ بنده شوه. ورپسې د افغانستان د ژورنالېزم د پلار، نومیالي ليکوال او مبارز محمود طرزي په مشرۍ د ((سراج الاخبار افغانيه)) د جريدې خپرونې د پښتو ادب پر وده او بدلون لوی اغېز درلود.

۳ـ په هېواد کې د نوو او عصري زده کړو پيل، د نوي ادبي يون لپاره يوه په زړه پورې پيلامه وه. په ۱۹۰۳م. کال کې په کابل کې ((حبيبيه ښوونځی)) جوړ شو او د نوو عصري مکتبونو جوړېدل ټولو ولايتونو ته هم وغځېدل. دې کار هم د پرمختګ نوې لارې چارې برابرې کړې.

۴ـ د مشروطيت غورځنګ په افغانستان کې د نوي سياسي، کلتوري او ادبي بدلون نوی زيری له ځانه سره لاره. دغه غورځنګ له ۱۹۰۵م. کال څخه راپيلېږي. دغه حرکت په هېواد کې د داخلي استبداد او د زورواکۍ د ختمولو او د پرنګي له ښکېلاک څخه د وطن د خلاصون په بنيادونو جوړ شوی و. په دغه غورځنګ کې شامل زياتره مبارزان

ketabton.com - The Digital Library

علمي، ادبي او فرهنګي کسان وو، لکه: مولوي محمد سرور واصف کندهاری، کاکا عبدالعزیز الکوزی، مولوي عبدالواسع، مولوي عبدالرب، غلام محي الدین افغان، محمد انور بسمل، کاکا سید احمد لودین، محمود طرزی، عبدالرحمن لودین، عبدالهادي داوي پریشان او یو شمېر نور...

دغه غورځنګ هم زمونږ پر اوسنیو ادبیاتو خپل اغېز خپور کړ او په تېره بیا له بهرني ښکېلاک څخه د خلاصون د ولولو په راپارولو کې یې زیاته ونډه واخیسته. پښتو ادبیات، ددغو او یو شمېر نورو ټکو په پام کې نیولو سره یو نوي دوران ته داخلېږي او دا د پښتو ادب اوسنۍ یا معاصره دوره ده. دا چې دغه دوره په دقیق ډول له کوم مهال څخه پیلېږي، د پښتو د اوسنیو ادبیاتو د څېړونکو له خوا بېلابېل نظرونه وړکړل شوي دي. نومیالی افغان څېړونکی محمد صدیق روهي ددغو بېلابېلو نظرونو له راوړلو وروسته دې پایلې ته رسېږي:

د پښتو معاصر ادب په لره پښتونخوا کې د ۱۹۱۰م. کال شاوخوا د (افغان) جریدې په خپرېدلو سره پیلېږي. په دغه جریده کې د پښتو ادب نوي ډولونه او ژانرونه باب شول او راحت زاخیلي، فضل محمود مخفي، عبدالاکبر او نورو لیکوالو او شاعرانو د معاصر ادب زړي وکړل.

په افغانستان کې د سراج الاخبار د دویم ځل (۱۹۱۱م.) په خپرېدو سره د پښتو معاصر ادب بنسټ کېښودل شو.

په حقیقت کې د شلمې پېړۍ په رابرېدلو سره په افغانستان کې د معاصر ادب د پیلېدو لپاره عیني او ذهني شرایط برابر شوي وو. په دغه وخت کې معاصر ادب د یو متعهد او رسالتمن ادب په توګه د ټولنې په خدمت کې په کار واچول شو. ادبیات د یو معنوي مشال په توګه د ذهنونو د روښانولو لپاره استخدام شو. ددغه وخت یو شمېر نامتو شاعرانو او لیکوالو د ادبي تخلیقاتو له لارې د ځانګړنۍ، استعمار، خانخانۍ او استبداد پر ضد ګرندۍ مبارزه کوله.

د پښتو ادب د اوسنۍ دورې یوه اساسي ځانګړنه داده چې په دغو شعري او نثري

ketabton.com - The Digital Library

آثارو کې د موضوع او فکر له پلوه نوې موضوعګانې ور داخلې شوې. د وخت عمده ارمانونه او هیلې د ادبي لیکنو او شعرونو محتوا شوه. ددې په څنګ کې د چوکاټ او فورم له پلوه هم یو لړ بدلونونه رامنځته شول. ادبي او هنري نثر ته پاملرنه واوښته، نوي ادبي ډولونه لکه: لنډه کیسه، ناول، ډرامه او نندارې او نور ولیکل شول. د پخوانیو چوکاټونو په څنګ کې د شعر نوي چوکاټونه هم رامنځته شول او ازاد شعرونه هم دود شول.

د پښتو ادب د معاصرې دورې په لومړنیو لیکوالو او شاعرانو کې ددغو کسانو نومونه د یادولو وړ دي:

مولوي صالح محمد کندهاری، غلام محي الدین افغان، مولوي عبدالواسع کندهاری، عبدالعلي مستغني، عبدالهادي داوي، امین الله زمریالی او یو شمېر نور... په کوزه پښتونخوا کې د لومړي دوران نومیالي ادبي څېرې دادي: فضل محمود مخفي، مولوي احمد، منشي احمد جان، میر احمد شاه رضواني، راحت زاخیلی، عبدالاکبر اکبر، عبدالمالک فدا، ماسټر عبدالکریم او یو شمېر نور...

زموږ یو شمېر څېړونکو د پښتو د معاصر ادب دوره هم په څو پړاوونو وېشلې ده او دغه راز په هره سیمه کې یې د ودې او پرمختګ پر ځانګړو شرایطو او امکاناتو بحثونه شوي دي. له هغو مشرانو، لیکوالو او شاعرانو څخه چې راتېر شو زموږ یو شمېر لیکوالو او شاعرانو په راوروسته وختونو کې خپلې ژبې او ادب ته د خپلو تلپاتې آثارو په لیکلو سره، نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي. دوی د نوي دوران او عصر له غوښتنو سره سم او د خپل هېواد، خپلو خلکو او خپلې ژبې د اړتیاوو په پام کې ساتلو سره نوي او په زړه پورې آثار ایجاد کړل. په دې لړ کې په افغانستان کې ددغو کسانو نومونه په خاص ډول د یادولو وړ دي:

عبدالحی حبیبي، قیام الدین خادم، ګل پاچا الفت، عبدالرؤف بېنوا، صدیق الله رښتین، عبدالشکور رشاد، محمد رفیق قانع، برهان الدین کشککي، عبدالرحمن پژواک، غلام جیلاني جلالي، محمد موسی شفیق، سیلاب ساپی، محمد جان فنا، سید شمس الدین

ketabton.com - The Digital Library

مجروح، سید حسن حسن، بهاؤالدین مجروح، حبیب الله تږی، مستوره شال، ابراهیم عطایي، دوست شینواری او ډېر نور...

دغه راز په پښتونخوا کې هم ددې دورې مهمې څېرې د یادولو وړ دي لکه:

کاکاجي صنوبر حسین مومند، سید رسول رسا، حمزه شینواری، عبدالغني خان، صاحبزاده محمد ادریس، عبدالخالق خلیق، نصر الله خان نصر، محمد اسلم ختک، رشید علي دهقان او یو زیات شمېر نور...

د معاصر پښتو شعر د پیلامې د یوې بېلګې په توګه له ((سراج الاخبار افغانیه)) څخه د مولوي صالح محمد هوتک یو شعر را اخلو او ددغې دورې د پیلامې د یوې بېلګې په توګه یې لولو. سره له دې چې دا د عبدالهادي داوي پرېشان د دري شعر پښتو منظومه ژباړه ده، خو ډېره په زړه پورې بڼه لري، د ژباړې رنګ پکې نه ښکاري او د وخت یوه ډېره مهمه موضوع پکې ځای شوې ده، دا لا هغه وخت دی چې افغانستان بشپړه سیاسي خپلواکي نه لري او دغه شعر په همدغه دوران کې د سراج الاخبار په پاڼو کې خپور شوی دی:

یو سحر زما تر غوږ شو له بلبله　　په قفس کې یې ژړل دا یې ویله
چې بندي شوم د صیاد له سخته دله　　ولې نه پوښتي څوک حال زما یو له بله
ولې نشته بې فغانه کارو بار زما
ولې حبس ابدي راغی په وار زما

نه محرم چې د زړه حال ورته بیان کم　　نه مې وس چې خبرداره بلبلان کم
نه ملګري چې چمن ته یې روان کم　　بیا بیان ورته دګل او د ریحان کم
خپل ډک زړه د ارمانو ورته خالي کم
ټول مرغان د چمنو په ځان حالي کم

چاته وژاړم، پر چا باندې فریاد کم　　چاته خاورې پر خپل سر باندې باد باد کم
چاته وګورم په څه شي زړګی ښاد کم　　د صیاد له لاسه چاته عرض و داد کم

ketabton.com - The Digital Library

څه راوشو چې د تور قفس بندي شوم
نه خلاصېږم په دا بند کې ابدي شوم
ولې زه لـه خپلـه سـېله راجلا شـوم ولـې زه لـه خپـل وطنـه راجدا شـوم
ولـې زه په ویـر اخته په واویلا شـوم کور و کلی مې شـو پاتې خوار تنها شوم
کوم ظالم کړمه بندي خدای دې بندي کي
خدای دې ما غوندې اخته په جدایي کي
اوس بـه زه لکـه ها نـور په هـوا تلمه پـه هـوس د آزادۍ بـه نازېدمـه
پـر غونچـو بـه د ګلانـو موسـېدمه ورځ پـه ورځ بـه غوړېدمـه لوبېدمـه
چا بندي کړم خدایه تې په ځان اخته کې
په قفس یې د زنـدان جګر سوخته کې
اوس بـه ګرځېـدم آزاد پـه چمنـو کې الوتـم بـه پـه صحـرا او په باغـو کې
مست به ګرځېدم خوشحال په شګوفو کې ولـې اوس یم پـه غمو په اندېښنـو کې
چـې بـنـدي دې د قـفـس کـړمـه صیاده
خدای دې ما غوندې بندي که اې آزاده
الغـرض چـې ده وهلـې دا نـارې د قفـس لـه لاسـه و پـه غلبلـې
چـې نـاګاه د چمن بـاد راغی له کښـې چـې پر ونښـت دا یې وواتـه له خولې
مـګـر دا بـاد د چـمـن د خـوا راغلی
چې زما صبر و آرام یې راڅخه وړی
د شعر وروستۍ برخه داسې ده:
په حسـرت او په افسـوس یـې دا ویله و ګلشـن تـه یـې کتـل بیـا یـې ژړله
د قفـس و دروازې تـه یـې ځغسـتله لار یـې نـه وه وزرونـه یـې کړپولـه
پـه هـوا شـو سـر یـې ونـښـت لـه قفسه
وینې توی شوې سوړ پوړ ولوېد له هوسه

ketabton.com - The Digital Library

سـر تر پايه په سـرو وينو کې غرقاب و ځان بايللی، زړه زخمي، حال يې خراب و
يا بې هوښـه، يا پر هوښ، په اضطراب و چې پر هوښ به شو گويان به په دا باب و:

سـر مـې بـايـلـو پـه هـوا د آزادی
شـکـر شـکـر شـوم فـدا د آزادی

په افغانستان کې د پښتو د معاصرو ادبياتو د شعر او نظم د برخې په مطالعه کې دغه شعر خاص ارزښت لري. استاد روهي په دې اړه وايي: (په قفس کې بلبل) په سمبولیکه او رمزي ژبه د خپلواکۍ غوښتنې جذبات څرگندوي او خلک فداکارۍ ته رابولي. د پوهاند حبيبي په وينا، دا شعر دومره مقبول و چې په کندهار کې حتی د ښځو خولې ته هم ولوېده، خوله په خوله اورېدل کېده او د وطن له مينې به يې ژړل.

((په قفس کې بلبل)) د پښتو د معاصر ادب يوه غوره بېلگه ده. په هغه کې يو مهم ملي ارمان په ښکلي عاطفي رنگ کې منعکس شوی دی. په دغه شعر کې زايد الفاظ نشته، د اصطلاحاتو له پلوه غني او ژبه يې طبيعي او له محاورې سره سمه ده. په لومړي شعر کې د تصوير بشپړتيا، منطقي انسجام او ښه پای، د رمز په ژبه د اسارت او مريي توب پر ضد اعتراض او د طبيعت د ښکلا انځور پر دغه شعر د جاودانه گۍ مهر لگوي.

د متن لنديز:

د پښتو ادبياتو په تاريخ کې له لرغونې او منځنۍ دورې وروسته اوسنۍ يا معاصره دوره د خاصې پاملرنې وړ ده. دغه دوره د شلمې پېړۍ له پيلامې سره پيلېږي. د وخت او زمان نوې اغېزې، د نړۍ د نوي تمدن اغېز، پر افغانستان د انگرېزانو يرغل او ددې يرغل پر وړاندې د خلکو پاڅون، د مطبوعاتو په ډگر کې نوي پرمختگونه او نور بېلابېل عوامل ددې سبب شول چې په ادبياتو کې هم بدلونونه رامنځته شي. دغه بدلون هم د ادبياتو موضوع او محتوی ته نوی رنگ ورکړ او هم يې نوي ادبي ډولونه رامنځته کړل او د چوکاټ يا فورم له پلوه يې هم بدلونونه وموندل. د پښتو د معاصرو ادبياتو دوره د پښتو په ادبي تاريخ کې د يو نوي بدلون پيلامه ده. په دې دوره کې ګڼ او مهم آثار وليکل شول او د ادبياتو په بهير کې نوي پرمختگونه رامنځته شول. د معاصرو ادبياتو تاريخ يو شمېر تلپاتې ادبي څېرې په خپلو پانو کې ثبت کړې دي.

ketabton.com - The Digital Library

محمود طرزی: د افغانستان پیاوړی لیکوال، ژورنالیست او سیاسي مبارز و. د غلام محمد طرزي زوی دی. په زلمیتوب کې یې کورنۍ له افغانستان څخه د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې تبعید شوه. هندوستان او ترکیې ته لاړل. د امیر حبیب الله خان په وخت کې بېرته افغانستان ته راستون شو. د سراج الاخبار افغانیه په نوم یې یوه مهمه جریده تاسیس کړه چې هم د افغانستان د ژورنالیزم په تاریخ کې ځانګړی ځای لري او هم دنوي او معاصر ادب په پرمختګ کې. د غازي امان الله خان خسر، د مشروطیت د غورځنګ یوه مخکښه څېره او د هغه د واکمنۍ په دوره کې دیو وخت لپاره د بهرنیو چارو وزیر و. د غازي امان الله خان پر ضد د داخلي اړو دوړو په وخت کې له افغانستان څخه وتلو ته اړ شو. ترکیې ته لاړ او هماغلته وفات شو. د ډېرو آثارو لیکوال او ژباړونکی دی. د افغانستان د ژورنالیزم د پلار په نوم شهرت لري.

د مشروطیت غورځنګ: د افغانستان د سیاسي مبارزو په معاصر تاریخ کې د افغانستان د مشروطه غوښتونکو غورځنګ مخکښ مقام لري. د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ په دوران کې دیو شمېر روښ اندو پوهانو، لیکوالو او مبارزینو له لوري دغه سیاسي ملي غورځنګ تاسیس شو. ددې غورځنګ په اساسي هدفونو د استبداد او مطلقه واکمنۍ پر ځای د قانون واکمني، انګرېزانو له ښکېلاک څخه د هېواد ژغورنه او د خلکو د ژوند سوکالي، تعلیم ته پاملرنه او داسې نور اهداف دیادولو وړ دي. دغه غورځنګ د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ په دوران کې سخت وځپل شو. مشران یې یا اعدام او یا بندیان شول. د غازي امان الله خان په وخت کې همدغو منورینو د هېواد د چارو په سمبالښت کې فعاله ونډه واخیسته.

عیني او ذهني شرایط: د اجتماعي او فکري مسایلو په لړ کې په ټولنه کې د عیني او ذهني شرایطو د برابرېدلو خبره کېږي. له دې څخه هدف دادی چې د یو کار د پیل لپاره، د یو حرکت، نهضت او پروګرام د پیل لپاره د ټولنې شرایط او امکانات څه دي؟ ایا ټولنه له ذهني پلوه دې کار ته چمتو ده؟ ددې خلکو له فکر او نظر سره دغه پروګرام برابر دی، یا یې ذهن ورته چمتو شوی دی؟ عیني شرایط هم همداسې وګڼئ. آیا د ټولنې موجود واقعیتونه څه دي؟ په کوم اقتصادي، اجتماعي حالت کې ده. د ودې په کوم پړاو کې ده؟ عیني شرایط تر ډېره د ټولنې د مادي اړخونو په څېړنه او ذهني شرایط یې د فکري او نظري اړخونو په څېړنې پورې اړه پیدا کوي، خو دواړه یو په بل پورې مربوط دي.

ketabton.com - The Digital Library

کم (کړم): په ځينو شعرونو کې د ليکدود له مخې لهجوي اغېزې راڅرګندېږي، يا شاعران ځينې کلمې هغه ډول ليکي، چې وايي يې. لکه په دې لوست کې نورې داسې کلمې: کې (کړې)، دې (دې يې) تې (ته يې) او نورې...

فعالیتونه

۱ـ د مولوي صالح محمد هوتک د شعر يوه يوه برخه دې بېلابېل زده کوونکي په لوړ غږ ولولي او په سمه توګه دې يې ادا کړي.

۲ـ زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- د پښتو معاصر ادب له کوم وخت څخه پيلېږي؟
- محمود طرزی په کوم نوم شهرت لري؟
- (سراج الاخبار افغانستان) او (سراج الاخبار افغانيه) څه توپير لري؟
- د افغانستان د مشروطيت غورځنګ د کوم واکمن په وخت کې جوړ شو؟
- د مشروطيت د غورځنګ سياسي او ملي هدفونه کوم کوم وو؟

۳ـ د پښتو د معاصرو ادبياتو د دورې د يو شمېر مخکښو او نومياليو څېرو نومونه واخلئ. هر شاګرد دې يو يو نوم يادوي او د ټولګي يو تن زده کوونکی دې هغه په يو پاڼه کې يادداشت کوي. کېدای شي زده کوونکي تکرار شي او نوي نوي نومونه ووايي. که کومو شاګردانو ته د هغو ليکوالو د کتابونو نومونه ياد وو، هغه دې هم يادوي او په پاڼه کې دې يې ليکي. هر هغه شاګرد چې ډېر نومونه او کتابونه ياد کړل، ددې لوست د (ممتاز شاګرد) په نوم دې ونومول شي. کېدای شي شاګردان ځينې څېرې هم يادې کړي چې په دې لوست کې يې نومونه نه دي راغلي.

۴ـ زده کوونکي دې ددغو دوو موضوعاتو په اړه لنډې لنډې خبرې وکړي:

- د افغانستان د معاصرو ادبياتو د دورې ځانګړتيا
- معاصر ادب او د معاصر دوران پېښې

کورنی دنده

زده کوونکي دې د مولوي صالح محمد هوتک د ((په قفس کې بلبل)) په اړه يو مخ ليکنه وکړي او ارزښت دې يې هم څرګند کړي.

ketabton.com - The Digital Library

غني خان ـ نه هېرېدونکی شاعر



ـ د غني خان په باب مو څه لوستي دي؟

ـ د غني خان کوم شعر مو یاد دی؟

د پښتو په معاصرو شاعرانو کې غني خان د اوچت نامه خښتن دی. تاسو تراوسه پورې د معاصر پښتو شعر د ځینو خبرو په باب معلومات ترلاسه کړي دي. په دې لوست کې تاسو ته د غني خان د ژوند په اړه او د شعر د ځانګړتیاو و په اړه یې خبرې کوو. د هغه د شعرونو څو نمونې هم لولو.

په لوست کې به تاسو ته څرګنده شي چې زموږ دغه وتلی شاعر زموږ د اوسنۍ ادبي تاریخ په پاڼو کې د کوم درېځ او مقام لرونکی دی؟

ketabton.com - The Digital Library

عبدالغني خان غني د پښتنو د نومیالي مشر او د پښتنو او د هند د لویې نیمې وچې د خپلواکۍ د ستر مبارز فخر افغان خان عبدالغفار خان زوی دی. په ۱۹۱۴م. کال کې د پښتونخوا د هشنغر په اتمانزو کې زېږېدلی دی. په پنځه کلنۍ کې یې مور له نړۍ سترګې پټې کړې او پلار یې د ژوند اوږده کلونه د هندوستان د انګرېزي حکومت په زندانونو کې تېر کړل. له دغو ناوړه حالاتو سره سره غني خان په دې وتوانېده چې زده کړې پیل او دوام ورته ورکړي.

لومړنۍ زده کړې یې د اتمانزو په آزاد ښوونځي کې ترسره کړې. استاد بېنوا په دې اړه لیکي: ((پاچا خان ځکه خپل زامن دغه د غریبانو ښوونځي ته واستول چې خلک ونه وایي چې باچا خان د خپلو او نورو د زامنو ترمنځ توپیر کوي، خپل زامن معتبر ښوونځي ته بیایي او د نورو زامن د غریبانو ښوونځي ته استوي.))

غني خان د نورو زده کړو لپاره انګلستان او امریکې ته هم لاړ، خو ځرنګه چې مبارز پلار یې بیا بیا د پرنګیانو زنداني کېده، نو زده کړې یې نیمګړې پاتې شوې او بېرته راستون شو. څه موده یې د پاچا خان په لارښوونه د ټاګور په نړیوال پوهنتون کې هم زده کړې وکړې.

له زده کړو وروسته یې څه موده د بورې جوړولو په یوه فابریکه کې د انجینر په توګه کار وکړ او بیا یې د خپلو ځمکو سرپرستي کوله.

له سیاسي هڅو سره خو یې د ژوند له پیلګډ مزل کړی و، د پاچا خان د سیاسي نهضت ((خدایي خدمتګار)) د ملاتړ لپاره یې د ((زلمي پښتون)) په نوم د ځوانانو یو نهضت هم جوړ کړ.

په ۱۹۴۵م. کال کې له پښتونخوا څخه د هندوستان پارلمان ته انتخاب شو او د پارلمان د ځوان غړي په توګه ښه وځلېد. د هندوستان له آزادۍ او بیا وېشلو وروسته غني خان ونیول شو او شپږ کاله یې د پاکستان په زندانونو کې تېر کړل.

عبدالغني خان د پښتو نومیالی شاعر و. د خپل ژوند په اوږدو کې یې د سیاسي مبارزې په څنګ کې لوړه شاعري هم کړې ده. د شعرونو دغه ټولګې یې چاپ شوې دي:

ketabton.com - The Digital Library

۱_ د پنجرې چغار: د غني خان د شعر لومړنۍ ټولګه ده. د زندان له فریادونو یې شعرونه جوړ کړي دي او په ۱۹۵۳م. کال کې یې دغه مجموعه د هریپور په جیل کې بشپړه کړې ده. په ۱۹۵۶م. کال کې په پېښور کې چاپ شوې ده.

۲_ د غني پلوشې: دا مجموعه په ۱۳۳۹ هـ. ش. کال په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده.

۳_ پانوس: دغه کتاب په ۱۹۷۸م. کال په پېښور کې چاپ شوی دی، ((د پنجرې چغار)) او پلوشې سربېره پکې نوي شعرونه هم راغلي دي.

۴_ د غني کلیات: د غني د شاعرۍ کلیات په ۱۳۶۴ هـ. ش. کال په کابل کې چاپ او خپاره شوي دي.

د پښتو دغه نومیالي شاعر په ۱۹۹۶م کال کې په پېښور کې له نړۍ سترګې پټې کړې. غني په معاصره پښتو شاعرۍ کې د یوه ځانګړي دریځ او خاص سبک شاعر دی. د هغه شاعري په نوې پښتو شاعرۍ کې د یو ځلند مقام لرونکې ده. لکه چې استاد الفت لیکي: ((زه د پښتو په اوسنیو شاعرانو کې څو تنه دګوتو په شمار پېژنم چې هر یو د خپل ادبي سبک او د خپلو افکارو او خیالاتو په لحاظ ممتاز صفتونه لري او په بېلابېلو لحاظونو یو له بل نه او بل له بل نه بېنه دي. یو د غزل استاد دی، بل د ملي او وطني احساس په راویښولو کې د یوې برخې خاوند دی، د چا اجتماعي افکار او خیالات ډېر عالي دي او د چا رندانه سندرې ډېرې ښکلې او په زړه پورې دي. د غني خان په اشعارو کې چې څه شی زما ډېر خوښېږي، هغه د فکر او خیال آزادي او له تقلید څخه سرکښي ده.))

د غني خان شاعري د یو شمېر ځانګړنو لرونکې ده چې ځینو ته یې پاملرنه کوو:

۱_ له هېواد سره مینه او له خلکو سره یې مینه او له آزادۍ او آبادۍ سره یې مینه د پښتو شاعرۍ په بهیر کې یوه اساسي موضوع وه او ده. د غني شاعري هم په دې برخه کې د ستاینې وړ ځای لري. په عمومي ډول د ټول هندوستان او دغه راز د پښتونخوا پر خاوره د پرنګي د ښکېلاک پر وړاندې د وطنپالو شاعرانو د شعرونو هنګامي زموږ د ولس د احساساتو او ولولو په راویښولو کې خپل ځانګړی ځای لري، لکه چې یو څېړونکی وایي: ((په دغه دوره کې (کله چې د هند پر لویه نیمه وچه او پښتونخوا د پرنګي ښکېلاک

ketabton.com - The Digital Library

خپور و) د قامي شاعرانو يو مضبوطه ډله لګيا وه، د قام حوصلې يې اوچتولې. په دغه ډله کې ډېر نومیالي شاعران شامل و و، لکه: فضل محمود مخفي، عبدالمالک فدا، حبیب الله کاکا، فضل الرحیم ساقي، عبدالاکبر خان اکبر، شاد محمد مېړی، الف جانه خټکه او ډېر نور، خو په دغه ډله‌کې یو داسې شاه زلمی هم شامل و چې د هغه د شاعرۍ یوه ځلانده لاره وه، ځانله رنګ یې و او که زه و وایم چې دغه شاه زلمی شاعر ددغې ډلې سرخېل و نو بې ځایه به نه وي... هغه ځوان چې کله به لېونی فلسفي شو، کله به غني شو او کله به غني خان...)) په دې لړ کې د غني خان ډېر شعرونه د غور وړ دي، خو دغه یو بیت یې د ډېرو ځواب وایي:

چې خازې شنې مې په قبر وې ولاړې
که غلام مړ وم، راځئ توکئ پرې لاړې

۲ـ د غني د شاعرۍ، یا د هغه د شعري سبک یو بل عمده خصوصیت دادی چې که هغه هر څه وایي، په صداقت او زیات صراحت یې وایي، غني خان ته که د خپل ځان او یا بل هر چا په وړاندې کوم فکر او نظر پیدا شوی دی، نو په هماغه بڼه یې په څرګنده بیان کړی دی. هغه خپل پلار ته په یو لیک کې لیکي:

ستا خطونه ټول زما سر ته پراته دي — زه یې لولم هره شپه دوباره
کله خاندم کله ژاړم لېونی یم — ای زما په بند کې پروت غریبه پلاره
خدای به رحم و په تا باندې لږ کړی — بل ښه زوی به یې و کتلی ستا د پاره
چې په تا کې کوم جوهر دی ما کې نشته — ستا نېکۍ زما بدۍ دواړه بې شماره
ته سالار یې دکاروان په نېغه لار ځې — زه کوږ ځغلم لکه او ښه بې مهاره
ستا د زړه فواري ډکې دي لـه مینې — زما زړه وچ کوهی نه وهي یو داره

د (خانانو) په نوم په یو شعر کې پر پښتنو انتقاد کوي او د بدو رواجونو، بدو کړو وړو، خپلمنځي بدیو، تربګنیو او نورو ناخوالو غندنه یې په ډېره ښکاره توګه کوي.

۳ـ د غني د شاعرۍ بله ځانګړنه داده چې هغه د ژوند په اړه د خاصو نظریاتو څښتن دی. د ژوند د پېښو په هکله هم هغه ژور فکر لري، همدغه فکر او ژور نظر هغه د فلسفي شاعر په نامه مشهور کړی دی.

۴ـ کومه بله خبره چې د غني په شاعرۍ کې د زیاتې پاملرنې وړ ده، هغه د غني د

ketabton.com - The Digital Library

شاعرۍ د ((طنز)) برخه ده. دا په حقيقت کې هغه برخه ده چې زمونږ ددغه شاعر د کلام د مالګې په توګه د شعر خوند او مزه زياتوي. دغه ډول شعرونه له ټوکو او خندا سره مهم موضوعات په زړه پورې کوي او بيا يې د شعر په ښکلا کې نغاړي. هغه د طنز، خندا او ټوکو په قالب کې د وخت اساسي موضوعات ځايوي. دغه شعرونه که په لومړي نظر خندونکي ښکاره شي، خو په ژورو کې يې هغه غوسه پټه وي چې د خپل ولس د ناخوالو، نيمګړتياوو او ناوړتياوو له امله ورپيدا شوې وي. د غني طنزيه شاعري، د هغه د انتقادي شاعرۍ مرکزي برخه جوړوي.

د غني خان د شعرونو د بهلګو په توګه د هغه دوه شعرونه لولو. لومړنی شعر يې يوه وطني ترانه ده چې له خپلې خاورې سره د مينې ولولې پکې پرتې دي:

اې زما وطنه!

اې زمـــا وطـــنـــه د لـعـلـونـو خـــزانـــې زمـا
ســتـا هــره دره کـې دي د تـــورو نـښـانـې زمـا
زه يـم ستـا د خـاورې تـه زمـا د مينې جـوړ يې
تـه مـې د غـيـرت او د پښتو رنګينې جـوړ يې
تـه مـې د نـيـکـه او د بـابـا د ويـنـې جـوړ يې
ستـا زړه کـې ويـدې دي ټولې تـلـې زمـانـې زما
اې زمـــا وطـــنـــه د لـعـلـونـو خـــزانـــې زمـا
سترګې مې لوګی شه ستا د خـاورو د کورونو نه
عـقـل مـې ايـرې شـه سـتـا د پـــاره د فـکـرونـو نه
ځـار شمه قربان شم ستا د غرونو د سيندونو نه
ســتـا هــره دره کـې دي د تـــورو نـښـانـې زمـا
ای زمـــا وطـــنـــه د لـعـلـونـو خـــزانـــې زمـا
ستا عزت چې نه وي زه به نوم او عزت څه کړمه
ته چې خوار و زاريې زه به خوب او راحت څه کړمه
ستا سر چې وي ټيټ نو زه به شان او شوکت څه کړمه
مسته بـه دې خـاوره کـړم پـه ويـنـه مستانې زما
ای زمـــا وطـــنـــه د لـعـلـونـو خـــزانـــې زمـا

ketabton.com - The Digital Library

يـا خـو بـه دې سـيـال کـړمـه وطـنـه د جهان
يـا بـه ستا پـه پښو کـې تـورې خـاورې کړمه ځان
زه بـه دړې وړې شـم خـو تـا بـه کـړم ودان
نـر يـمـه پـښـتـون يـم تـا تـه يـادې افـسـانـې زمـا
اى زمـا وطـنـه د لـعـلـونـو خـزانـې زمـا

د غني خان د شعر دويمه بېلګه هم ډېره په زړه پورې ده. په دې شعر کې په حقيقت کې د خپلواکۍ لپاره د بې ټوپکه مبارزې يا د نه تشدد د مبارزې پر ټکو خبره شوې ده. پاچا خان د هند له يو شمېر نورو آزادي غوښتونکو مبارزينو سره يوځای د ((عدم تشدد)) پر مبارزه ټينګار کاوه. د هغوی په نظر دا د مبارزې او مقاومت تر ټولو غوره لاره وه. دغه بې وسلې مبارزه او مقاومت په خپل وخت کې پوره اغېزمن و. غني خان په دې شعر کې همدغو ټکو ته اشاره کړې ده او د فخر افغان پاچا خان د مبارزې شاعرانه انځورګرۍ يې کړې ده.

په مردان مارش د پاچا خان

راشـه اې خـوشـحـال بـابـا اې خـالـده وګـوره
پـاڅـه عـلـي مـرتـضـى دا تـمـاشـه وويـنـه
جـنـګ لـه دى مـنـصـور روان
تـوپ او نـه تـفـنـګ لـري
نـه د تـورو پـړک لـري
نـه د زغـرو شـرنـګ لـري
زور د دښـمـن نـه ويـنـي داسـې لـهـونـى روان
دار او رسـن نـه ويـنـي دا د مـسـتـانـو خـان
دا د پـښـتـنـو مـلـنـګ څـه بـادشـاهـي رنـګ لـري
جـنـګ لـه دى مـنـصـور روان
تـوپ او نـه تـفـنـګ لـري

ketabton.com - The Digital Library

سپين مخ د ليلى وينې دشت بيابان نه وينې
زړه يې د يو ارمانه ډک غم او ارمان نه وينې
سړې د باتور سترګې يې مينه رنګارنګ لري
جنګ له دی منصور روان
توپ او نه تفنګ لري
تاج يې د اغزو په سر مست لکه مجنون روان
نوم د پښتنو ګټې زوی دی د پښتون روان
نر دا د نرانو خان څه غيرت او ننګ لري
جنګ له دی منصور روان
توپ او نه تفنګ لري
سر يې کښښود خاورو کې مرګ له يې سينه ورکړله
د پښتون د سر صدقه يې خپله وينه ورکړله
وې هر څه مې د قام دي والله هر څه چې ملنګ لري
جنګ له دی منصور روان
توپ او نه تفنګ لري
اې د پښتنو بچو دا ميدان مو هېر نه شي
سپين سر يې د وينو ډک هغه خان مو هېر نه شي
پروت دی دلته خاورو کې دا مکان مو هېر نه شي
پاڅئ ننګ پرې وکړئ خداېږو ډېر په تاسو ننګ لري
جنګ له دی منصور روان
توپ او نه تفنګ لري
نه د تورو پرک لري
نه د زغرو شرنګ لري

ketabton.com - The Digital Library

د متن لنديز:

غني خان د معاصر او نوي پښتو شعر له مخکښو څېرو څخه دی. هغه د نومیالي آزادي غوښتونکي او مبارز فخر افغان عبدالغفار خان (پاچا خان) زوی او په ۱۹۱۴م. کې زېږېدلی دی. د خپلې خاورې د آزادۍ او سوکالۍ لپاره یې په ملي مبارزه کې هم ګډون کړی او د ((پښتون زلمي)) په نوم یو غورځنګ یې جوړ کړی و. د پښتو شاعرۍ په وده کې یې له نوښته ډکې هڅې کړې، پیاوړي او ښکلي شاعرانه آثار یې مورِ ته راپرېښي دي. په کتابونو کې یې: ((د پنجرې چغار))، ((د غني پلوشې)) او ((پانوس)) د پوره شهرت لرونکي دي. د شعرونو ټوله مجموعه یې ((د غني کلیات)) په نوم په کابل کې چاپ شوي دي.

څرګندونې

خدایي خدمتګار: دا د هغه ملي اصلاحي غورځنګ نوم دی چې د فخر افغان پاچا خان او د هغه د ملګرو له خوا په پښتونخوا کې جوړ شو. له دغه حرکت مخکې په ۱۹۲۱م. کال کې هغه د ((انجمن اصلاح الافاغنه)) په نوم یو نهضت جوړ کړ چې د پښتنو په بېداریۍ او د پښتني ټولنې له بدو رواجونو او بدمرغیو سره یې نه ستړې کېدونکي مبارزه وکړه. دغه حرکت په ۱۹۲۹م. کال کې د ((خدایي خدمتګارو)) په نوم ونومول شو او د خپلې خاورې د آزادۍ په څنګ کې یې بیا هم د خپلې ټولنې اصلاحي پروګرامونو ته اساسي برخه ورکړې وه.

دغه ملي اصلاحي نهضت د پښتو ادبیاتو په وده کې هم پوره ونډه لرله او ډېر وتلي او پیاوړي شاعران او مهم آثار یې رامنځته کړل.

ketabton.com - The Digital Library

سبک: هغې ځانګړې شېوې یا لارې ته ویل کېږي چې د یو کار د ترسره کولو او د یو څه شي په جوړولو کې کارول کېږي. اسلوب او قاعده یې هم ګڼلی شو. په ادبي اصطلاحاتو کې سبک هغه ځانګړنې دي چې د ادبي او هنري آثارو د بیان، ودې او د لیکنې او هستونې د ډول او لارې، محتوایي ارزښتونو او نورو په برخه کې یو اثر له نورو څخه جلا کوي. په حقیقت کې سبک د یو اثر او یا یو لیکوال د آثارو د ځانګړنو او مشخصاتو ټولګه ده.

فلسفي شاعر: غني خان ځینو لیکوالو په دې نامه هم یاد کړی دی. د دې لپاره چې په شعرونو کې یې د ژورو فلسفي پوښتنو او مطالبو ډېرې نمونې شته دي. د هغه ډېر شعرونه د یو ډول لېونې بغاوت بېلګې دي چې فلسفي رنګ هم لري. له همدې کبله ځینو لیکوالو لیونی فلسفي بللی دی.

طنزیه شعر: هغه شعر ته ویل شوی چې د طنز او مزاح رنګ ولري. په دغه ډول شعرونو کې ژور اجتماعي او انتقادي مطالب د خندا او ټوکو په قالبونو کې رانغاړل کېږي. په دې شعرونو کې ترخې خبرې، په خوږه بڼه کېږي او یا دا چې ترخه وینا په خوږو کې رانغاړل کېږي. پر خلکو ددې ډول شعرونو او لیکنو اغېز زیات وي. له څرګندو او ترخو حقیقتونو څخه دغه ډول بیان ډېر په زړه پورې او اغېزمن راځي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې، د لوست د متن او څرګندونو په پام کې ساتلو سره دغو پوښتنو ته ځواب ووایي:

- پاچا خان ولې خپل زوی غني خان، د اتمانزو آزاد ښوونځي ته د زده کړو لپاره واستاوه؟

ketabton.com - The Digital Library

- ادبي سبک څه ته وايي؟
- پاچا خان د ((انجمن اصلاح الافاغنه)) او ((خدايي خدمتگار)) غورځنگ دکومو هدفونو لپاره جوړ کړل؟
- غني خان ته ولې ځينو ليکوالو د فلسفي شاعر او لېوني فلسفي نوم ورکړی دی؟
- طنزيه شعر څه ډول شعر ته وايي؟

۲ـ د غني خان د شعر مهمې څلور ځانګړنې او يا د هغه د سبک خصوصيات دې څلور تنه زده کوونکي په خپل خپل وار خپلو ټولګيوالو ته تشريح کړي.

۳ـ د غني خان د کتابونو په باب دې يو يو زده کوونکی لنډې لنډې خبرې وکړي، يعنې په لنډيز سره دې يې يو يو معرفي کړي.

ګرامري برخه:

۴ـ د دې لوست (لس ـ لس) صفتونه دي، هر زده کوونکی په خپله کتابچه کې وليکي، له لومړي زده کوونکي څخه دې لوستل پيل شي، دويم زده کوونکی دې تکراري صفتونه نه وايي او همداسې دې تر وروستي شاګرده پورې د لوست د صفتونو (ستاينومونو) لوستل دوام وکړي.

کورنی دنده

زده کوونکي دې د غني خان دغه شعر ولولي:

جنګ ته دی منصور روان　　توپ او نه تفنګ لري

او بيا دې د پاچا خان د نه تاوتريخوالي (عدم تشدد) د نظريې په اړه چې په لوست کې پرې خبرې شوي او ددې شعر په باب لږ تر لږه يو مخيزه مقاله وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

په بهر کې پښتو پوهان

د پښتو ژبې او ادبیاتو څېړونکي، له هېواد څخه بهر د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم شته دي. له ډېر وخت راهیسې دغو څېړونکو د افغانستان او په ځانګړې توګه د پښتو او پښتنو په اړه څېړنې کړې او خپرې کړې یې دي.

دغو کسانو چې موږ یې ختیځ پوهان او پښتو پوهان بولو، د پښتنو د تاریخ، ژبې او ادب په باب داسې څېړنې کړې چې پښتو او پښتانه یې په ټوله نړۍ کې ښه معرفي کړي او پېژندلي دي.

په دې لوست کې به تاسو د هغوی دکار پر ارزښت خبر شئ او دغه راز به د یو څو نامتو پښتو پوهانو د نومونو او کارونو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

ختیځپوهان د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو هغه پوهان او څېړونکي دي چې د ختیځو هېوادونو د ولسونو او ددغو ولسونو د ژوند، تاریخ، کلتور، ژبو او ادب په باب څېړنې کوي. پښتو پوهان هم د همدغو ختیځپوهانو یوه داسې برخه ده چې د پښتنو د ژوند، تاریخ، کلتور او په ځانګړې توګه د پښتو ژبې او ادبیاتو په باب څېړنې ګروېړنې کوي.

په یو شمېر لویدیځو هېوادونو کې له ډېرې زمانې راهیسې داسې پوهان او څېړونکي پېژنو چې په بېلابېلو هدفونو د بېلابېلو اړتیاو و له مخې یې یا پښتو ژبه زده کړې، نورو ته یې ورزده کړې او د پښتو او پښتنو د بېلابېلو اړخونو په اړه یې ارزښتناکې څېړنې کړې دي. یا دا چې په عمومي توګه یې د پښتنو د تاریخ او کلتور پر کومه برخه کې څېړنې کړې دي او بې له دې چې پښتو یې ښه زده وي، د پښتنو د ژوند تاریخ او کلتور له یوې ځانګړې برخې سره یې لهوالتیا پیدا شوې ده او په همدغه برخه کې یې څېړنې کړې دي.

د ختیځپوهانو او پښتو پوهانو کار موږ ته له ډېرو اړخونو څخه د قدر او پاملرنې وړ دی. لومړی خبره خو داده چې د همدوی په وسیله پښتانه پښتو ژبه، پښتني ټولنه او کلتور او ددې ولس ادبیات ددغو پښتو پوهانو له لورې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې پېژندل شوي دي. د دوی په قلم د یو شمېر نومیالیو پښتنو لیکوالو آثار په نورو ژبو ژباړل شوي او دغه لومړنۍ ژباړې د پښتنو او نورې نړۍ یا نورو ولسونو ترمنځ د اړیکو د یو ډېر پیاوړي مزي په توګه غزول شوي دي. دغه راز دغو کسانو د پښتو آثارو په خوندي کولو او راسپړلو کې هم پوره ونډه لرلې ده. ډېر پښتانه لیکوال دې ته اړ شوي دي چې د همدغو ختیځپوهانو له څېړنو څخه د پښتو ژبې او پښتو ادب په اړه ګټه واخلي.

له پښتو او پښتنو سره د لویدیځې نړۍ لهوالتیا په لومړي ګام کې دغې سیمې ته د ښکېلاکي موخو د ترسره کولو په څنګ کې د پام وړ ده. په دې لړ کې پوهاند حبیب الله تړۍ د کتاب ((د مشرق په آسمان کې د مغرب ستوري)) په سریزه کې لیکل شوي:

د شرقي مستعمرو په چلوونکو غربي استعمارګرو کې ځینې داسې کسان هم وو چې د ختیځو ژبو د زده کړې تر څنګ یې ددغو هېوادونو د فرهنګ په باب هر اړخیزې څېړنې هم وکړې، د شرقي ژبو آثار یې په خپلو ژبو ترجمه کړل او د شرق ډېر قیمتي او

ketabton.com - The Digital Library

ناويات آثار يې خپلو هېوادو ته يووړل. اوس د شرقي ژبو ډېر آثار د غرب په کتابخانو کې خوندي دي.

د اروپايي ښکېلاکګرو ځواکونو له پرمختګ سره سم افغانستان د شمال له خوا د روسي ځارانو او د جنوب له خوا د بريتانيا د هند د شرقي کمپنۍ د استعماري پراختيا غوښتونکو تر سترګو لاندې و. افغانستان د خپل ستراتيژيک موقعيت له امله د شمال او جنوب د استعماري ځواکونو د هدفونو د ترسره کولو لپاره ډېر مهم و. له بده مرغه دغو ښکېلاکګرو ځواکونو زموږ د هېواد له واحد تن څخه ځينې ټوټې ټوټې کړې او اوږده کلونه يې دا هېواد د جګړو د لمبو خوراک کړ، خو ځينو نظامي او ملکي مامورينو يې زموږ د هېواد د ژبو او فرهنګ مطالعه هم وکړه. زموږ د ژبو قاموسونه او ګرامرونه يې هم وليکل. زموږ د لرغونو آثارو د منتخباتو ژباړې يې په اروپايي ژبو وکړې.

د اتلسمې ميلادي پېړۍ په وروستيو کې پښتو ژبې، ادب، تاريخ او کلتور ته د استعماري ځواکونو (ځاري روسيې او انګرېزانو دواړو) پاملرنه را اووښتې وه.

په روسيه کې د پښتو په باب کارونه لومړی په جرمني ژبه شروع شول او بيا پکې انګرېزي ژبه هم داخله شوه. په ۱۷۹۱م. کال کې دګولډن شتيت پښتو جرمني قاموس د هغه وخت د روسيې په پلازمېنه (پايتخت) ((سنټ پترزبورګ)) کې خپور شو.

دغه راز له دې وروسته هم په روسيه کې د پښتو او پښتنو په باب څېړنې شوې دي، لکه:

_ د کلا پروت هغه اثر چې په جرمني ژبه (د افغانانو ژبه) په نوم خپور شوی دی.

_ د پروفيسر ډورن پښتو منتخبات او همدارنګه د پښتو ژبې دګرامر او تاريخ په باب د هغه څېړنې، په راوروسته کې د شوروي اتحاد په دوران کې هم په روسي ژبه په سينټ پترز بورګ او مسکو کې او هم د هغه وخت د شوروي اتحاد په نورو جمهوريتونو کې د پښتو ژبې، تاريخ او ادب په باب ډېرې زياتې څېړنې شوې دي.

د ختيځې اروپا په ځينو هېوادونو کې هم د ختيځ پوهنې په ادارو کې پښتو ژبې او ادب خپل ځای پيدا کړ، لکه: د هغه وخت ختيځ جرمني، پولنډ، چک او نور... .

ketabton.com - The Digital Library

د افغانستان ختيځو او جنوبي خواوو ته د هندوستان په خاوره کې راټوکېدونکي ښکېلاک هم د اتلسمې پېړۍ په وروستيو کې پښتو ته پاملرنه وکړه. دوی د زړو ادبانو د کتابونو له پښتو ژباړې څخه په دې لړ کې خپل کار پيل کړ. وروسته يې د پښتو ژبې او ګرامر د کار ساحه هم ډېره پراخه وه او د ژبې د ګرامر، ادب، لغاتو، تاريخ او جغرافيا پر موضوعګانو يې پوره کار وکړ. تر راوړتې وروسته د لويديځې اروپا په ختيځپوهنه کې د پښتو خواته پاملرنه واوښتله او په راوروسته کې په لسګونو ختيځپوهانو په جرمني، انګليسي، فرانسوي او ايټالوايي ژبو د پښتو ژبې، ادبياتو، تاريخ او فرهنګ په باب مقالې، رسالې او کتابونه ليکلي دي او دا هلې ځلې تراوسه پورې کله په شور او کله پښه نيولې روانې دي.

ددغو پښتو پوهانو کارونه په ډېرو برخو کې ارزښتمن دي او البته په ځينو برخو کې به نيمګړتياوې هم لري. د پښتو د فرهنګ او ژبې د پېژندنې او معرفې په باب چې کوم کارونه د پښتنو له خوا شروع شوي دي، زياترو د همدغو ختيځپوهانو له آثارو ګټه اخيستې ده. زمونږ د ډېرو ادبي شخصيتونو او کتابونو په باب يې معلومات ددغو ختيځپوهانو له اثارو اخيستي دي.

پوهاند ډاکټر حبيب الله تږي هم د ختيځپوهانو په اړه د خپل کتاب په سريزه کې په زړه پورې خبرې لري. هغه وايي:

څرنګه چې پښتانه د خيبر د درې يا په اصطلاح د پخواني هند د دروازې او د دغې ستراتيژيکې ساحې د نورو لارو شاوخوا پراته دي، نو له دې امله يې د شرق او غرب ترمنځ په هغو ډغرو کې ډېر مهم موقعيت لرلی دی چې په لويديځ کې (ستره لوبه) بلل شوې ده. دا ستره لوبه چې تخميناً دوه پېړۍ دمخه پيل شوه، تراوسه هم په يوه يا بله بڼه دوام لري. غربي پوهانو د پښتو په باره کې مطالعات په حقيقت کې همدغه د ختيځ او لويديځ ترمنځ د ډغرو يا سترې لوبې په لړ کې پيل کړل. داسې چې د لوبې لومړني لوبغاړي يعنې انګلستان او روسيه دواړه په خپلو ډغرو کې د پښتنو خاص اهميت ته متوجه شول او پښتني مطالعات په تېره بيا د پښتو ژبې زده کړه او څېړنه يې د خپلې سيالۍ ډېره مهمه

ketabton.com - The Digital Library

برخه وګڼله.

په اروپا کې د پښتو ژبې زده کړه په حقیقت کې زیاتره یې د همدغه احساس پر بنسټ پیل شوه، خو باید وویل شي چې نه د ټولو غربیانو د پښتو ژبې د زده کړې او مطالعې لامل همدا احساس و او نه په پښتونخوا کې د اروپا د پوهانو څېړنې یوازې په پښتو ژبه پورې محدودې پاتې شوې، بلکې غربي پوهانو د بېلابېلو هدفونو پر بنسټ د پښتنې ټولنې د بېلابېلو اړخونو په باره کې خپلې مطالعې پراخې کړې او په نتیجه کې دغو پوهانو د نولسمې پېړۍ له نیمایي نه د شلمې پېړۍ تر لومړیو پورې په دې برخه کې ډېر زیات آثار تالیف او ترجمه کړل. ددغو آثارو یو شمېر یې دومره پاخه او معتبر دي چې تراوسه یې بیا چا ساری ونه لیکه.

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې زیات شمېر پښتو پوهان تېر شوي او په ځینو هېوادونو کې اوس هم په هلو ځلو اخته دي. د دوی شمېر دومره زیات دی چې د ټولو په هکله خبرې ډېر وخت غواړي، دلته یې یوازې ځینې مهمې څېړې په لنډیز سره پېژنو:

بوریس انډریویچ ډورن: په ۱۸۰۵م. کې په جرمني کې زېږېدلی او هلته یې لوړې زده کړې په ختیځپوهنه کې ترسره کړې دي. په ځوانۍ کې د روسیې د دولت په غوښتنه هغه هېواد ته لاړ او بیا نو د ژوند تر پای پورې هلته پاتې شو.

پروفیسور ډورن د ختیځو ژبو له قلمي پانګو سره زیاته مینه لرله او د لندن او اکسفورډ د کتابتونونو قلمي ذخایر یې ټول لیدلي وو. په روسیه کې د خارکوف او پترزبورګ په پوهنتونونو کې د ختیځو ژبو استاد او بیا د پترزبورګ د عمومي کتابتون مشر و. د نومورې په برکت په روسیه کې د پښتو ژبې د تدریس او څېړنې لړۍ پیل شوه. ډورن په پترزبورګ کې د پښتو د قلمي نسخو په راټولولو کې ستره ونډه لرله.

د ډورن ((پښتو منتخبات)) د ډېر ارزښت وړ اثر دی. هغه له بېلابېلو قلمي نسخو څخه د پښتو یو شمېر کلاسیک منظوم او منثور متنونه راغونډ کړي، تدوین او چاپ کړي او بیا یې خپاره کړي دي.

ketabton.com - The Digital Library

هنري جورج راورټي: د ختيځ پوهانو او پښتو پوهانو په لړکې انګرېز پښتو پوه جورج راورټي د پښتو ژبې او ادب په لړکې سترکارونه کړي دي. هغه په ۱۸۲۵م. کې په انګلستان کې زېږېدلی او په ځوانۍ کې يې په هندوستان کې نظامي کار پيل کړ. په دغه لړکې يې د هغه استعداد له مخې چې لاره يې، د هندوستان يو شمېر ژبې زده کړې او کله چې پښتونخوا ته تبديل شو، خپله ټوله پاملرنه يې پښتو ژبې، قوم پېژندنې او ددې سيمې جغرافيې ته وارولله. د راورټي په مهمو کارونو کې د هغه لوی پښتو ګرامر دی چې څو ځله يې چاپ کړی دی. پښتو انګليسي قاموس او د ((ګلشن روه)) په نوم کتابونه يې ډېر ارزښتمن دي. په ((ګلشن روه)) کې يې له سريزې وروسته د پښتو نثر او نظم غوره بېلګې راټولې کړې دي. د يو شمېر نورو کتابونو ليکوال هم دی.

هنري والټر بيليو: په ۱۸۳۴م.کال په هندکې زېږېدلی دی. د پښتو او پښتنو په اړه يې زيات آثار ليکلي دي. ((پښتو ګرامر)) او ((پښتو ډکشنري)) يې تر ټولو مشهور دي. نور ډېر آثار يې هم ليکلي دي.

تور برن: تور برن په بنو کې د برتانوي هند د حکومت د يو مامور په توګه کار کاوه. وروسته يې د پښتنو له ژوند، فولکلور، متلونو، کيسو او سندرو سره ځانګړې مينه پيدا شوه، هغه يې راټول او په ۱۸۷۶م. کال کې يې د ((بنو- زمور افغاني سرحد)) په نوم چاپ او خپور کړ.

جيمز ډارمستټر: دغه نومیالی ختيځپوه او پښتو پوه په ۱۸۴۹م. کال کې په فرانسه کې زېږېدلی دی. په پاريس کې يې په ادبياتو کې تر دکتورا پورې زده کړې وکړې. په ۱۸۸۶ _ ۱۸۸۷م. کلونو کې په هندکې د ژبنيو پلټنو دنده وروسپارل شوه. په بمبئي، پېښور او هزاره کې يې څېړنې ترسره کړې.

د نومورې مهم اثر ((د پښتونخوا د شعر هار و بهار)) نومېږي چې د انګرېزانو په وړاندې د پښتنو د ولسي شاعرانو حماسي او تاريخي سندرې او چاربيتې يې پکې راټولې کړې دي. د دارمستټر دغه اثر او د پښتو په باب د هغه نور ارزښتمن آثار او څېړنې

ketabton.com - The Digital Library

د زيات قدر وړ دي. په ختيځپوهانو کې ډارمستټر هغه څېړونکی دی چې د مقايسوي څېړنو له مخې دې پايلې ته ورسېد چې پښتو د هندو آريايي ژبو په لويديزه يا آرياني څانګه پورې اړه لري.

پروفيسر مارګن ستيرن: په ۱۸۹۲م. کال کې په ناروې کې زېږېدلی او د اروپا په بېلابېلو پوهنتونونو کې يې د هندو اروپايي ژبو د تدريس چارې پرمخ بيولې. د پښتو ژبې د څېړنې لپاره يې پښتونخوا او افغانستان ته سفرونه وکړل او ددې ژبې په باب يې ډېرې په زړه پورې څېړنې خپرې کړې. نوموړی په اروپا کې د پښتو ژبې د معاصر او نوي تحقيق او تدريس له سترو استادانو څخه و، د پښتو ژبې او ګرامر په اړه خورا مهم آثار لري.

د يو شمېر نورو پښتو پوهانو به يوازې په نومونو بسنه وکړو:

جان ګوردن لاريمر، ډيوډ لاريمر، روس کيپل، هاول (څلور واړه د انګلستان)، پروفيسر اسلانوف (د پخواني شوروي اتحاد)، ډاکټر پنزل (اتريشی)، ډاکټر برژي بيچکا (د چک جمهوريت)، پروفيسر ليبيديف، پروفيسور دوريانکوف، مېرمن کالينينا، مېرمن ګراسيموا، و. کوشيف، ګ. ف. ګيرس (ټول د پخواني شوروي اتحاد او اوسني روسيې) ډاکټر ميکنزی (د انګلستان)، منو هرسنګھ بترا (د هندوستان) صولت شاه مېرګن (د تاجکستان)، عارف عثمانوف او عبدالحفيظ غني يف (د ازبکستان) جونز انيوالډسن او فين تيسين (د ډنمارک)، ژاک لوتس (د جرمني)، سبيستيان هاينه (د جرمني ځوان پښتو پوه) او يو زيات شمېر نور...

د متن لنډيز:

د نړۍ په ګوټ ګوټ او په ټېره بيا په لويديزه نړۍ کې يو شمېر داسې پوهان و و، يا اوس هم شته چې د پښتنو د تاريخ، کلتور، جغرافيې، او د پښتو ژبې په اړه يې څېړنې

ketabton.com - The Digital Library

کړې دي. د بېلابېلو اړتياو و او موخو له مخې دوی دغه کار ته مخه کړې ده. د دوی علمي کار موږ ته له څو اړخونو څخه زيات ارزښت لري:

۱ـ دوی د پښتنو ژوند، کلتور، ژبه او ادب نړيوالو ته د هغوی په ژبه معرفي کړي دي.

۲ـ د پښتو ځينې غنيمت قلمي آثار يې له ورکېدو ژغورلي او د نړۍ په معتبرو او محفوظو کتابتونونو کې يې خوندي کړي دي، کنه له موږ څخه به له بده مرغه لکه د نورو ډېرو غنيمت آثارو په څېر ضايع شوي او له منځه تللي وای.

۳ـ د پښتو ادب ډېره ولسي پانګه يې له مرګه ژغورلې ده.

۴ـ د پښتو او پښتنو په باب يې ځينې داسې مهم آثار ليکلي دي چې ساری يې تراوسه پورې نه دی لېدل شوی.

څرګندونې

روسي څاران: څار د روسي واکمنانو له مشهورو څېرو څخه و، کورنۍ سلسله يې د څارانو په نامه يادېږي. (څار) د (تزار) په نامه هم ياد شوی خو اصلي بڼه يې په روسي ژبه کې (څار) دی.

د هند شرقي کمپنۍ: په هندوستان کې د انګرېزانو د استعماري نفوذ او اغېز لومړنۍ بڼه په تجارتي توګه د هند شرقي کمپنۍ په نوم فعاله شوه، د ښکېلاک دغه کمپنۍ په پيل کې هندوستان ته د آبادۍ په نوم راننوتله.

ستراتيژيکه ساحه: دغه اصطلاح هغو سيمو ته کارول کېږي چې د جغرافيايي موقعيت له پلوه ډېره مهمه وي. د افغانستان او پښتونخوا موقعيت ته له جغرافيايي پلوه ځکه د ستراتيژيک موقعيت سيمه ويله کېږي چې د هندوستان ـ منځنۍ آسيا او چين ترمنځ پرته ده. دغه سيمه ځکه تل د زبر ځواکونو له ګواښ سره مخامخ وه او دغه راز دې سيمې دوی ته ځانګړی ارزښت هم لاره.

ketabton.com - The Digital Library

ستره لوبه: د روسانو او انګرېزانو ترمنځ زمونږ په سيمه کې د سيالۍ هڅې چې د رقابت اورنيو پراو ونو ته هم رسېدلې دي، د ستړې لوبې په نوم يادېږي. د هغه وخت دوه زبر ځواکه (روس او انګليس) وو او دلته يې د خپلو ګټو د ساتلو او اغېز لپاره ستره لوبه پيل کړې وه. په معاصر دوران کې هم د نويو زبر ځواکونو لپاره دغه اصطلاح په نوي سياسي مفهوم کارول کېږي.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې يو ځل په خپل خپل نوبت په لوړ غږ ددې متن يو يو پراګراف ولولي او نور دې غوږ ورته کېږدي.

۲ـ د متن له دقيقې لوستنې او اورېدنې وروسته دې اوس زده کوونکي دغو پوښتنو ته بشپړ ځوابونه ورکړي:

- د لويديزوالو له خوا ختيځپوهنه او پښتو پوهنه په پيل کې د کومو هدفونو لپاره پيل شوه؟
- ((د پښتونخوا د شعر هار و بهار)) کتاب کوم پښتو پوه راټول کړی او لومړی يې په کوم ځای کې چاپ کړی دی؟
- د پښتو او پښتنو په اړه د ختيځپوهانو کارونه مونږ ته کوم کوم ارزښتونه لري؟

۳ـ د ټولګي ټول زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. له متن څخه دې د پښتو پوهانو نومونه له ځانه سره وليکي. هره ډله دې له بلې ډلې څخه د يو يو پښتو پوه نوم اخلي او سياله ډله دې ددغه پښتو پوه د هېواد نوم ورته وايي. بيا دې سياله ډله له هغې بلې ډلې څخه همدا ډول پوښتنې کوي. ښوونکی به په پای کې برياليۍ يا زياته بريالۍ ډله اعلان کړي.

ketabton.com - The Digital Library

۴ـ یو یو شاګرد د ټولګي تختې ته راجګېړي او له دغو لغتونو څخه دې یو یو لیکي:

ناویات، مستشرقین، قرینه، مقایسوي

زده کوونکي دې په خپله خوښه ددغو لغتونو معنا کوي او یو څه خبرې دې هم پرې کوي. بل زده کوونکی دې په خپل وار همدغه کار تکرار کړي. لغتونه دکتاب په پای کې معنا شوي، خو لازمه ده چې یو څه خبرې هم پرې وشي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کورونو کې یو ځل بیا دغه لوست په غور سره ولولي، په دې هکله یې که نور معلومات هم چېرته لوستي یا اورېدلې وي، ښه تر ښه، کنه د همدغه لوست عمومي مفهوم دې په شلو کرښو کې په خپل عبارت ولیکي.

خدای دې نه کا چا ته وازې د آزار خولې
دغه خولې دي په معنا کې د ښامار خولې
د یوې خولې له آزاره ووېرېږه
که په عمر دې دعا کاندي هزار خولې
چې پرې راشي د مظلوم د آه سیلۍ
کا له خاورو ایرو ډکې د مدار خولې
چې څېړې د مظلوم د آزار وخوري
د دېوال تر سورې پوچې کا د کار خولې

((حمید مومند))

ketabton.com - The Digital Library

الف جانه خټک



_ د خو تنو ښځينه شاعرانو نومونه پېژنئ؟

_ د کومې ښځينه شاعرې شعر مو ياد دی؟

د پښتو ادب په تاريخي څېړنه کې د نارينه وو تر څنګه د ښځو ادبي هلې ځلې د هېرولو نه دي. په پښتو ادبياتو کې هم په ولسي برخه کې د ښځو ونډه که له نارينه وو زياته نه وي، په هېڅ ډول کمه نه ده. ددې په څنګ کې په لرغوني ادب او اوسني ادب کې هم د ښځو ونډه د پام وړ ده. تاسو د کلاسيکو ادبياتو او اوسني ادب د ځينو ښځينه څېړو په باب په ښه‌ښه تولګيو کې يو څه لوستي دي. په دې لوست کې د پښتو د يوې داسې معاصرې شاعرې په باب غږېږو چې ډېره مشهوره نه ده، خو د شمېر له مخې لږ شعرونه يې ډېر په زړه پورې دي. شعرونو ته يې ځکه ځانګړې پاملرنه وکړئ چې زموږ د ټولنې اوسنيو بدمرغيو ته هم پکې اشاره شوې ده، د کلونو هغه پخوانۍ خبرې اوس هم زموږ د ټولنې لپاره ډېرې نوې دي او داسې ښکاري چې زموږ ټولنې د ذهنيت او فکر له پلوه له بده مرغه په نړۍ اتيا کالو کې د ښځو په برخه کې هېڅ پرمختګ نه دی کړی.

ketabton.com - The Digital Library

د پښتو په اوسنيو ښځينه شاعرانو کې د مېرمن الف جانې خټک نوم د يادولو او ستايلو وړ دی. هغه په ۱۹۲۷م. کال د پښتونخوا د کوهاټ په احمدي باندې کې زېږېدلې ده. تر اتم ټولګي پورې يې زده کړې وکړې او نورې منظمې زده کړې تر نيمګړې پاتې شوې. وروسته يې په شخصي توګه زده کړو ته دوام ورکړ او تر ماسټرۍ پورې يې زده کړې وکړې. ډېره موده په خپل کلي کې د نجونو په يوه ښوونځي کې ښوونکې وه.

الف جانه خټک د وخت له سياسي او ملي موضوعګانو سره هم پوره بلده ده او خپله يې هم ونډه پکې لرله. په پښتونخوا کې د هغه وخت له ستر ملي غورځنګ يا د پاچا خان له خدايي خدمتګار تحريک سره له نظري پلوه ملګرې وه.

مېرمن شاه جهان (پښتو ادب کې د مېرمنو برخه) په نوم يو کتاب ليکلی او په دغه کتاب کې يې د مېرمن الف جانې په اړه داسې ليکلي دي:

د الف جانې ټول کلام له پښتو او پښتنو سره د مينې او محبت نه ډک دی. د پښتنو د زبون حالۍ او بې علمۍ ورته ژور احساس دی. هغه د پښتنو ټوله پسمانده ګي، له علم نه د دوی بې خبري ګڼي. د خپل پښتون قام ترقي يې د زړه له کومې اواز دی او دا يې لويه آرزو ده چې پښتون قام هم لکه د نورو ترقي يافته قومونو د ترقۍ هغه لوی معراج ته ورسي چې د نړۍ نور ترقي يافته قومونه ورته رسېدلي دي.

الف جانه خټک پښتون قام د غفلت له خوب نه راويښوي او د پرمختګ او ترقۍ په بهير کې د برابرې برخې د اخيستلو لپاره خپل احساسات دا رنګ څرګندوي:

پښتونه پورته شه قامونو کې خپل قام پورته کړه
بيا په دنيا کې د پرېوتي پښتون نام پورته کړه
بيا په دنيا کې د قامونو انجمن جوړېږي
دې انجمن کې د ګمنامه پښتون نام پورته کړه
بې له نظامه ترقي د قوم ممکنه نه ده
قام منظم کړه او معيار بيا د خپل قام پورته کړه

ketabton.com - The Digital Library

پرېوتي قام له ترقي بويه د برق په رفتار
د هر سحر په مقابل کې خپل مانبام پورته کړه
د يو څو کسو ترقي ته ترقي مه ګڼه
که ترقي غواړې د قام هر خاص و عام پورته کړه
فخر افغان نه مې پيغام د ترقۍ راوړی
په دوارو لاسو دا پيغام په احترام پورته کړه
د جهالت الزام په تا باندې په ځای لګېږي
د خپل تعليم انتظام وکړه دا الزام پورته کړه
د خپلې ژبې ترقي دې چې هم هېره نه شي
د انګرېزۍ په شان معيار د خپل کلام پورته کړه
نر که دماغ وي ستا د قام ښځې يې زړه وګڼه
که ترقي دې وي مقصد ددې مقام پورته کړه

په دغه نظم کې چې اوس يې تاسو لولئ، الف جانې څټک د خپلې ټولنې يوې سترې نيمګړتيا ته اشاره کړې ده.

دا مې مطلب نه دی چې ظلم د خپل پلار وښايم زړونه وريته د خپلو خويندو په انګار وښايم
زړه مې دا غواړي چې راانده سماج ته لار وښايم د رواجې پردې نقصونه تار په تار وښايم
خدايه د ژبې طاقت د زړه طاقت راکړې
که په غلطه لاره ځم ته هدايت راکړې
صافې اوبه تازه هوا ده د هر چا د پاره نه چې يوازې پيدا کړي خدای دي ستا د پاره
دوارې څيزونه دي ويړيا شاه و ګدا د پاره تا پابندي پرې لګولې ده زما د پاره

ketabton.com - The Digital Library

ته د رحمن په خزانو دومره بخیل ولې یې؟

مخ اړو ونکی له قرآن، تورات، انجیل ولې یې؟

لاړ شه په جیل کې ته د سپنسن د قاتلانو هغه طوق هغه بهرې وګوره

کور کې د خپلې ښځې حال یو ګرې وګوره تنګ نغرې، شلېدلی کټ ماته پهرې وګوره

وایه ستا ښځې هم د قتل ارتکاب کړی دی

یا دې ځان خپل په مجرمانو کې حساب کړی دی

داسې پرده د زنانه زنانه پن زیاتوي خوشې تعداد د تیار خورو په وطن زیاتوي

ستا او زما په شان بیمار لونه زامن زیاتوي ضعف د بدن زیاتوي وهره د دښمن زیاتوي

نن د بیکارو خلکو ځای په مخ د مزکې نشته

دې بجلي ګر ته ضرورت د اور بلکې نشته

یاد لره ستا یو وزر مات دی الوتلای نه شې پښه دې ده ګوډه د ترقۍ په بام ختلی نه شې

قافلې لاړې ورپسې ته رسېدلی نه شې شرم اخیستی یې په ځای پاتې کېدلای نه شې

په سمه لاره کې ولاړ حیران پښېمان ولې یې؟

ستا خپل عمل دی درته وړاندې، اوس ګرېوان ولې یې؟

ته د مذهب په نوم په ما څومره ظلمونه کوې ته یې مذهب بولې زما په خیال کفرونه کوې

خدای او رسول باندې د غیر اعتراضونه کوې دین د اسلام بدناموې ټول رواجونه کوې

راشه چې زه درته د خپل دین حقیقت وښایم

هسې د خولې خبرې نه حدیث آیت وښایم

خلاص کړه قرآن او د قرآن سوره نور وګوره ته د عالم حکیم کلام په حکمت پور وګوره

سرسري مه ګوره په عقل په شعور وګوره پس له هغې نه خپل رواج او خپل دستور وګوره

ستا په عمل کې له آیت نه تجاوز ولې دی؟

د خدای رسول پر ځای دا ستا حکم نافذ ولې دی؟

ketabton.com - The Digital Library

د متن لنډيز:

زمونږ په ادب کې د ښځو ونډه په پوره توګه د پام وړ ده. په ولسي ادب کې که د ښځو ونډه له نارينه وو زياته نه وي، لږه هم نه ده. ددې په څنګ کې په لرغوني او اوسني ادب کې هم مونږ يو شمېر نومیالی ليکوالې او شاعرانې لرو. په اوسني پښتو ادب کې الف جانه ختک يوه تکړه شاعره ده. هغه په ۱۹۲۷م. کال د پښتونخوا په کوهاټ کې زېږېدلې او د خپل وخت د ملي- اصلاحي حرکت (خدايي خدمتګار) ملګرې وه. په پښتني ټولنه کې د ښځو د بې قدرۍ او د زده کړو او تعليم له انساني او اسلامي حق څخه د هغوی د منع کولو په اړه يې دغه شعر د زيات ارزښت او پاملرنې وړ دی. په دې شعر کې چې د (ترکيب بند) په بڼه دی، الف جانه ختکه د هر اورېدونکي او لوستونکي مخې ته د پښتني ټولنې د نجونو او ښځو د ژوند هنداره نيسي او ورته وايي چې اوس نو ته انصاف وکړه او ددغو ناروا وو، نادودو او ظلمونو ځواب ووايه. مونږ ټولو ته ددې شعر د محتوا په اړه ژور فکر لازم دی.

څرګندونه

وښايم: د ژبې د اصولو په پام کې ساتلو سره يې اصلي بڼه (وښيم) ليکل کېږي، خو دلته د الف جانې ختک په دې نظم کې د شعري اړتياوو له مخې (وښايم) راغلی دی.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې د مېرمن الف جانې ختک ددغه نظم (ترکيب بند) يو يو بند په وار سره لولي او د بل کتار يو يو تن زده کوونکی دې په وار سره ددغه بند په باب دوه دقيقې خبرې کوي.

ketabton.com - The Digital Library

۲ـ ټول زده کوونکي دې پر پنځو ډلو وویشل شي، هره ډله دې له دغو موضوعګانو یوه موضوع انتخاب کړي او په خپلو کې دې خبرې پرې وکړي. هره ډله دې خپل استازی وټاکي او بیا دې پر خپله موضوع ټولګیوالو ته معلومات وړاندې کړي.

- په ټولنه کې د ښځو ونډه
- په زده کړو کې د ښځو او نارینه وو برابره ونډه
- خدایي خدمتګار حرکت
- په پښتني ټولنه کې د ښځو په اړه ناوړه دودونه کوم کوم دي؟
- الف جانه خټک څه ډول شاعره ده؟

۳ـ یو یو تن زده کوونکی دې د الف جانې خټک د نظم له دغو لاندې لغتونو څخه یو، یو په داسې جمله کې وکاروي چې زموږ په ټولنه کې د ښځو له ژوند سره اړه لري:
ترقي یافته، ظلم، رواج، پابندي، پنجره، هدیره، ونډه.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلو سترګو د لیدلو حالاتو یا په خپل کلي- کور کې د اورېدو له مخې پر نجونو او ښځو د ظلمونو او نادودو یوه یوه کیسه ډوله لیکنه وکړي.

ښه سړی د چا په بدو نظر نه کا
که څوک بد ورسره کاندي دی به ښه کا
په بارداره ونه تل وربري کانې
ورته کوره چې بارداره ونه څه کا
په کینه په حسد هېڅ د چا ونه شي
هر سړی چې حسد کاندي ځان اوبه کا
((خوشحال خان خټک))

ketabton.com - The Digital Library

کیسه او ژوند

ـ کومې کومې کیسې مو لوستي دي؟

ـ آیا کومه ولسي یا فولکلوري کیسه مو زده ده؟

ـ له کیسو سره مو ولې مینه ده؟

خامخا به مو ځینې کیسې لوستي یا اورېدلې وي. ښایي په کور کې مو له نیا، نیکه یا مور و پلار څخه کیسې اورېدلې وي. دکلي له کومې بوډې ښځې یا بوډا څخه به مو هم کیسې اورېدلې وي. دغه راز تاسو په تېرو ټولګیو کې ځینې کیسې لوستي او دکیسو په اړه مو ځینې معلومات ترلاسه کړي دي.

په دې لوست کې هم دکیسو په اړه خبرې لرو. دا چې کیسې له ژوند سره څه اړه لري؟ یا دا چې کیسې څنګه له ژوند سره سمې راروانې او تر دې دمه رارسېدلې دي؟

ketabton.com - The Digital Library

دکیسې او داستان په اړه کله کله دا خبره کېږي چې کیسه ژوند دی او ژوند کیسه. ددې خبرې معنا داده چې کیسه د ژوند له پېښو سره تړلې ده او د ژوند د پېښو لړۍ په حقیقت کې د ژوند د کیسې جریان او تسلسل دی. ددې خبرې معنا دا نه ده چې د ژوند د پېښو عادي بیان او یا د ژوند د پېښو کټ مټ لیکل، دا نو کیسه او داستان دی. انساني ژوند د پېښو یو داسې پرله پسې تسلسل دی چې د کیسو لپاره ترې پېښې چانې او انتخابېږي.

د ژوند د عادي جریان او کیسې په باب یو لیکوال وایي:

ژوند ښایي بې نظمه، بې ترتیبه او کله هم ښایي بې هدفه وي. پېښې په پاشلي ډول واقع کېږي. دا د ژوند په واقعیتونو پورې تړلې خبرې دي. که دغه شیان لکه هماغسې چې دي، تقلید شي، ښایي هېڅ ډول ټولنیز او هنري ارزښت ونه لري، ځکه خو نه شو ویلای چې کیسه د ژوند ټکی پر ټکی تقلید دی، بلکه کیسه باید د ژوند داسې تقلید وي چې د کیسه لیکونکي فکر او عاطفه ورسره ملګرې شوې وي او یو بل ډول بدلون یې پیدا کړی وي.

کیسه د ژوند یوه هنرمندانه طرح ده. د کیسې تاریخ دومره زوړ دی، لکه د ژوند تاریخ. کیسه له انساني ژوند سره په یوه موازي کرښه کې روانه ده او همداسې به روانه وي. هلته چې انسان و، کیسه هم وه، هلته چې ژوند و، کیسه هم وه. ژوند په تشه (خلا) کې نه کېږي، انسان په خلا کې ژوند نه شي کولای او کیسې هم په خلا کې نه شي ایجادېدلای.

لرغوني انسانان چې د طبیعت له پېښو سره په مبارزه او مجادله کې وو، غوښتل یې چې پر دغو پېښو او ستونزو لاسبرۍ پیدا کړي. زیاتې هیلې او غوښتنې یې لرلې. غوښتل یې چې والوزي، لرې او ناپېژندل شوې سیمې او ځمکې وګوري، د غرونو څوکو ته وختلای شي او د سیندونو تل ته ځانونه ورسوي، څرنګه چې ددغو کارونو له سرته رسولو څخه بې وسه وو، خیال ته یې پناه وړله. داسې افسانې یې جوړولې چې وکولای شي خپلې دغه ډول هیلې پکې تسکین کړي.

په لومړي سر کې افسانې سختې خیالي او له عجایبو ډکې وې. ښاپېریو او دیوانو ته یې پناه وړله؛ خو انسانانو ورو ورو په کیسو کې په خپل فکري او ذهني توان تکیه

ketabton.com - The Digital Library

وکړه.

کیسه د افسانې، نکل، حکایت، داستان او په نورو نومونو هم یادېږي او اوس دغه نومونه هر یو د جلا مفاهیمو لرونکي دي. په کیسه، داستان او نکل کې که له یوې خوا د ژوند تصویر او انعکاس پروت دی، له بلې خوا د کیسو تاریخي سیر ته پاملرنه هم ډېره په زړه پورې ده. دا چې کیسو څنګه دوام کړی او څه بدلونونه پکې راغلي دي؟ یو لیکوال لیکي:

د نړۍ ډېر څېړونکي دا خبره کوي چې افسانه د معاشرې د وګړو د اجتماعي مزاج نقشه ده. په کوم ځای کې چې د معاشرې څرک لګېدلی دی، هلته د افسانې څرک هم لګېدلی دی. موږ د ډېرو معاشرو حالات لولو، ولې د معاشرو جوړښت له تاریخي دور نه مخکې هم و او په دغو معاشرو کې هم د افسانو شتون حتمي و. ځکه خو موږ ویلای شو چې له تاریخ نه په مخکې دوره کې هم افسانې له ډولونو څخه په یو ډول وې، په دغه دوره کې به هم انسانانو له ډولونو څخه په یو ډول د خپل خیال اظهار کاوه.

د نړۍ لرغوني ولسونه، تمدنونه او فرهنګونه د لرغونو کیسو جوړوونکي، ویونکي او بیا لیکونکي دي. سره له دې چې دا ډېره ستونزمنه خبره ده چې موږ وکولای شو، لومړنۍ افسانې او کیسې پیدا کړو، ځکه چې د زمان تېرېدلو د کیسو د تاریخ پر پاڼو هم ګردونه وراچولي دي. خیال بخاري په دې اړه وایي:

انساني ژوند ډېر زوړ دی. ددې په مقابله کې د لیک لوست چل بني آدم ډېر وروسته زده کړی دی. هسې خو کیسې له انساني ژوند سره سمې رارواني دي او په هر ملک او هر قام کې موجودې دي، ولې که یو څوک د کیسې لټون په ماضي کې کول غواړي، نو د یو څو زرو کلونو هغه خوا به بالکل تیاره وموميي او د تاریخ پاڼې به ورته بالکل سپینې ښکاره شي. هر کله چې کیسه د تاریخ رڼا ته راوتې ده، په دې کې له زړو نه زوړ یادښت د مصر، هند او یونان دی.

د مصر کیسې له میلاده مخکې نږدې ۲۰۰۰ کال ته رسېږي. دا کیسې زیاتره د جادو او ټوټکو په اړه دي. د یونان په پخوانیو کیسو کې د حکیم اسیپ (لقمان حکیم) کیسې ډېرې مشهورې او لرغوني دي. د هند حماسي او رزمي پخوانۍ کیسې هم د زیات شهرت

ketabton.com - The Digital Library

لرونکې دي.

د کیسو په تاریخي بهیر کې د زمانې په تېرېدو سره د بڼو او محتوی (موضوع) له مخې بېلابېل بدلونونه راغلي دي. د نړۍ له ودې سره د خلکو په فکري وده کې هم بدلون راغلی. ادبیاتو او ادبي روایتونو هم لازم بدلون موندلی دی. له همدې کبله هغه کیسې او افسانې چې په ډېرو لرغونو زمانو کې ویل شوي او یا لیکل شوي دي، د نن له کیسو سره څرګند توپیرونه لري.

په پښتو ژبه کې کیسې او افسانې ډېرو لرغونو زمانو ته رسېږي. په پښتنې ټولنه کې په کلیو، باندو، کورونو، ډېرو او حجرو کې له کیسو سره د عام ولس مینه دا څرګندوي چې زمونږ په ټولنه کې له کیسو سره مینه ډېره پخوانۍ ده.

په دې اړه د تاریخي مطالعې په لړ کې کله کله د افسانې، کیسې او نکل یا داستان له بېلابېلو اصطلاحاتو سره مخامخ کېږو او کله کله د یوې پر ځای بله اصطلاح هم کارول کېږي او آن چې د څېړونکو ترمنځ هم پکې اختلاف لیدل کېږي. کله چې موږ د افسانې نوم اخلو، نو باید دې ټکي ته پاملرنه وکړو چې افسانې اوس یو خاص مفهوم پیدا کړی دی. په افسانه کې هر څه په خیالي پېښو او څېړو او شیانو پورې تړل شوي دي. مهال پکې چندانې اهمیت نه لري. له یو کال څخه تر زرو کالو پورې وخت پکې انتخابېږي. د افسانو د دو و کرکټرونو ترمنځ جنګ څو کاله هم دوام کوي. د افسانې د جنګ میدان د ټولې ځمکې مخ هم انتخابېدای شي، کولای شي د وینو رودونه وبهوي. خپل قهرمانان د نړۍ له یو سر څخه بل سر ته په یوه ګړۍ کې ورسوي.

افسانه یوازې د خیالونو او کله کله د خرافاتو پر اړخ څرخي؛ خو نکل بیا داسې نه دی.

نکل ته پښتو ولسي کیسې یا پښتو ملي کیسې هم وایو. د افسانو او داستان دواړو ځانګړنې لري. له افسانې سره یې توپیر دادی چې نکل تر ډېره ځایه پورې د چاپېریال او ټولنې له مسایلو سره اړخ لګوي او له داستان یا کیسې سره یې توپیر دادی چې هغه د چاپېریال مسایل، قهرمانان او زمان یا مکان په یو څه مجرده بڼه راوړي.

ددې خبرې معنا داده چې نکل ولسي بڼه لري، موږ ورته ولسي کیسې هم وایو او

ketabton.com - The Digital Library

مجردې مو ځکه وګڼلې چې کله کله د زمان، مکان، قهرمان او کرکټر، ټولنې او چاپېريال ترمنځ منطقي اړيکې نه ليدل کېږي او يا کمې ليدل کېږي.

داستان او کيسې سره ورته مفاهيم دي. دلته ټولنه او يا کرکټرونه په هر اړخيزه توګه تشريح کېږي. داستان ليکونکي خپل اتلان له ټولنې څخه ټاکي، په ټولنه کې ژوند پرې کوي او د ټولنې تودې سړې پرې ګوري او هرې لورې ژورې ته چې مخامخ کېږي، د يو عادي انسان په توګه ورسره لاس او پنجه نرموي، يا په ډېره لږه (او ممکنه) فوق العاده ګيۍ ورسره چلند کوي.

کيسې د ټولنيز ژوند منعکسوونکې او څرګندوونکې هنداړې دي او موږ کولای شو چې د وخت ډېر عمده او بنسټيز مسايل په کيسو کې ولټوو.

د متن لنډيز:

کيسه د ژوند له پېښو سره تړلې ده او د ژوند پېښې په حقيقت کې لکه کيسه داسې ده. د کيسې تاريخ دومره زوړ دی لکه د ژوند تاريخ. کيسه او داستان له انساني ژوند سره په موازي او برابره کرښه کې راروان دي، چېرته چې د ژوند څرک شته دی، کيسه هم شته. په پښتو ژبه کې هم کيسې او افسانې ډېرې لرغونې زمانې ته رسېږي. له کيسو سره د پښتنو په کليو، باندو، جونګړو، دېرو او حجرو کې مينه، د ډېرې پخوانۍ لېوالتيا څرګندونه کوي. افسانې زياتره په خيالي پېښو، خيالي څېرو او خيالي څېزونو پورې تړلې وي. نکل ته موږ پښتو ولسي کيسې يا ملي کيسې هم وايو. د خپلې ټولنې او چاپېريال پېښې را اخلي خو کله کله يې رنګ افسانوي کېږي. په داستان يا کيسه کې ټولنه او کرکټرونه په هر اړخيزه توګه تشريح کېږي، اتلان له ټولنې څخه ټاکل کېږي. کيسې د ټولنيز ژوند منعکسوونکې هنداړې دي.

ketabton.com - The Digital Library

عاطفه: په ادبياتو کې او په تېره بيا په کيسه او شعر کې د ((عاطفه)) ((عطوفت)) ((عاطفي بيان)) ((عاطفي چلند)) او داسې نور اصطلاحات ډېر کارول کېږي. موږ کولای شو چې عاطفه په عمومي ډول داسې معنا کړو: مينه، محبت، احساس، مهرباني او نور... څرنګه چې دا د اروا پوهنې اړونده اصطلاح ده، نو له اروايي (رواني) پلوه عاطفه داسې پېژندای شو:

عاطفه هغه رواني اغېز يا غبرګون دی چې له بهرنيو څيزونو، چارو او پېښو سره د مخامخ کېدلو په وخت کې په ذهن کې رامنځته کېږي لکه: محبت، شوق، کينه، قهر او نور...

له تاريخ نه مخکې دوره: دا هغه دوره ده چې ليک يا خط نه و ايجاد شوی. په تاريخي څېړنو کې ددغې دورې څېړل ځکه ډېر اهميت لري او ستونزمن کار دی چې ليکلي اسناد يې نشته. د لرغونپوهنې په څېړنو کې د لرغونو دورو د نښو نښانو له مخې د بېلابېلو دورو او ځانګړتياوو څرګندونه کېږي.

خيال بخاري: اروابنياد خيال بخاري د پښتو تکړه ليکوال و. د پېښور د پښتو اکېډيمۍ له نومياليو څېړونکو څخه و. د ژبنيو او ګرامري څېړنو په برخه کې يې ډېر کار کړی او يو شمېر لرغونو او ادبي متنونو په باب يې هم څېړنې کړې دي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ بېلابېل زده کوونکي دې له دې لوست څخه په ګټه د کیسې او ژوند د رابطې په اړه لنډې لنډې خبرې وکړي.

۲ـ ددغو موضوعاتو په اړه دې درې تنه زده کوونکي خبرې وکړي:

- له کیسو سره د خلکو مینه ځکه زیاته ده چې ... .
- د پخوانیو او اوسنیو کیسو یو څو توپیرونه ... .
- په کیسو کې (عاطفي بیان) څه ډول دی؟

۳ـ زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځواب ووایي:

الف: آیا کیسه د ژوند تقلید دی؟ که نه، نو له ژوند سره یې څه رابطه ده؟

ب: د کومو هېوادونو یا تمدنونو لرغوني کیسې ډېرې مشهورې دي؟

ج: د افسانې، نکل او داستان یا کیسې توپیرونه کوم کوم دي؟

۴ـ په ټولګي کې دې دوه تنه زده کوونکي په خپله خوښه یوه یوه کیسه او یا حکایت په لنډیز سره واوروي چې یا یې چېرته لوستی یا یې له چا اورېدلې وي. یو یو تن زده کوونکی دې ددغې کیسې د ټولنیز ارزښت یا له ژوند سره ددې کیسې په رابطه لنډې لنډې څرګندونې وکړي.

کورنۍ دنده

هر زده کوونکی دې یوه یوه کیسه له خپله ځانه په کتابچه کې وليکي. کیسه یې باید دغه شرایط ولري:

۱ـ کیسه باید له خپل ځانه وليکي.

۲ـ د یوې داسې پېښې په اړه یا د یو داسې چا په اړه دې یې وليکي چې د هغه په باب نېه معلومات ولري.

ketabton.com - The Digital Library

۳_ پېښه يا هغه شخص يا کرکټر د کيسه ليکنې ارزښت ولري.

۴_ کيدای شي دا پېښه يې خپله ليدلې وي، که هېڅ داسې پېښه يې نه وه ليدلې، بيا دې يې د داسې يو چا يا پېښې په اړه وليکي چې له چا يې اورېدلې وي، خو تاسو ته پکې پوره معلومات ترلاسه شوي وي.

يادونه:

کيسې به په پرله پسې توګه په ټولګي کې اورول کېږي او دې غوره کيسې به ترې انتخابېږي او دغه دې کيسې به د ښو کيسو په توګه د ټولو له خوا ستايل کېږي او بيا به د لېسې په ديوالي جريده او يا چاپي جريده او مجله کې چاپېږي.

تـــور تـــه ځـمـه سـپـيـن تـــه ځـمـه زېـــر تـــه ځـمـه
د جـــانـــان د کـــور پـوښـتـنـه تـــرې کـومـه
هـــر يـــو مـــا تـــه در د خـپـلـې لـيـلـې ښـايـي
اوس پـــه مـنـځـه لار کـــې نـاســت کـــرم رېـبـمـه

❁❁❁

دا د ژونـــد کـــېږي وېږي او اوږدې لارې
چـــې پـــه هـــر قـــدم کـــې ډېـــرې خـــطـــرې دي
خـــو چـــې مـخـامـخ د پـــت، مـيـنـې مـنـــزل وي
نـــو لـــه تـــولـــو شـــېـريـنـيـو نـــه خـــوږې دي

اجمل ختک

ketabton.com - The Digital Library

شفیق
او پښتو لنډه کیسه

ـ د پښتو دکومو لیکوالو لنډې کیسې مو لوستي دي؟

ـ په پښتو ژبه مو د لنډو کیسو کوم کوم کتابونه لوستي دي او یا یې نومونه پېژنئ؟

د پښتو د اوسني یا معاصر ادب په عمومي مطالعه کې تاسو د محمد موسی شفیق نوم اورېدلی دی. شهید شفیق د پښتو کیسه لیکنې په لړ کې هم د یادونې کار کړی دی او ددې په څنګ کې چې شاعري یې کړې ده، په زړه پورې لنډې کیسې یې هم لیکلې دي.

د تېرو ټولګیو په لوستونو کې مو د پښتو لنډې کیسې پر تاریخچه هم عمومي معلومات ترلاسه کړي دي. راځئ چې په دې لوست کې د خپل دغه پیاوړي لیکوال (محمد موسٰی شفیق) د لنډو کیسو په باب بشپړ معلومات ترلاسه کړو.

ketabton.com - The Digital Library

د ډېرشمو هجري شمسي کلونو په بهير کې (د شلمې پېړۍ په درېمه لسيزه کې) په هېواد کې څو داسې ليکوال راميدان ته شول چې د پښتو لنډې کيسې په برخه کې يې يو څه اساسي کارونه وکړل. په دوی کې يو شمېر يې د نړۍ له داستاني ادب سره زيات او يو څه يې تر يو حده اشنا وو. دوی د پښتو کيسه ليکنې په برخه کې نوي ګامونه اوچت کړل.

شهيد محمد موسی شفيق په همدغه ډله ليکوالو کې شمېرل کېږي. سره له دې چې هغه هم يا زياتې لنډې کيسې ونه ليکلې او يا يې موږ ته ټولې لنډې کيسې راونه رسېدلې، خو هغه څه چې تر اړاتې شوي او نن زموږ په لاس کې دي، د خپل وخت د ډېرو ښو آثارو په توګه به تل خپل ارزښت وساتي.

د شفيق د لنډو کيسو يوه ټولګه د ((عبقريان)) په نوم په ۱۳۴۶ هـ. ش. کال په کابل کې خپره شوې ده. په دغه مجموعه کې په دري ژبه د هغه يوه لنډه کيسه د ((عبقريان)) تر سرليک لاندې او دغه نورې څلور پښتو لنډې کيسې خپرې شوې دي: ((هفته کودک))، ((ډاکټر صاحب))، ((د تمې کاروان)) او ((برکت)) دغه ټولې کيسې هغه په ۱۳۳۸ او ۱۳۳۹ هـ. ش. کلونو کې ليکلې دي.

دا هغه وخت و چې زموږ لنډه کيسه د خپل يون په ډېرو لومړنيو پړاوونو کې وه. شفيق او ددغه وخت يو شمېر نورو ليکوالو د پښتو لنډې کيسې د بهير يون ته نوې ولولې وروبښلې. د شفيق دغه کيسې په داسې وخت کې ليکل شوي چې نومورې په مصر او بيا وروسته په امريکا کې زده کړې ترسره کړې. د نړۍ بېلابېلې برخې يې وليدې. له عربي او انګليسي ادبياتو سره اشنا شو او دغه اشنايي به هم د هغه د آثارو په پياوړتيا کې لاس لرلی وي.

د محمد موسی شفيق ددغو لنډو کيسو د ځانګړتياوو په باب بايد دغه ټکي په نظر کې ولرو:

۱ـ د هغه وخت د ډېرو پښتو ليکوالو په تناسب او پرتله، د شفيق د کيسو نثر په زړه پورې او داستاني دی. د هغه وخت د يو شمېر کيسو د (په اصطلاح) ډېر رسمي او

ketabton.com - The Digital Library

مطبوعاتي نشر اغېز پرې نشته چې د ژباړل شوي نثر گومان دې پرې وشي.

۲ـ طنز، د شفيق د لنډو کيسو يوه مهمه برخه ده. د طنز مالگه د هغه په ټولو کيسو کې شته. د طنز او خندا دغه مالگه د هغه کيسو ته لا په زړه پورې بڼه ورکړې ده.

د ((ډاکټر صهب)) په نوم د هغه دکيسې ځينو برخو ته په دې اړه پاملرنه کوو:

((دی لا په همدې چورت کې و او د خپلې آينده وېرې اخيستی و چې ناڅاپه ورنه د هوسۍ ترور پوښتنه وکړه:

ـ ډاکټر صاحب! ستا معاينه خانه چېرته ده؟

او چې ډاکټر صاحب ځان ځواب ته جوړاوه، هغې ترې بې واره پوښتنې وکړې:

ـ د ورځې څو مريضان درته رائي؟ يعنې د ورځې گټه دې څومره ده؟ په کومه شفاخانه کې نوکر يې؟

ډاکټر صاحب په ډېر مشکل وکولی شو چې د هوسۍ د ترور له يوې وقفې نه استفاده وکړي او ووايي:

ـ صاحب وبښئ زه د طب ډاکټر نه يم.

ـ ماته خو ټولو ويلي وو چې ته ډاکټر يې!

ـ ډاکټر يم، مگر د طب نه.

ـ يعنې اشنايان دې درته هسې په ټوکو ډاکټر وايي؟

ـ نه زه د ډاکټرۍ شهادت نامه لرم.

ـ نو څنگه ډاکټر يې چې معاينه خانه دې نشته او د ډاکټرۍ شهادتنامه لرې؟

ـ زه د ادبياتو ډاکټر يم.

ـ يعنې چې څوک په ادبياتو باندې پوهېږي او زمونږ ددې سندرغاړي غوندې ښه ښه شعرونه يې ياد وي، يوازې د هغوی ډاکټرې کوې او د بل چا نه؟

ـ نه صاحب، زه په ادبياتو کې د ډاکټرۍ شهادت نامه لرم.

دلته هوسۍ مداخله وکړه او خپلې ترور ته يې د ادبياتو د ډاکټرۍ د امکان په باب توضيحات ورکړل او ورته يې وويل: په نوره دنيا کې د نورو شيانو ډاکټران هم شته.

ketabton.com - The Digital Library

د هوسۍ ترور هماغسې په تعجب کې وه، غټه جټکه يې خوړلې وه، مګر له ډاکټر نه يې بيا هم پوښتنه وکړه:

_ ښه څو کاله سبق دې ويلی دی؟

_ تقريباً شل کاله.

_ څو کاله په يورپ کې وې؟

_ اته کاله.

_ اوس دلته څه منصب لرې؟

_ استاد يم.

_ استاد يعنې معلم يې؟

_ هو!

د هوسۍ ترور په يو داسې عصباني حرکت له حلقې نه پاڅېده چې پټول يې ګران کار و...))

داکيسه په همدې توګه دوام لري او د هغه وخت په ښاري ټولنه کې د ډېرو مصنوعي ارزښتونو او ناوړه کړو وړو انځورګري پکې د خندا او ټوکو په ښه شوې ده. په حقيقت کې د ښاري ټولنې کمزورۍ او نيمګړتياوې په ژوره توګه خو د طنز او ټوکو ټکالو له مالګې سره يوځای او په زړه پورې کوي.

۳_ په دغو لنډو کيسو کې د هغه وخت د افغاني ټولنې د ژوند د ځينو حالاتو دقيقه څېړنه شوې ده. پر ډېرو اړخونو يې انتقاد شوی دی او دغه برخې د وعظ او نصيحت يا وچ اجتماعي انتقاد په توګه نه دي راغلي، د داستاني بياني اړخونو ته هم تر ډېره حده پاملرنه شوې ده. د ((ډاکټر صاحب)) په کيسه کې يې د يو شمېر افغاني روښانفکرانو او تعليم يافته وو (لوستو کسانو) پر ذهن د پرديتوب زياته غلبه او اغېز ډېر ښه تصوير کړی دی:

((وطن ته د ډاکټر صاحب د ښېرته راتلو نه اوس زيات و کم دري مياشتې تېرې شوې دي. چې په يورپ کې و نو د خپلو وروستيو پنځو کلونو په استوګنه کې ورته دا

ketabton.com - The Digital Library

ضرورت ډېر زيات محسوس شوی و چې بايد د خپل هېواد له ثقافت نه پوره خبر وي. ده هلته وليدل چې په خلکو دې خبرې چندان تاثير نه کاوه چې ده به ورته د فرانسې د لوی انقلاب په باره کې څه ويلای شول، يا به يې ورته د يورپ د فلاسفه وو نومونه صحيح تلفظ کولای شول او د هغوی په باب کې به يې ورته صحيح معلومات ورکولای شول. دا خبرې هغوی ته له ده نه ښې يادې وې. هغوی غوښتل چې دده د وطن د تاريخ، جغرافيې، حقوقو، د فکر طرز او د ژوندانه د فلسفې په باب کې، د خپلو معلوماتو خزانه زياته کړي. هغوی د لامارتين له قصيدو نه پوره خبر وو، مګر د جامي او خوشحال خان په باب يې دومره څه نه وو اورېدلي چې تنده يې پرې ماته شي.

هلته ډاکټر صاحب (د هغه وخت شاګرد) په دې پښېمانه شو چې ولې يې د پښتو او دينياتو معلم صاحبانو ته هغومره غوږ نه و ايښی چې د غرب د فلسفې ښوونکي مستر او پروفيسور ته يې ايښود. د ډاکټر صاحب ښه په ياد دي، يوه ورځ يې له خپلو همزولو او ملګرو سره په پوهنځي کې خبرې کولې او خبره په وارداتو او صادراتو راغله. ده د انګلستان صادرات او واردات څُست وښودل، مګر د خپل وطن د صادراتو په شمارلو کې مانده او پخ راغی او چې بحث په ښارونو شو، نو د يورپ مشهور بندرونه او ښارونه يې په يوه سا حساب کړل، مګر د خپل ملک ورته فقط يو څو مشهور مشهور معلوم وو او نور يې څه ونشو ويلای. ددې نيمګړتيا وو د پوره کولو لپاره ډاکټر صاحب د يورپ په کتابخانو کې د خپل وطن په باب مطالعه وکړه او ګويا د لاس غوټه يې په خوله ايله کوله...)

دا زموږ د يو شمېر روښانفکرو او تعليم کړو ځوانانو د ژوند او فکر هغه موضوع ده چې ښايي په هغه وخت کې به ورته له شفيق پرته ډېر لږ کسان متوجه وو.

۴ـ کوم بل تکی چې د شفيق په کيسو کې خپل ځان ښکاره کوي، هغه د کيسو توصيفي اړخ دی. هغه د خپلو کيسو څېړې (کرکټرونه)، پېښې، فضا او چاپېريال په ډېره ښه توګه توصيفوي. د توصيف له پلوه دغه کيسې خاص ارزښت لري.

د يوې نمونې لپاره ((د تمې کاروان)) په نوم د کيسې يوې برخې ته پام را اړوو:

ketabton.com - The Digital Library

((د يوې وړې کوټنۍ نمر خاته کونج کې يو اوږد او پلن مېز پروت دی چې تقريباً د کوټې درېمه برخه يې نيولې ده. نمر پرېواته او قطبي خواو و ته يې د ديوالـه پورې يو څو داسې سرې چوکۍ پرتې دي چې د څرمنې پوښ او د نرو لرګو بازوګان لري. د چوکۍ د ناستې ځای بوټ راوتلی او د اوسپنې د سيخونو نښې د څرمنو لاندې او چته ښکاره کېږي.

د مېز پر سر باندې د بانجاني وړيو يوه شډله توټه غوړېدلې او د هغې د پاسه يو ديوات، يو قلم، يو جاذب، يو ټيلفون او يوه جنتري پرته ده. د ميز شاته په يوه پراخه بازوداره چوکۍ باندې يو زوړ سړی ناست دی چې يوه عمودي شان خندا يې په ببرو شونډو باندې لکه د کانې د کرښې ښکل ده. د سړي پر سر توره پګړۍ ده چې د يوې تورې بخملي خولۍ نه ښويه تاوه شوې اود تندي د منځ په برابر يې د ګلاب د يو دوه ورځنې غوړېدلي ګل هومره شمله پرېښې ده. د زاړه سړي په غاړه باندې يو سپين کميس دی چې خيرنې ژې يې د ګونجي ګونجي ورمېړ په غاړه له ورايه ښکاري... .))

داسې انځوريز نثر د اروابنياد محمد موسی شفيق د لنډو کيسو نثر ته ځانګړې ښکلا ورکوي.

۵ـ د شفيق د کيسو بله ځانګړنه داده چې د کيسو د اتلانو او کرکټرونو د رواني حالاتو څرګندولو ته يې هم ښه پاملرنه کړې ده. دې خبرې او پاملرنې د هغه کيسې هم ژورې کړې دي او هم يې د لوستلو په وخت کې لوستونکي د کرکټر او څېرو له دننه حالاتو (رواني حالاتو) سره دلچسپي پيدا کوي.

د شفيق کيسې او د هغه د کيسو موضوعات زمونږ د لنډې کيسې د تاريخي بهير يوه ډېره په زړه پورې برخه ده. شفيق د پښتو لنډې کيسې له مخکښو ليکوالو څخه دی. هغه نه يوازې داسې ليکوال دی چې زمونږ د کيسه ليکنې د تاريخ په لومړنيو کسانو کې راځي، بلکې يو داسې ليکونکی دی چې پښتو کيسه يې پر خپل خواږه نثر او پاخه قلم ځلولې او ښکلې کړې هم ده.

ketabton.com - The Digital Library

د متن لنډیز:

محمد موسی شفیق د پښتو لنډې کیسې یوه مخکښه څېره ده. د (عبقریان) په نوم د لنډو کیسو یوه ټولګه یې خپره شوې ده. په دغه داستاني ټولګه کې راغلې کیسې د کیسه لیکنې د هنري معیارونو له مخې په ټول پوره کیسې دي. د متن او محتوا (موضوع) له پلوه هم دغه کیسې د وخت مهم موضوعات په خپله داستاني ځولۍ کې رانغاړي.

د موسی شفیق د لنډو کیسو په ځانګړتیاوو کې دغو ځانګړنو ته تم کېدای شو:

۱ـ په زړه پورې داستاني نثر. ۲ـ د طنز او خندا په بڼه د ژورو موضوعګانو ځایول. ۳ـ د افغاني ټولنې د هغه وخت د ژوند د حالاتو انځورول. ۴ـ کیسې یې دقیق داستاني تصویرونه جوړوي. ۵ـ د کیسو د اتلانو او کرکټرونو د رواني حالاتو څرګندونه.

څرګندونې

محمد موسٰی شفیق: د افغانستان نومیالی عالم، لیکوال، سیاستوال، سیاستپوه او شاعر و. د ننګرهار د کامې اصلي اوسېدونکی و، خو دی خپله په ۱۳۰۸ هـ. ش. کال په کابل کې زېږېدلی دی. له لومړنیو او ثانوي زده کړو وروسته یې په شرعیاتو، حقوقو او سیاسي علومو کې په مصر او امریکا کې د ماسټرۍ تر درجې لوړې زده کړې وکړې. په بېلابېلو لوړو څوکیو یې کار وکړ او د معین، سفیر، وزیر او صدر اعظم دندې یې ترسره کړې. د ۱۳۵۷ هـ.ش. کال د ثور په کودتا کې شهید کړای شو.

دغه آثار یې چاپ شوي دي:

۱ـ پیغام (د شعرونو ټولګه).

۲ـ عبقریان (د لنډو کیسو ټولګه).

۳ـ د ننګرهار شاعران.

ketabton.com - The Digital Library

جامي: په افغانستان کې د دري ژبې د کلاسيکو ادبياتو نومیالی څېره ده. بشپړ نوم يې نورالدين عبدالرحمن جامي و. په هرات کې زېږېدلی او د ژوند دوران يې له (۸۱۷ څخه تر ۸۹۸ هـ. ق.) پورې دی. په آثارو کې يې د شعرونو پر ديوان سربېره بهارستان زيات شهرت لري.

رواني حالات: په کيسه ليکنه کې د کرکټر د رواني اړخ راسپړنه ده. په يو خاص موقعيت او چاپېريال کې د يو کرکټر د ځانګړي رواني او روحياتي حالت څرګندونه په ادبي ـ داستاني آثارو کې خاص ارزښت لري.

فعاليتونه

۱ـ هر زده کوونکی دې ددې لوست يو يو پراګراف په لوړ غږ ولولي.

۲ـ زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځواب ووايي:

- په پښتو لنډه کيسه کې محمد موسی شفيق د کوم دريځ او مقام لرونکی دی؟
- په عبقريان نومې کتاب کې د شفيق څومره کيسې راغلې دي؟
- له محمد موسی شفيق سربېره مو د کومو ليکوالو لنډې کيسې لوستي دي؟ د ليکوال نوم او د کيسو نومونه يې واخلئ.

۳ـ يو يو زده کوونکی دې د شفيق د لنډو کيسو يوه يوه ځانګړنه تشريح کړي، پنځه تنه زده کوونکي به پنځه ځانګړنې ووايي، که کومه برخه ترې پاتې شوې وه، بل زده کوونکی به نوبت اخلي او پاتې برخه به يې ووايي.

ketabton.com - The Digital Library

۴_ محمد موسی شفیق ددې په څنګ کې چې نومیالی شاعر او لیکوال و، دغه لوړې دندې یې هم ترسره کړې: (سم ځواب په نښه کړئ):

الف: د افغانستان سفیر، د بهرنیو چارو وزیر او بیا صدر اعظم و.

ب: د بهرنیو چارو وزیر، د عدلیې وزیر، د پوهنې وزیر او صدر اعظم و.

ج: صدر اعظم، سفیر او بیا د مالیې وزیر و.

۵_ موسی شفیق ددغو کتابونو لیکوال دی: (یو ځواب سم دی، هغه په نښه کړئ):

الف: منتخب نثرونه، عبقریان، د ننګرهار شاعران.

ب: پیغام، عبقریان، د ننګرهار شاعران.

ج: راز، ادبي بحثونه، عبقریان.

د: د ننګرهار شاعران، عبقریان، د زړه خواله، شرنګ.

۶_ ګرامري برخه:

جمله څه ته وایي؟ لکه چې تاسو لوستي دي، جمله مجموعې او ټولګې ته وایي او د الفاظو او کلمو داسې یو ترکیب دی چې یو بشپړ مفهوم څرګندوي. جمله دوه برخې لري: مبتدا او خبر.

الف: په دې جملو کې مبتدا او خبر په نښه کړئ او جمله وشنئ:

- د موسی شفیق دکیسو په هکله باید دغه ټکي په پام کې ولرو.
- طنز د شفیق د لنډو کیسو یوه مهمه برخه ده.
- د یوې وړې کوټې نمر خاته کونج کې یو اوږد او پلن مېز پروت دی.

ب: په دې جملو کې ساده او مرکبې جملې سره بېلې کړئ:

- د زاړه سړي په غاړه باندې یو سپین کمیس دی چې خیرنې ژې یې د ګونجې ګونجې ورمېږ په غاړه له ورایه ښکاري.

ketabton.com - The Digital Library

- شفیق د پښتو کیسې له مخکښو لیکوالو څخه دی.
- د چوکۍ د ناستې ځای بوټ راوتلی او د اوسپنې د سیخونو نښې تر څرمنو لاندې اوچته ښکاري.

کورنۍ دنده

دغه ټول لوست یو ځل بیا ولولئ او د محمد موسی شفیق او د هغه دکیسو په هکله یوه مقاله ولیکئ چې له یوه مخه کمه نه وي.

د شفیق دوه څلوریزې:

پاکې کړئ لارې د خپل قوم خادمانو لره
د وفا لاس ورکړئ د صدق خاوندانو لره
د نوي عصر نیرنګونو بل افسون راوړی
سترګې په برید پرانیستې ښایي افغانانو لره

❁❁❁

که دا یو چې په همدې شانې اوسېږو
نو په مړو او معدومو به شمېرېږو
راځئ هلئ چې لاسونه سره ورکړو
ګوندې دا سیلاب چې راغی لاهو کېږو

ketabton.com - The Digital Library

د رنبو اوبو ونه



ـ تاسو تراوسه څومره لنډې کیسې لوستي دي؟

ـ د پښتو د لنډو کیسو کوم کوم لیکوال او د کیسو کومې ټولګې پېژنئ؟

ـ د لنډو کیسو کوم بهرنی لیکوال هم پېژنئ؟

په دې لوست کې تاسو ته داسې یوه لیکنه وړاندې کوو چې د اوبو د ارمان او په حقیقت کې د ژوند د ارمانونو یوه هنداره ده. دغه کیسه د هندوستان نامتو کیسه لیکونکي کرشن چندر لیکلې او قلندر مومند لنډه او پښتو کړې ده. لا نوره لنډه بڼه یې اوس ولولئ.

ketabton.com - The Digital Library

زمونږ له کلي نه دواړه طرف ته سره وچ غرونه دي. د نمر خاته طرف غرونه خو بالکل سور اړ دي او پکې د مالګې درنګ دی. لویدیز طرف ته د غرونو پرمخ دکیکر او پلوڅې ونې دي. ددې غرونو کانې تک تور دي، خو ددې تورو کانو ترمنځه د خوږو اوبو دوه ښکلې چینې دي او ددې دواړو غرونو ترمنځه زمونږ کلی دی.

زمونږ د کلي اوبه ډېرې کمې دي. زه چې په ښه بد پوه شوی یم، نو اسمان مې تل له ګرمۍ نه لوغړن لیدلی دی. زمونږ د کلي د کورونو او خواوشا د ځمکې رنګ بالکل خړ دی. په دې ځمکه کې چې کومه باجره کېږي، د هغې رنګ هم خړ نه چې لا تور بخن دی. همدغه شان رنګ زمونږ د کلي د مزدورانو، دهقانانو او د هغوی د جامو دی. له وړوکتوب نه زما یادداشت هډو له اوبو نه شروع کېږي. د اوبو درد، د اوبو موسکا، د اوبو موندل، د اوبو ورکېدل، غرض دا چې زما سینه د اوبو د فراق له تمهید او د وصال له تاثیر نه ډکه ده.

زما ښه یادېږي چې زه وړوکی وم، نو ادې سره به له کلي نه ښکته خوږ ته کوزېدم. ادې به مې چې نمري وینځل، نو ما به د وچولو لپاره د خوږ پر غاړه غوږول. په خوږ کې لږې لږې اوبه وې، مړې مړې اوبه یې وې، سپینې سپینې ورو ورو روانې وې، بس لکه زمونږ د ګاونډې پاینده خان لور، بانو. د دواړو موسکا خوږه خوږه وه او د خوږو په قدر خو هم هغه پوهېږي چې د مالګې درنګ کې نوکري کوي.

زما یاد دي چې دا خوږ به د کال شپږ میاشتې وچ و، چې د چیتر میاشت به په تېرېدو شوه، نو خوږ به په وچېدو لاس پورې کړ او چې ویساک به وتو، نو بس بالکل وچ شوی به و او بیا به دده په تل کې یا تش شنه شنه کانې پاتې شول یا نرمه نرمه ختې. چې سړی به پرې ګرځېدو نو داسې به معلومېده لکه چې د ورېښمو په غالیچو قدم ږدې. یو څو ورځې پس به د خوږ دا ختې هم وچه شوه او په مخ به یې تش د درزونو او ګونځو یو جال شان پاتې شو. ماته ښه یاد دي چې ما په وړومبي ځل ددې خوږ وچوبی لیدلی و، نو په هغه شپه مې له غمه سترګه نه وه پټه کړې. ادې مې راته ډېرې کیسې و ویلې، خو د ادې په غږ کې ماته ټوله شپه د خوږ په کانو د اوبو ورو ورو ښوېیدل، د کانو منځ

ketabton.com - The Digital Library

کې تېرېدل او په څنګ تېرېدل وړاندې وړاندې کېدل، لکه چې کله کله به بانو له غوسې نه د کوڅې د ګوټ پیر نه په تېزۍ تاوه شوه، اوس دا اوبه وچې وې. ماته چې دا خبرې رایادې شوې نو ادې نه مې پوښتنه وکړه:

ـ ادې! دا زمونږ خور چېرته لاړ؟

ـ ځمکه کې ننوتو بچی!

ـ ولې ځمکه کې ننوتو؟

ـ د لمر د وېرې.

ـ ادې دا خور له نمر نه ولې یرېږي؟ ها، لمر خو ډېر ښه وي کنه!

ـ لمر یو نه دی، ښه بچی! لمرونه دوه دي، یو د ژمي لمر وي، بل د اوړي لمر. د ژمي لمر ډېر ښه او مهربانه وي او د اوړي لمر ډېر تېز او غوسه ناک وي، بچی. دا دواړه وار په وار زمونږ کلي ته راځي. د ژمي له لمر نه زمونږ خور ډېر خوشحاله وي، خو چې د اوړي ظالم لمر راشي، نو زمونږ له خور نه ورو ورو جامې وکښل شروع کړي...

ما له ادې نه بله پوښتنه وکړه:

ـ ادې! دا د درنګ اوبه ولې تروې دي؟

ـ بچی دا لا بله کیسه ده.

ـ نو وایه کنه ماته.

ـ نه بچی اوس ویده شه، ناوخته دی.

ـ نه نه، ماته وایه کنه ژاړم.

ـ ښه ښه نیکه! وایم یې درته، خو چغې مه وهه.

ـ ښه

ـ ښه نو، دا درنګ دی کنه، دا په پخوا زمانه کې ښاپېرۍ وه او دغه د خورو اوبو د چینو غر اول دیو و، دا ښاپېرۍ ددې دیو ښځه وه.

ـ نو بیا!

ـ نو بیا یو ځل د دیوانو جنګ شو او ددې ښځې خاوند هم پکې لاړ برتې شو او ښځه

ketabton.com - The Digital Library

تړې پاتې شوه، ده ورته ویلي وو چې تر څو زه نه یم راغلی، ته کور ناسته اوسه چېرته ځه راځه مه. دې ښځې ډېره موده خپل خاوند ته وکتل، خو خاوند یې رانغی. آخر یوه ورځ یو سپین دیو راغی او په دې مین شو. سپین دیو ورته ډېر درواغ مرواغ وویل چې ستا خاوند د دیوانو جنګ کې مړ شوی دی، نو هغې ورسره واده ومانه... بیا یوه ورځ هغه بوډا دیو راغی او چې دوی دواړه یې ولیدل نو له غوسې نه تک سور شو او دواړه یې مړه کړل. له هغې ورځې نه دغو دواړو غرونو ته ازار شوی دی او دا دواړه شنه کانې شوي دي. د هغه مخامخ غر اوبه ځکه خوږې وي چې هغه خپلې ښځې سره د ربښتیانو مینه کوله او ددې بل غر دا اوبه ځکه تروې دي چې دا د هغې ښځې اوښکې دي چې هر وخت ژاړي او چې دا اوښکې وچې شي نو مالګه تړې جوړه شي.

کیسې ختمه شوه او زه ویده شوم، ما به په خوب کې هغه درنګ لیده چې پلار مې پکې مزدوري کوله. ما چې به کله کله پلار پسې هلته ډوډۍ وړله، نو پلار به مې د مالګین تالاو پر غاړه ناست اکثر دا ویل:

- یره! دلته ګوره څومره اوبه دي، خو بیا هم چرته اوبه نشته. زړه مې وایي چې چرته د خوږو اوبو تالاو ولټوم او پکې ښې غوپې وو هم چې دا ټوله مالګه مې له وجود نه لرې شي.

- اوبه... اوبه!!

خلکو اوبو پسې فریاد کاوه، خو اوبه نه وې او که وې هم نو یا به په پورې غاړه غر کې وې او یا په خوږ کې، خو دا خوږ هم شپږ میاشتې وچ و او بیا یوه ورځ خو بالکل ورک شو. دا زما د ماشومتوب خبره نه ده، زما د زلمیتوب واقعه ده. زمونږ له کلي نه ډېر لرې هغه د زرګونو جریبو جاګیر خاوند اکبر علي زمونږ د کلیوالو د خوښې خلاف د خوږ مخه بدله کړه، خپل پټي یې پرې خړوب کړل او زمونږ او د خواوشا نور کلي یې تندې ته پرېښودل. د کلي خلک داسې اوتر شول لکه چې د چا مور و پلار مړه شوي وي. خوږ مړ شو او د هغه اوبه هم اومونږ تربته شو. زما ښه په یاد دي چې د کلي خلکو سرکار کې په اکبر علي عریضې وکړې، خو اکبر علي د هغه ځای تر ټولو لوی خان و. د مالګې ټیکه

ketabton.com - The Digital Library

هم د هغه وه، نو نتيجه يې دا شوه چې د کلو خلکو خوړ خو رابيا نه کړو، خو د مالګې مزدورۍ يې بايلودې.

زه چې وړوکی وم نو په دغه مخامخ غره کې ايکي يوه چينه وه، خو لږ چې لوی شوم، دغلته يوه بله چينه هم وخوټکېده. دا هم يوه په زړه پورې کيسه لري چې زما پلار د کلي د خلکو په ټينګار د چينې په لټون پسې ووت او چې کله يې بله چينه پيدا کړه نو د خلکو د ګډاګانو او سندرو يو شور جوړ شو.

زه هم په درنګ کې مزدور شوم، مابنام به سترې ستومانه کور ته راغلم، وده به شوم او چې لمر به څړيکه وهله نو زه به په درنګ ورننوتی وم. له څو شپو راسې مې بانو نه وه ليدلې. يوه ورځ مابنام چې له کار نه راتلم، نو بانو مې په لاره وليده. راته يې وويل:

ـ نن راشه ښه، کار مې دی درسره.

ـ زه ډېر سترې يم نشم درتلای.

ـ نه نه ډېر ضروري کار مې دی درسره، راشه ښه.

او چې زه له پيشنمي نه مخکې چينې ته ورسېدم، نو بانو ناسته وه. هغه چوپ وه. زه هم چوپ وم، خو ما زړه ټينګ نه کړای شو.

ـ څه چل دی آخر، وايه کنه!

ـ زه درنه روانه يم!

ـ زما زړه درز پرېوتو. ما ويل که چينه وچه شوه، زما مرۍ خپه شوې وه. ما په سخته وويل:

ـ چرته؟

ـ زما واده دی.

زه بې اختياره شوم:

ـ ستا واده؟

ـ هو! ما د تره زوی ته ودوي. هغه له کالام نه راغلی دی. کوهاټ کې دی، صوبه دار

ketabton.com - The Digital Library

دی. هغې دا ټولې خبرې په یوه سا وکړې. زه غوسه شوم. هغه چوپ شوه. زه سوچونو په سر واخیستم. بانو بیا وویل:

ـ دا ربښتیا دي چې وایي چې کوهاټ کې ډېرې تېرې اوبه دي. څو څو چینې دي پکې. بمبې دي پکې، چې کله دې زړه غواړي، تاو یې کړه او منګی ډک کړه، هه...

د هغې اواز له خوشحالۍ نه رپېده. زه ورته ورنژدې شوم. سترګو ته مې یې وکتل. د هغې په سترګو کې زما له مینې نه انکار نه و، دا وه چې پکې د اوبو اقرار و، ما داسې محسوسه کړه چې مینه یوازې صداقت، اخلاص او جذبه نه غواړي، لږې لږې اوبه هم غواړي. موږ دواړه چوپ وو. بانو منګی ډکولو، منګی یې ډک کړ او لاړه.

په کومه شپه چې د بانو واده و، نو ما خوب ولید چې زموږ خور بیا ډک ډک راغلی دی. د مالګې غرکې هم د خوږو اوبو چینې راخوټکېدلې دي او زموږ دکلي په منځ کې یوه لویه ونه ده. دا ونه ټوله له رنو اوبو نه جوړه ده. د ونې جړې، ښاخونه، ګلونه، مېوه او پانې ټولې د اوبو دي او له دې ښاخونو او پانو نه د اوبو ویالې روانې دي او په دې اوبو د کلي ځمکې خړوب شوي دي. خلک لګیا دي، کروندې کري، ښځې نمرې وینځي. ماشومان د ګلونو امیلونه په لاس له ونې نه ګرچاپېر ګډېږي. بانو پاکې جامې اغوستې او ماته وایي:

ـ اوس خو زموږ کلي کې د رنو اوبو ونه راټوکېدلې ده کنه، اوس خو درنه زه هېڅرته نه ځم. څومره ښه خوب و، خو چې ما مې پلار ته وویله، نو هغه راته وویل:

ـ بل چاته خو دې نه دی ویلی؟

ـ نه بابا دا خو خوب دی، تاسې ولې وېرېږئ!

ـ خوب دی، خو عجیبه خوب دی!

ـ نه بابا! ما خو چې خوب کې کومه ونه لیدلې وه، هغه خو سره نه وه، د هغې رنګ خو لکه د اوبو په شان و، خو داده چې پکې د مېوې پر ځای د ګلابو سرې سرې کوزې غوندې ښکارېدې چې له هغې نه اوبه بهېدې.

ـ هر څه چې دي، خو دا ډېر خراب خوب دی، که پولیس واورېدو، نو تابه هم داسې

ketabton.com - The Digital Library

بوځي لکه چې هغه مزدوران يې بوتلي و و.

زما ښه ياد دي چې د پلار له وېرې ما څو ورځې دا خوب چاته ونه وايه. ما چې د درنګ مزدورانو ته دا خبره وکړه، نو هغوی وخندل:

ـ دا خوب، خو دلته ډېرو کسانو ليدلی دی! دا خوب به رښتيا کېږي که خدای کول! ما خو وړومبی د دوی په خبرو يقين نه کولو خو اوس په دې پوه شوی يم چې زمونږ دا خوب به خامخا رښتيا کېږي. يوه ورځ به د اوبو دا ونه زمونږ په کلي کې زرغونېږي، تش جامونه به ډکېږي، خيرن نمري به وينځل کېږي، جل وهلي زړونه به تازه کېږي او ټولې شاړې ځمکې به ودانېږي.

فعاليتونه

۱ـ د کيسې يوه يوه برخه دې زده کوونکي يو ځل بيا په وار سره ولولي.

۲ـ په کيسه کې دغه پنځه لغتونه دې يو يو زده کوونکی معنا کړي؟ بيا دې نور زده کوونکي له کيسې څخه لس نور لغتونه انتخاب او له خپلو همټولګيوالو دې يې معنا وپوښتي:

لوغړن، باجره، جرړې، نمری، خوړ

۳ـ زده کوونکي دې په دريو برخو ووېشل شي، يوه برخه دې ددې کيسې نومونه له ځانه سره په کتابچو کې وليکي، دويمه ډله صفتونه او دريمه فعلونه. بيا دې ټول خپل لستونه ټولګيوالو ته ولولي.

۴ـ يو تن زده کوونکی دې په خپله خوښه او يو زده کوونکی دې د ښوونکي په خوښه ددې کيسې لنډ مطلب په خپلو الفاظو په ساده توګه خپلو ټولګيوالو ته څرګند کړي.

ketabton.com - The Digital Library

هر زده کوونکی دې د خپل کلي یا خپل ښار اړوند یوه په زړه پورې پېښه د لنډې کیسې په توګه ولیکي. د مخونو شمېر دې له دو و مخونو څخه نیولې تر څلورو مخونو پورې وي.

شپېلۍ

د غـــره پـــه ذهـــن کـــې خـــوره شـــوه شپېلۍ
پـــه ســـرو مـــمـــانـــو مـــېـــلـــمـــنـــه شـــوه شپېلۍ
دا د کـــېـــږدۍ پـــلـــو خـــو واړوئ لـــږ
تـــلـــلـــې کـــوچـــۍ وه راســـتـــنـــه شـــوه شپېلۍ
وري زلـــمـــي شـــول، اوښـــې پـــېـــغـــلـــې شـــولـــې
لـــکـــه څـــېـــرۍ پـــه غـــرونـــو شـــنـــه شـــوه شپېلۍ
ســـتـــورو جـــامـــې د اتـــن واغـــوســـتـــلـــې
د هـــســـک د دښـــتـــو تـــرانـــه شـــوه شپېلۍ

((اسحاق ننګیال))

طـــامـــع هـــمـــیـــش وي پـــه انـــتـــظـــار کـــې
آب یـــې د مـــخ ځـــي پـــه هـــر دیـــار کـــې
ګـــنـــج چـــې د صـــبـــر پـــیـــرمـــحـــمـــد بـــیـــامـــونـــد
تـــوانـــګـــر بـــالـــه شـــي پـــه دا دیـــارکـــې

((پیرمحمد کاکړ))

ketabton.com - The Digital Library

په پښتو کې ناول لیکنه

_ تاسو تراوسه کوم ناولونه لوستي دي؟

_ کوم ناول مو ډېر خوښ شوی او ولې؟

_ د پښتو ناولونو په اړه تر معلوماتو مخکې لازمه ده چې د ناول په اړه لنډې خبرې وکړو. ناول انګلیسي کلمه ده او ویل کېږي چې له ایتالیایي (نو ویلا) څخه اخیستل شوې چې د (نوي یا کوچني) په معنا دی، خو په نورو اروپایي ژبو کې د ناول پر ځای د رومان اصطلاح کارولە کېږي. موږ دلته د (ناول) او (رومان) دواړه اصطلاحګانې د واحد داستاني اثر لپاره کارو و. ناول یا رومان په حقیقت کې یو نسبتاً اوږد داستاني روایت دی. په دغه روایت کې شخصیتونه (یا شخصیت) د پېښو په یوه پرله پسې لړۍ کې انځورېږي. د رومان د اوږدوالي او حجم په اړه بېلابېل نظرونه ورکړل شوي دي. له دېرش څخه تر څلوېښت او پنځوس زره کلمو پورې یې ورته کم حد ټاکلی او تر دې هر څومره زیاتېدلای شي. هر ناول او رومان د ژوند د پېښو روایت دی او په هغو کې کرکټرونه، د پېښو کړکېچ، صحنې، اړیکې او نور شامل دي. د څېړونکو په نظر: ناول هغه خلاق منثور روایت دی چې په لازمه توګه د پېښو تسلسل ته پاملرنه کوي. په ناول کې یو شمېر شخصیتونه (کرکټرونه) په ځانګړو صحنو او پېښو کې ګډون لري. که لنډه کیسه یوازې یو ساز ته ورته وي (د ساز یوې آلې ته)، نو ناول او رومان یوه سمفوني یا ارکسترا او د سازونو یوه ټولګه ده.

ketabton.com - The Digital Library

ناول لومړی زمونږ ادبیاتو ته د ژباړې په بڼه راغلی دی. مخکې تر دې چې په پښتو ژبه ناول ولیکل شي، له اردو ژبې څخه پښتو ته ځینې ناولونه راوژباړل شول.

په دې لړ کې دوه لومړني ژباړل شوي ناولونه د یادولو وړ دي: نقش نگین یا ((مرآة العروس)) او ((توبة النصوح)). دواړه ناولونه په اردو ژبه د هند د نومیالي لیکوال او شاعر ډپټي نذیر احمد خان په قلم لیکل شوي دي. مرآة العروس د ((نقش نگین)) په نامه د اروابنداد میا حسیب گل کاکاخېل له خوا او توبة النصوح د اروابنداد میا محمد یوسف کاکاخیل له خوا په پښتو ژباړل شوي دي.

ډپټي نذیر احمد خان د هند د نیمې وچې له مخکښو ادبي شخصیتونو څخه ګڼل کېږي. د هغه په آثارو کې د ټولنیز انتقاد روح ډېر پیاوړی دی او د اردو ژبې لومړنی ناول لیکونکی ګڼل کېږي.

د ډپټي نذیر احمد خان دغه یاد شوي ناولونه په پښتو ژبه لومړني ژباړل شوي ناولونه دي. نقش نگین له ۱۸۷۷م. کال څخه مخکې له اردو څخه په پښتو ژباړل شوی، خو په ۱۹۵۷م. کال کې په پېښور کې چاپ او خپور شوی دی، خو توبة النصوح په ۱۹۰۴م. کال کې په پښتو ژباړل شوی او پر همدغه کال چاپ شوی دی.

په پښتو ژبه لومړنی لیکل شوی ناول د پیاوړي لیکوال سید راحت زاخیلي په قلم د ((نتیجۀ عشق)) یا ((ناول د ماه رخې)) په نوم کښل شوی او په ۱۹۱۰م. کال کې په پېښور کې چاپ شوی دی.

له دغه لومړني ناول څخه وروسته تر ډېرو کلونو پورې په کوزه پښتونخوا کې دکوم ناول د لیکلو پته نشته. بیا نو په ښلابښلو وختونو کې دغه ناولونه ولیکل شول:

_ په ۱۹۵۰م. کال کې د صاحبزاده محمد ادریس ((پېغله)) نومې ناول چاپ شو.

_ په ۱۹۵۷م. کال کې د اشرف درانې لیکلی ناول د ((زرکې سترګې)) په نوم خپور شو.

_ په ۱۹۵۷م. کال کې د حمزه شینواري ((نوې چپې)) نومی ناول چاپ شو.

له دغو څو لومړنیو ناولونو سره سم او تر ډېره وروسته دغه نور پښتو ناولونه هم

ketabton.com - The Digital Library

چاپ شوي دي:

ـ د رشيد علي دهقان: ((د سرو تعويذ))

ـ د محمد ابراهيم شبنم (خوابښې او نږور)

ـ د سيد رسول رسا دغه پنځه ناولونه: مفرور، شمې، خودکشي، مامونې او ميخانه.

ـ د ډاکټر شير زمان غمژن طايزي دغه پنځه ناولونه: گل خان، امانت، رحمان کورونه، غونډۍ او واده ونه شو.

په کوزه پښتونخوا کې تر دې وروسته هم دغه لړۍ رارروانه ده او اوس يو زيات شمېر ناولونه ليکل شوي او خپاره شوي دي.

په افغانستان کې هم دغه لړۍ له ژباړې څخه پيل شوې ده. هغه لومړنی ناول چې په افغانستان کې په پښتو ژبه ژباړل شوی دی، د فرانسې د نومیالي ليکوال ويکتور هوگو (بيوزلان) نومې ناول دی. دغه ناول د استاد عبدالحی حبيبي په قلم ژباړل شوی او په ۱۳۱۰هـ. ش. کال کې د کندهار د ((طلوع افغان)) جريدې په پاڼو کې په پرله پسې توگه خپور شوی دی.

دلته په پښتو ژبه لومړنی ليکل شوی ناول د برهان الدين کشککي په قلم ليکل شوی او په ۱۳۱۷ هـ. ش. کال کې خپور شوی دی. سره له دې چې ددې ناول پر څنډه ليکل شوي چې اصلي موضوع يا سوژه يې له بهرنيو مطبوعاتو څخه اخيستې ده، خو خپله د ليکوال په قلم ليکل شوی او ژباړه نه ده. د نوموړي ليکوال يو بل ژباړلی ناول په همدغه وخت کې خپور شو چې ((په پټه د پټو پلټنې)) نومېږي، دا يو په زړه پورې پوليسي ناول دی.

تر دې وروسته په افغانستان کې د ډېرو ليکوالو ناولونه چاپ او خپاره شوي دي.

په افغانستان کې په وروستيو کلونو کې يو شمېر نور ناولونه هم ليکل شوي او اوس زمونږ ځوانو ليکوالو هم د هنري ادبياتو دغې برخې يا ژانر ته ځانگړې پاملرنه کړې او په زړه پورې ناولونه يې ليکلي دي.

ketabton.com - The Digital Library

د متن لنډيز:

په کوزه پښتونخوا کې په پښتو ژبه لومړني ژباړل شوي ناولونه ((مرآة العروس)) يا ((نقش نگين)) او ((توبة النصوح)) دی. لومړنی ناول د سيد راحت زاخيلي په قلم په ۱۹۱۰م. کې ليکل شوی او ((نتيجۀ عشق)) يا ((ناول د ماه رخې)) نومېږي. په افغانستان کې لومړنی ژباړل شوی ناول د ويکتور هوګو (بېوزلان) دي. ليکل شوی پښتو ناول د برهان الدين کشککي ((پټه مينه)) ده. په کوزه پښتونخوا او افغانستان کې تر دغو لومړنيو آثارو وروسته ګڼ شمېر ناولونه ليکل شوي چې شمېر يې لسګونو ته رسېږي.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې په وار سره ددې لوست يو يو پراګراف ولولي او نور ټولګيوال دې غوږ ورته ونيسي.

۲ـ زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځواب ووايي:

- په افغانستان کې په پښتو ژبه لومړنی ناول کوم يو دی، ليکوال او ژباړونکی يې څوک دی؟
- په کوزه پښتونخوا کې په پښتو ژبه لومړني نالونه څه نومېږي، د ليکوال او ژباړونکو نومونه يې واخلئ؟
- د سيد راحت زاخيلي په قلم ليکل شوی لومړی پښتو ناول څه نومېږي؟
- د برهان الدين کشککي دا يو ليکلي او يو ژباړلي ناول نومونه واخلئ؟

ketabton.com - The Digital Library

۳ـ څو تنه زده کوونکي دې په دغو موضوعاتو خپلو ټولګیوالو ته لنډ لنډ معلومات ورکړي:

الف: د ناول او رومان ترمنځ څه اړیکې دي؟

ب: په کوزه پښتونخوا کې د ناول لیکنې تاریخي بهیر

ج: په افغانستان کې د ناول لیکنې تاریخي بهیر

۴ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، لومړنۍ ډله دې په پښتو ژبه د لیکل شوو ناولونو دیو یو نوم اخلي او د بلې ډلې یو تن دې ددغه ناول د لیکوال نوم یادوي. زده کوونکي کولای شي چې په دې لوست کې د یادو شوو ناولونو نومونه واخلي او که د نورو پښتو ناولونو نومونه ورته یاد وي یا یې لوستي وي، د هغو نومونه هم اخیستلای شي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د یو داسې ناول په باب لنډ معلومات ولیکي چې لوستلې یې وي. دغه معلومات دې په دوو مخونو کې ولیکي او دغو ټکو ته یې پام ضرور دی:

۱ـ د ناول لنډه پېژندنه، نوم، لیکوال، یا ژباړونکی، د مخونو شمېر، د چاپ ځای او کال.

۲ـ د ناول د کیسې یا موضوع لنډه معرفي.

۳ـ په ناول کې یې څه شی خوښ شوی او کومه برخه یې نه ده خوښه شوې او ولې؟

په بله ورځ دې یې خپلو ټولګیوالو ته واوروي او یا دې پرې په ټولګي کې د خپلو یادښتونو له مخې لنډې خبرې وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

حکایت

حاتم طايي چا وپوښته چې له ځانه دې هم بلند همت څوک ليدلی دی، يا دې اورېدلی دی؟

وې ويل: يوه ورځ مې څلوېښت اوښان ذبح کړي وو.

اسيران مې د عربو او فقيران بللي وو. ناګاه مې په صحرا يو خارکش وليده، د لرګيو ګېډۍ په سر. ورته مې وويل چې په مهمانۍ د حاتم ولې نه ور درومې؟ خلک پرې جمع شوي دي، دعوت يې عام کړی دی.

وې يې:

هر چې خوري د خپل منت روتی
څه به کاندي د حاتم د اوښ بوتی

هغه شخص مې په همت په جوانمردۍ ترځان هسک وليده.

((ګلدسته))

انديښنه که په غره کښې ږدي
غربه هم لکه ويښته کا
خوار سړی ملامت نه دی
که په غم کې ځان اوبه کا

((خوشحال خان خټک))

ketabton.com - The Digital Library

ويکتور هوګو
د فرانسې نومیالی لیکوال



ـ د نړۍ د څومره لیکوالو نومونه مو زده دي؟

ـ آیا د کومو نړیوالو لیکوالو کتابونه مو لوستي دي؟

ـ د ویکتور هوګو نوم مو اورېدلی، یا مو د هغه کوم کتاب لوستی دی؟

د نړۍ د ادبي څېړو په لړ کې ویکتور هوګو خپل ځانګړی ځای لري. هغه په نولسمه پېړۍ کې د فرانسې او ټولې نړۍ د سترو شاعرانو او لیکوالو په کتار کې شمېرل کېږي.

په دې لوست کې د نړۍ ددغه نومیالي شاعر او لیکوال په باب معلومات ترلاسه کوئ.

ketabton.com - The Digital Library

ویکتور هوگو په ۱۸۰۲م. کال د فرانسې په ختیځ (بیزانسون) کې وزېږېد. نیکه یې د یو داسې بزګر زوی و چې د (نانسي) په ښار کې یې ترکانې هم کوله. پلار یې په پوځ کې خدمت غوره کړ او د ناپلیون په لښکر کې تر جنرالۍ ورسېد. د هوګو مور د یو ښېرۍ وان لور وه.

هوګو په وړوکتوب کې ډېر کمزوری او بې ځانه و. هېڅا هم داسې فکر نه کاوه چې ماشوم ویکتور دې ګوندې ژوندی پاتې شي، خو هغه ژوندی پاتې شو او داسې ژوندی چې ژوندیتوب او د ژوند یادونو او ویاړونو یې تر مرګ وروسته هم دوام وکړ.

لومړی یې په پاریس کې زده کړې پیل کړې او څه وخت وروسته یې په ریاضي، شعر او لاتیني ژبه کې بې ساری پرمختګ وکړ او خپلې زده کړې یې بشپړې کړې. څرنګه چې د ویکتور هوګو پلار د جنرالۍ په وظیفه کې کله په یوځای او کله په بل ځای کې و، نو د هوګو ژوند هم ټول یا زیاتره په سفرونو کې تېر شو. ببلابېل ښارونه او هېوادونه یې ولیدل. په پای کې له خپلې کورنۍ سره یوځای پاریس ته لاړ او هلته یې استوګنه غوره کړه، دغو سفرونو د هوګو پر ژوند او ذهن پوره اغېز وکړ.

په پاریس کې له استوګنې سره سم دوی له یوې بلې پوځي کورنۍ سره اړیکې پیدا کړلې او په دې کورنۍ کې د (ادل) په نوم له یوې نجلۍ سره یې مینه پیدا شوه او په پای کې یې ورسره واده وکړ.

هوګو د پاریس په (دارالفنون) کې زده کړو ته دوام ورکړ. همدلته یې خپل لومړني شعرونه وویل. لومړنیو شعرونو یې د ښو ونځې جایزه وګټله. د فرانسې د هغه وخت یو نومیالي شاعر او لیکوال ((شاتوبریان)) هغه ته د یوه ((عالي ماشوم)) نوم ورکړ.

له خپل ورور سره یې یو ځای یوه پنځلس ورځنۍ مجله خپره کړه. په دې مجله کې یې په خپل نامه او نورو مستعارو نومونو مقالې خپرې کړې، داسې مقالې چې د وخت د ادبي او ان سیاسي محافلو پام وړ شوې. نومورې د همدغې مجلې په پاڼو کې لازم شهرت ته ورسېد. د دربار ستاینې یې هم وکړې او د پاچا له لورې یې شعرونو ته جایزې هم ورکړل شوې او د دوو زرو فرانکو د تنخواه یوه دنده هم وروسپارل شوه.

ketabton.com - The Digital Library

له دې وروسته د هوګو ادبي هلې ځلې زياتېږي. په ادبي مجالسو کې له ليکوالو او شاعرانو سره اړيکې پيدا کوي او ادبي غونډې هم جوړوي. تر ۲۵ کلنۍ پورې د دربار پلوی و. تر هغه وروسته يې ملاتړ شکمن کېږي يا مشروطه بڼه غوره کوي.

هغه ته دا نظر پيدا کېږي چې د هېوادونو او ولسونو د پرمختګ او بريالیتوب لپاره آزادي ډېره ضروري ده. د خپل همدغه نظر لپاره د ((کرمول)) په نوم يوه ډرامه او د ډرامې سريزه ليکي. دغه ډرامه او سريزه يې دومره اهميت پيدا کوي چې په فرانسه کې د رومانتيزم د ادبي مکتب پيل ګڼل کېږي.

ويکتور هوګو په خپل ژوند کې له زياتو کړاونو سره هم مخامخ شو، اولادونه يې په پرله پسې توګه مړه شول او د يوې لور مړينې دومره وځوراوه چې څو کاله يې قلم له لاسه وغورځېد.

په ۱۸۴۱م. کال کې هوګو له درې ځلې ماتې وروسته د فرانسې د اکاډمۍ په غړيتوب ومنل شو. د فرانسې پاچا (فليپ لويي) له هوګو سره ځانګړې دوستي لرله. د همدغې دوستۍ له کبله هغه څو ځله د انتصابي سناتور په توګه د مشرانو جرګې غړی شو.

په ۱۸۴۸م. کال په فرانسه کې کورنۍ اړ و دور شروع شو. ولس د بدمرغۍ په لمبو کې سوزېده. هوګو په همدغه وخت کې د خپل ولس په ګټه سياست ته ورودانګل. د هغه وخت يو بل نامتو شاعر ((لامارتين)) د هوګو په همکارۍ وړاندیز وکړ چې يو موقت حکومت دې جوړ شي او په موقت حکومت کې هغه د پوهنې د وزير په څوکۍ وټاکل شو، خو اړ و دور روان و. هوګو د سلطنت ضد ډلو کلک ملګری شو او له همدې نېټې څخه يې د فرانسې له پاچا ناپليون سره دښمني پيل شوه.

هوګو به د بې وزلو خلکو پلوي کوله، ويناوې به يې کولې او زيات محبوبيت يې پيدا کړ، کله چې ((لويي ناپليون)) د فرانسې پاچاهۍ ته ورسېد، غوښتل يې چې د خپل واک د ټينګښت لپاره يو ځواکمن ګوند جوړ کړي. په همدې وخت کې هوګو د ناپليون سخت مخالفت پيل کړ. ناپليون بريالی شو، د هوګو په ګډون ۸۴ تنه د عامه امنيت د تخريبونکو په نوم معرفي او د فرانسې له خاورې نه تبعيد شول. هغه لومړی بروکسل

ketabton.com - The Digital Library

او بيا انګلستان ته لاړ او هلته يې د ((ژرسي)) او ((کرنسي)) په جزيرو کې د تبعيد عمر تېراوه. د تبعيد په وخت کې يې خپل په زړه پورې آثار وليکل.

په ۱۸۷۰م. کال کې له ۱۹ کلن تبعيد وروسته فرانسې ته راستون شو، څو ځله د خلکو له خوا د فرانسې د شورا د غړي په توګه وټاکل شو. هغه په ۱۸۸۵م. کال کې د ۸۳ کالو په عمر مړ شو.

د ويکتور هوګو په ليکل شوو کتابونو کې ((بېنوايان)) تر ټولو مشهور دی. دغه اثر ډېر زيات نړيوال شهرت لري، خو يو شمېر نور مهم کتابونه يې دادي:

هغه سړی چې خاندي، د خزان پاڼې، بدمرغان، مکافات، انتقام، سمندري کارګران او يو شمېر نور...

((د يو محکوم سرګذشت)) د هوګو له وروستيو په زړه پورې آثارو څخه شمېرل کېږي. په دې داستان کې د يو داسې انسان د محکوميت غږ اورېدل کېږي چې په اعدام محکوم شوی دی. هغه د زندان له تورتم څخه خپلې ښځې ته خپل سرګذشت ليکي. په دغه ويړ لړلي سرګذشت کې د محکوم د خپل ژوند او د نورو خلکو د ژوند ځينې اړخونه او واقعيتونه راتر سترګو کېږي. هغه خپل دغه داستان د پانسۍ پر ضد ليکي، هوګو غواړي په دې اثر کې په مجموع کې د ((انسان)) او ((انسانيت)) دفاع وکړي. هغه د انسان وژنې سخت مخالف دی.

ويکتور هوګو نه يوازې دا چې د فرانسې لوی شاعر او ليکوال و، په خپله پېړۍ کې د نړۍ د سترو ليکوالو په کتار کې شمېرل کېږي. له همدې کبله هغه ته د خپلې پېړۍ د ښوونکي نوم هم ورکړل شوی دی.

د متن لنديز:

د نړۍ د نومياليو شاعرانو او ليکوالو په لړکې ويکتور هوګو زيات شهرت لري. هغه په ۱۹مه پېړۍ کې د فرانسې نامتو ليکوال او شاعر دی. هغه د رومانتيزم د ادبي مکتب له بنسټ ايښودونکو څخه ګڼل کېږي. د ځينو مشهور اثارو نومونه يې

ketabton.com - The Digital Library

دادي:

بېنوايان يا (بېوزلان)، كرمول، د يو محكوم سرگذشت، هغه سړی چې خاندي، مكافات، بدمرغان، انتقام، سمندري كارگران او يو شمېر نور...

ويكتور هوگو د خپل ژوند ډېر كلونه له (ناپليون) سره د مخالفت له كبله په تبعيد كې تېر كړل.

د رومانتيزم ادبي مكتب: د نړۍ په ادبي مكتبونو كې ځينې مشهور يې دادي: كلاسيسيزم، رومانتيزم، سمبوليزم، ريياليزم او نور... د رومانتيزم ادبي مكتب د اتلسمې پېړۍ په پاى او د نولسمې پېړۍ په پيل كې په اروپا كې راڅرگند شو. مخكښان يې په انگلستان كې: ويليام بليك اوكالريج، په جرمني كې: گويته او شيلر او په فرانسه كې ويكتور هوگو، شاتو بريان او لامارتين دي. رومانتيزم په حقيقت كې يو انقلابي غورځنگ و او شعارونه يې تر ډېره حده د رونې اندۍ د دوران فلسفي او سياسي بڼه لري، د انسان د آزادو احساساتو بيان او د فردي حقوقو تائيد يې د شعارونو لومړنۍ كړنې وې. دغه ادبي مكتب د كلاسيزم د ادبي مكتب د چوكاټونو پر وړاندې د نوو افكارو د لرونكو ليكوالو او شاعرانو له لوري رامنځته شو او په ټوله اروپا او نړۍ كې خپور شو. دغه كلمه ځينو كسانو د رومانتيسيزم په بڼه هم ليكلې ده چې دواړه د يو مفهوم لپاره كارول كېږي. رومانتيزم په حقيقت كې د كلاسيكو منل شوو زړو ادبي قوانينو پر وړاندې د بغاوت رنگ لري. د دوى په نظر د كلاسيزم د مكتب وچ او زاړه چوكاټونه نور د نوي عصر فلسفي او ادبي غوښتنو ته ځواب نه شي ويلاى. څېړونكو ۱۸۳۰م. كال د ادبي انقلاب كال گڼلى دى. په دې كال كې ويكتور هوگو او ملگرو يې رومانتيزم د هنر او شخصيت د آزادۍ د مكتب په عنوان معرفي كړ. رومانتيك هنرمند او ليكوال د خپل روح غوښتنو او اړتياو و ته زيات ارزښت وركوي او ځانگړي احساسات پكې خپل ځاى لري.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې په نوبت سره د لوست یو یو پراګراف په لوړ غږ خپلو ټولګیوالو ته ولولي.

۲ـ زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځواب ووایي:

ـ ویکتور هوګو په کومه پېړۍ کې په کوم هېواد کې اوسېده؟

ـ د هوګو د ژوند عمده او مهمې پېښې کومې دي؟

ـ ویکتور هوګو د کوم ادبي ښوونځي یا مکتب او لارې له مخکښانو څخه شمېرل کېږي؟

۳ـ زده کوونکي دې دغه څلور ځوابه پوښتنه کې سم ځواب په نښه کړي:

ویکتور هوګو ددغو کتابونو یا آثارو لیکوال دی:

الف: بېنوایان (یا بېوزلان)، د یو محکوم سرګذشت، هغه سړی چې خاندي

ب: د یو محکوم سرګذشت، رومیو او ژولیت، بېنوایان (یا بېوزلان)

ج: هغه سړی چې خاندي، ګیتانجلي، اتللو

د: بېنوایان (یا بېوزلان)، جګړه او سوله، هغه سړی چې خاندي.

۴ـ څلور تنه زده کوونکي دې د لوست عمده عمده ټکي په خپلو الفاظو کې خپلو ټولګیوالو ته ووایي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د نړۍ د یو داسې لیکوال یا شاعر په باب یا د هغه د کوم اثر او کتاب په باب یو مخ لیکنه وکړي چې پېژني یې، که یې د هغه کوم کتاب لوستی وي، د کتاب په باب دې معلومات وليکي او که د شاعر او لیکوال په باب یې څه لوستي وي، هغه دې په خپل قلم وليکي او په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې یې ټولګیوالو ته واوروي.

ketabton.com - The Digital Library

ژوند او چاپېريال



د چاپېريال په اړه مو څه اورېدلي دي؟

د ژوند ښه چاپېريال د سالم او هوسا ژوند لپاره څومره اړين دی؟

په دې لوست کې له تاسو سره د ژوند او چاپېريال په اړه خبرې لرو. ژوند پر چاپېريال څه اثر لري؟ يا دا چې چاپېريال د ژوند لپاره څومره ارزښت لري؟ دغه ډول موضوعګاني زمونږ او ستاسو د ژوند لپاره ډېر اهميت لري او بايد جدي پاملرنه ورته وشي. په تېرو لوستونو کې مو د چاپېريال په اړه مطالب لوستي دي. په دې لوست کې په ځانګړې توګه د ژوند او چاپېريال پر اړيکو تاسو ته ځينې مطالب وړاندې کوو.

ketabton.com - The Digital Library

ژوند او د ژوند چاپېريال په ډېرو برخو کې يو له بل سره نږدې اړيکې لري. د موجوداتو ژوند پر خپل شاوخوا او چاپېريال ژور اغېز لري او دغه راز چاپېريال هم د انسانانو، حيواناتو او نباتاتو پر ژوند هر اړخيز اثر غورځوي.

موږ ته لازمه ده چې د خپل ژوند چاپېريال ته همېشنۍ پاملرنه وکړو، دغه کار نه يوازې دا چې زموږ د ځان لپاره ګټور دی، د ټولو انسانانو او ټولې نړۍ لپاره ګټور دی. د چاپېريال د پاک ساتلو، د چاپېريال د ارزښت، د چاپېريال د اړتياوو او نورو موضوعګانو په اړه بايد نه يوازې دا چې ځانونه پوه کړو، نورو ته يې په پوهولو کې هم هلې ځلې وکړو.

که موږ خپل چاپېريال ته پام ونه کړو، له ډېرو ستونزو سره مخامخ کېږو، تر ټولو مهمه خبره داده چې نن سبا ټوله نړۍ د چاپېريال دککړتيا له ستونزو سره لاس او ګرېوان ده. هوا ککړه شوې ده، اوبه ککړې شوې دي، په نړۍ کې د نفوسو د زياتوالي له امله د څښاک او خوراک د موادو دکمښت په څنګ کې د ژوند چاپېريال هم له ګڼو ګواښونو سره مخامخ دی. د چاپېريال او هوا ککړتيا پر اقليم هم اغېز کړی دی. د ټولې نړۍ د تودوخې کچه د لوړوالي خواته درومي. له دې کبله د نړۍ د يخونو سترې سمندري زيرمې د ويلي کېدو په حال کې دي. دا ټولې نړۍ ته يو ستر ګواښ دی.

د هوا دککړتيا له امله بېلابېل رنځونه راپيدا کېږي، لکه: د وينې پرنډوالی، د تنفس بېلابېلې ناروغۍ، حساسيتونه او نور... ددغې ککړتيا لاملونه ډېر زيات دي او هرې برخې ته يې پاملرنه ضروري ده. د صنعت له ودې سره سم چاپېريال ته او د هوا او اوبو ککړتيا ته ډېر ګواښونه ورمخامخ دي. له يوې خوا بېلابېل ګازونه او لوګي، د سون توکي او نور پر هوا ورګډېږي او د تنفس له لارې د انسانانو او حيواناتو سږو ته ورداخلېږي او دا د هغوی بدن ته سخت تاوان وراړوي. ان چې پر نباتاتو، وښو او سبو هم خپل اغېز لري. په ډېرو هېوادونو کې ددغو لوګيو او ګازونو د تصفيې لپاره لارې چارې نه دي لټول شوي او له همدې کبله يې نړۍ ته زيانونه په پرله پسې توګه مخ پر زياتېدو دي.

اوبه د نړۍ لپاره ډېر اهميت لري. د ټولو موجوداتو لپاره اوبه حياتي ارزښت لري،

ketabton.com - The Digital Library

یعنې دا چې د ټولو موجوداتو ژوند ورپورې تړلی دی. ویل کېږي چې د نړۍ ۹۸ په سلو کې اوبه مالګینې او تروې دي، دوه په سلو کې خوږې او په سلو کې یوه برخه یې زمونږ لپاره د ګټې وړ دي. انسانان نه یوازې د څښلو لپاره، بلکې د ژوند د ټولو فعالیتونو لپاره د اوبو کارولو ته اړ دي. کرنې ته اساسي ارزښت لري. اوس د نړۍ د اوبو اساسي زیرمې ډېرې کمې شوې دي. د زهرمو د کمښلو په څنګ کې له بده مرغه دغه اوبه د بېلابېلو عواملو له کبله ککړې شوې دي. د صنعتي پارکونو او کارخانو د جوړېدو او زیاتېدو له کبله، د نفوسو د زیاتوالي له کبله، دکانالیزاسیون د نه لرلو له کبله، د روغتیایي نه مراقبت او څارنې او دغه راز د نورو عواملو له مخې د اوبو ناپاکۍ زیاتې شوي او اوبه ککړې شوې دي.

د څړ ځایونه، ځنګلونه، ښونه او چمنونه له ګوابنونو سره مخامخ دي. زیاتره خلک پر خپل سر ځنګلونه وهي او څړځایونه له منځه وړي، له همدې کبله د باران کمښت، د اوبو لږوالی، د اقلیم تودوخه او د چاپېریال ککړتیا ناوړې پایلې رامنځته کوي. مونږ باید دغو ټولو خواوو ته غور وکړو چې د ژوند چاپېریال مو له دې زیات خراب نه شي.

زمونږ خلک د کثافاتو او فاضله موادو یا چټلیو د راټولولو، په یو ځای کې د جمع کولو او یو مناسب ځای ته د وړلو، ښخولو یا له منځه وړلو لپاره وړ امکانات او شونتیاوې نه لري. دغه کار هم ډېرې ناوړې پایلې لري، په تېره بیا زمونږ ښارونه یې ډېر چټل کړي او له کثافاتو ډک کړي دي. د ګنهو ناروغیو لپاره دغه کثافات د مکروبونو او مرضونو د زیرمو په توګه د پام وړ دي.

جنګونه بل هغه عامل دی چې د چاپېریال لپاره لوی ګوابن ګڼل کېږي. د باروتو خپرېدل، د چاودو او ناچاودو توکو پرېمانې او د ټانکونو، شوبلو او الوتکو لوګې او د تېلو لګښت چاپېریال سخت زیانمنوي او خطرناک رنځونه زېږوي. زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې له سپېڅلي جهاد راوروسته کورنۍ جنګ جګړو، نه یوازې دا چې هېواد یې لوټې لوټې کړی او انسانان یې وژلي، بلکه ستره بدمرغي یې دا رامنځته کړې ده چې زمونږ د ژوند چاپېریال ته یې ګڼ شمېر زیانونه اړولي دي. له همدې کبله د سولې د

ketabton.com - The Digital Library

کوترو الوتل، د هېواد د نیکمرغۍ او د ژوند د چاپېریال د نېکمرغۍ زیري هم له ځانه سره لري.

اوس نو راځو دې ته چې د چاپېریال د ښې ساتنې لپاره باید موږ او تاسو په ګډه څه وکړو:

۱ـ په لومړي ګام کې باید د خپل ځان، خپل کور، خپل کلي او ښار او په عمومي توګه د خپل هېواد د پاک ساتلو لپاره هلې ځلې وکړو.

۲ـ د چاپېریال د ستونزو، ګوابنونو او اړتیاوو په باب باید هم خپل ځان وپوهوو او هم پرې خپلې کورنۍ او خپل ملګري پوه کړو. لازمه ده چې د پوهاوي دغه لړۍ همېشنۍ بڼه غوره کړي.

۳ـ موږ باید د خپل چاپېریال په باب بې پروا ونه اوسو او هر هغه څوک چې ګورو خپل شاوخوا، خپله لار، سړک، کوڅه او نور چټلوي، باید خپلې تېروتنې ته یې پام ور وګرځوو.

۴ـ هر څوک باید ځان د ټولنې پر وړاندې مسؤول وګڼو. له حکومتي چارواکو څخه نیولې تر یو کلیوال پورې ټول د خپل شاوخوا د پاک ساتلو مسؤولیت لري، باید موږ په دغه بهیر کې خپل مسؤولیت سرته ورسوو.

د ښوونځیو د شاګردانو لپاره په ځانګړې توګه دې چارې ته غور پکار دی. زده کوونکي کولای شي چې هم د ښوونځي په چاپېریال کې، هم د خپل کور، کلي او ښار د پاک ساتلو په کار کې پوره ونډه واخلي. د وطن ځوان نسل د هېواد د راتلونکي په سمسورولو، وده او پرمختګ کې پوره ونډه لري. له همدې امله لازمه ده چې د خپل چاپېریال په ساتنه او دغه راز د خپلې کورنۍ نورو غړو، د کلي او ښار خلکو او په تېره بیا خپلو همزولو او کشرانو ته د دغې چارې د ترسره کولو په لاره کې لازمې مشورې ورکړي. د دې هېواد هره برخه زموږ د ګډ کور یوه څنډه ده او موږ ته یې پاک او ستره ساتل یو ملي مسؤولیت دی.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ دغه لوست دې په څلورو برخو وویشل شي. څلور تنه زده کوونکي به یوه یوه برخه ولولي، خو د هر تن د متن له لوستلو وروسته به یو بل شاګرد په خپله خوښه د متن د همدې برخې په باب خپل خپل نظر وایي، یا به خپله خپله تبصره وایي.

۲ـ زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځواب ووایي:

- ژوند او چاپېریال څه اړیکې سره لري؟
- که چاپېریال ته پاملرنه ونه شي کومې کومې ستونزې رامنځته کېږي؟
- د چاپېریال د ککړتیا عمده عوامل کوم کوم دي؟
- او به څنګه ناپاکې یا ککړېږي؟
- د ژوند پر چاپېریال جنګونه څه اغېز لري؟
- د هوا د تودوخې لاملونه کوم دي؟

۳ـ څلور تنه زده کوونکي دې په نوبت سره دې پوښتنې ته جلا جلا ځواب ووایي چې مونږ د خپل چاپېریال د ښه ساتنې لپاره باید څه وکړو؟

۴ـ دوه تنه زده کوونکي دې د دې لوست د جملو د جوړښت په باب خبرې وکړي چې ساده او که مرکبې پکې ډېرې دي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې (په خپله خپله خوښه) د خپل کور، کلي یا ښار او یا هم د ښوونځي د چاپېریال په اړه یو مخ لیکنه وکړي، دادې په نظر کې ولري چې:

۱ـ اوس یې چاپېریال څنګه دی؟

۲ـ څه باید وشي چې د ژوند او کار پر ښه چاپېریال بدل شي؟

ketabton.com - The Digital Library

۳_ مورِ ته به د ښه چاپېریال ګټه څه وي؟

۴_ پر دې سربېره چې مورِ خپله به په دې کار کې وندې اخلو، په دې لړۍ کې نور کوم کوم مسؤولیتونه لرو؟

۵_ دا مو په نظر کې وي چې د ځنګلونو پالل او د شنو سیمو پراخولو ته مو په لیکنه کې پوره پام کړی وي.

لـــــورې ژورې مـــې پـــه ســـترګـــو کـــې دي
کـــنـــدې کـــپـــرې مـــې پـــه ســـتـــرګـــو کـــې دي
ســـتـــا د نـــظـــر هـــرې ادا تـــه رســـي
داســـې وزرې مـــې پـــه ســـتـــرګـــو کـــې دي
عـــشـــقـــه فـــطـــرت دې د نـــګـــهـــت راکـــړې
ګـــنـــې کـــمـــرې مـــې پـــه ســـتـــرګـــو کـــې دي
پـــاس چـــې اغـــیـــار راتـــه کـــتـــلـــی نـــه شـي
جـــورې بـــمـــبـــرې مـــې پـــه ســـتـــرګـــو کـــې دي
وایـــم پـــه زړه کـــې ورنـــزدې بـــه شـــمـــه
څـــه لـــرې لـــرې مـــې پـــه ســـتـــرګـــو کـــې دي
حـــمـــزه پـــه طـــمـــع لـــرې نـــه شـــوې چـــرې
څـــه ســـتـــرې ســـتـــرې مـــې پـــه ســـتـــرګـــو کـــې دي

((امیر حمزه شینواری))

ketabton.com - The Digital Library

مقاله څنګه وليکو؟

تاسو د څه ډول مقالو له لوستلو سره مينه لرئ؟

تاسو خپله تراوسه کومه مقاله ليکلې ده؟ که مو نه وي ليکلي، غواړئ چې يو څه وليکئ؟

اوسنۍ زمانه د رسنيو او په تېره بيا د برېښنايي رسنيو د لوی بدلون زمانه ده. پخوا به په ورځپاڼو، جريدو او مجلو کې ډول ډول مقالې خپرېدلې. اوس ددې په څنګ کې په راډيويي او تلويزيوني خپرونو سربېره په ويبپاڼو او ويبلاګونو کې هم ډول ډول ليکنې او مقالې خپرېږي. نورو ته د خپلو نظرونو، افکارو، هيلو او غوښتنو تر ټولو ښه‌ډې لار د همدغو مقالو ليکل او خپرول دي. دغه راز په علمي مقالو کې له خپلو نورو څېړنو او ګروېږنو څخه د خلکو د خبرولو غوره لار د همدغه ډول ليکنو او مقالو ليکل او خپرول دي. په تاسو کې کېدای شي ځينې کسان د مقالو له لوستلو او ليکلو سره مينه ولري. ددې لپاره چې تاسو د مقالو ليکلو ته نوره هم ليوالتيا پيدا کړئ، مو ږ به په دې لوست کې د مقالو په باب درسره خبرې وکړو. دغه راز به د مقالو د ليکلو لارې چارې د روښنيو. دغه لوست تاسو ته د مقالو د ليکلو غوره لارښود مخې ته ږدي. پوره دقت ورته وکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

مقاله، ليکنې ته وايي، خو هغه ليکنه چې نسبتاً لنډه وي. مقاله په نثر سره هغه ليکنه ده چې ليکونکی يې د يوې ځانګړې موضوع او مطلب د څرګندولو لپاره ليکي. په مقاله کې ليکونکي د خپل نظر وړ ټکي بيانوي او غواړي چې نور خلک يې ولولي او دده د نظر له ټکو څخه خبر شي.

مقاله له رسالې (يا کتابګوتې) سره له دوو اړخونو څخه توپير لري. لومړی دا چې د رسالې په نسبت د مقالې لمن لنډه ـ تنګه ده. بله خبره داده چې د رسالې په پرتله د مقالې مخاطبين او مينه وال زيات دي، دا ځکه چې د مقالې د بحث موضوع د رسالې په پرتله عامه وي.

په مقالو کې ځينې يې ډېرې عامې وي چې نړۍ د ټولو لوستونکو لپاره ليکل کېږي، موضوع يې هم د انساني ژوند، ټولنې، روانو حالاتو او نورو ټولنيزو پېښو په اړه وي او ډېره ځانګړې يا تخصصي بڼه نه لري. ځينې مقالې بيا ډېرې ځانګړې او تخصصي وي. په تخصصي مقالو کې زياتره مخاطبين د هماغې څانګې يا برخې مينه وال کسان وي، خو بيا هم عام لوستونکي ترې ګټه اخيستلای شي.

موږ به تاسو ته خبره ډېره ساده کړو. د دوه ډوله مقالو ليکلو ته مو بايد فکر وي:

عادي يا اخباري مقاله: ددې مقالې لوستونکي زياتره عام مينه وال دي. په دغو مقالو کې ستاسو مخه له ټولو لوستونکو سره وي. که تاسو غواړئ چې د يوې موضوع په اړه عمومي ليکنه وکړئ چې مخاطب مو ټول لوستونکي او عام مينه وال وي او بيا غواړئ دغه مقاله په کومه ورځپاڼه، جريده، مجله يا ويبپاڼه کې خپره کړئ، نو له ليکلو مخکې بايد دغو ټکو ته پام وکړئ:

۱ـ يوه داسې موضوع وټاکئ چې هم تاسو ته ډېره مهمه وي او هم اټکل وکړئ چې لوستونکو ته به په دغه وخت کې مهمه او ارزښتمنه وي. د موضوع له انتخاب څخه بايد باوري شئ چې يو څه به خلکو ته نوي هم وي.

۲ـ د موضوع له انتخاب وروسته هڅه وکړئ ځان ته هغه ټکي معلوم کړئ چې غواړئ د خپلې همدغې موضوع په ليکلو کې يې مطرح او څرګند کړئ. ددې موضوع له

ketabton.com - The Digital Library

لیکنې مو خپل هدف باید ځانته څرګند کړی وي. د هدف لپاره مو باید سندونه، فکتونه او حقایق له ځانه سره یادداشت کړئ.

۳ـ لومړی هڅه وکړئ چې له لیکلو مخکې خپلې مقالې ته یو چوکاټ وټاکئ. په چوکاټ کې به په یو کاغذ کې د خپلې مقالې اصلي ټکي له ځان سره لنډ لنډ ولیکئ بیا به پرې فکر وکړئ او په لیکلو به یې پیل وکړئ.

۴ـ موضوع ته اوږدې سریزې مه ورکوئ، مخامخ خپل مطلب ته راشئ، لومړی د خپلې موخې په اړه وغږېږئ، بیا یې تفصیل ولیکئ او په پای کې ترې نتیجه یا پایله ترلاسه کړئ.

۵ـ له یوې موضوع څخه بلې او بیا بلې موضوع ته ټوپونه مه وهئ. یوازې په هغه حالت کې چې ستاسو له همدې موضوع سره ښه مرسته کوي او دا موضوع نوره هم روښانوي، کولای شئ بله موضوع ورسره یاده کړئ. له خپلې اصلي موضوع څخه مه بهر کېږئ. بیا لوستونکي درسره تنګېږي او فکر یې پاشل کېږي.

۶ـ خبرې باید ډېرې ژوولې او کرکېچنې نه وي. په هر څومره اسانۍ سره چې کولای شئ، خپل مطلب بیان کړئ. خپله اصلي خبره، خپل اساسي مطلب په ساده او مخامخ ښه بیان کړئ، خپلې موضوع ته دلایل راوړئ او داسې یې په پېچلې او ژوولې ښه مه مطرح کوئ چې لوستونکي ستاسو د اصلي مطلب او هدف د پیدا کولو لپاره پر خپلو مغزو فشار راوړي او یا دې ته اړ شي چې بیا بیا یې ولولي.

۷ـ د خپلې موضوع تسلسل، د خپلې لیکنې او خبرو تسلسل درڅخه ګډوډ نه شي. کوښښ وکړئ چې هر څه په ترتیب سره بیان کړئ.

۸ـ په لیکنو کې د کلماتو په لوبو پسې مه ګرځئ. دې ته په ساده ټکو کې لفاظي وایي او تاسو باید هڅه وکړئ چې له لفاظي څخه ځان وساتئ. موضوع د بیان په ډول یا الفاظو کې داسې مه رانغاړئ چې وغواړئ مقاله مو په اصطلاح ډېره نغاړلې راشي. نه! په دغو مقالو کې غوڅه خبره غوره ده.

۹ـ کله چې لیکنه مو بشپړه کړه، یو ځل بیا یې په غور او دقت ولولئ. لازم سمون

ketabton.com - The Digital Library

پکې راولئ، بيا يې هم د لوستونکي په توګه په انتقادي نظر ولولئ او هر کله چې ډاډه شوئ چې په ليکنه کې مو خپل هدف ته رسېدلي ياست او لوستونکو ته به هم خپل مطلب ورسولای شئ، بيا يې نو د خپرېدو نيت وکړئ.

علمي او څېړنيزه مقاله:

د علمي او څېړنيزو (تحقيقي) مقالو لپاره د يوې موضوع په اړه د ډېرو زياتو معلوماتو لرل، پر موضوع پوره پوهېدل او د ډېرو کتابونو مطالعه لازمي دي.

علمي او څېړنيزې مقالې زياتره ځانګړې او تخصصي بڼه لري او له همدې کبله يې د ليکلو او لوستلو ساحه ځانګړې (يا تر يو حده محدوده) ده، د تخصص کسان يې ليکي او زياتره يې له يوې ځانګړې علمي موضوع سره اړوند کسان د لوستلو لپواله وي.

که تاسو هم کله غوښتل چې په يوه موضوع کې علمي او څېړنيزه مقاله وليکئ، نو لازمه ده چې دغو ټکو ته پام وکړئ:

۱ـ له پرله پسې لوستلو (مطالعې) او لټون وروسته بايد ځانته داسې يوه موضوع وټاکئ چې ستاسو په نظر نوې ده او په دې برخه کې ډېرې څېړنې نه دي شوي. که څېړنې شوي دي، نيمګړتياوې لري او تاسو غواړئ ددې موضوع په اړه نوي ټکي څرګند کړئ. ستاسو په نظر به دغه موضوع د نور زيات لټون غوښتنه کوي.

۲ـ ټول هغه کارونه چې د همدې موضوع په اړه تر تاسو دمخه ترسره شوي، په دقت سره وولولئ او په لازمو برخو کې ترې يادښتونه واخلئ. له دغو يادښتونو څخه به په خپله مقاله کې ګټه اخلئ. يادښتونه به په يو جلا کاغذ کې ليکئ. پر پاس څنډه به د يادښت موضوع ليکئ. بيا به يادښت ليکئ او په پای کې به يې د کتاب نوم، ليکوال، د چاپ کال او وخت او د يادښت د مخونو شمېره ليکئ. دغه ليکنه ځکه په کار ده چې تاسو به بيا د خپلې مقالې په اخځونو او لمن ليکونو کې خپلې دغه د ګټې وړ منابع ليکئ. د کتابونو په لټون پسې بېلابېلو کتابتونونو ته لاړ شئ او يا له هغو کسانو سره اړيکې پيدا کړئ چې ددې موضوع اړوند کتابونه لري او يا د منابعو او اخځونو په باب لارښوونه درته کوي.

ketabton.com - The Digital Library

۳_ د یادښتونو له بشپړېدو وروسته، خپلې مقالې ته یو چوکاټ جوړ کړئ.

کوم کوم ټکي غواړئ چې په پرله پسې توګه یې بیان کړئ، د موضوع تسلسل ته لازم غور وکړئ، پر چوکاټ بیا ځلي نظر واچوئ.

۴_ خپله لیکنه په پوره غور او دقت سره ولیکئ.

۵_ خپله لیکنه بیا بیا ولولئ، سمونه پکې وکړئ او هر کله چې پرخپله لیکنه ډاډه او باوري شوئ نو مقاله د خپرېدو لپاره رسنیو ته وسپارئ.

د متن لنډیز:

مقاله د نثر په بڼه هغه لیکنه ده چې د یوې ځانګړې موضوع په اړه په نسبتاً لنډه توګه لیکل کېږي. مقاله له رسالې یا کتابګوټي او کتاب سره دا توپیر لري چې: ۱- مقاله لنډه وي. ۲- د مقالې موضوع د رسالې او کتاب په پرتله یو څه عامه وي، یا د عامو لوستونکو لپاره وي.

د مقالو په باب باید ووایو چې په عمومي توګه په دوو برخو کې ورته غور لازم دی: لومړی عامې، عادي او اخباري لیکنې دي. په دغو مقالو کې هڅه کېږي چې عام لوستونکي مخاطب وي. د داسې لیکنو مینه وال عام خلک دي. دېر لوستونکي یې لولي او دېره تخصصي او ځانګړې بڼه نه لري.

علمي او تحقیقي مقالې، تخصصي لیکنې او څېړنې دي. دغه مقالې زیاتره په یوه علمي څانګه کې د متخصصو کسانو له خوا لیکل کېږي او پر څېړنیز اړخ یې ټینګار کېږي.

خرګندونې

ویبپاڼه: د برېښنایي رسنیو یو ډول دی چې د انټرنېټ له لارې وړاندې کېږي.

وېبلاګ: د ځانګړو کسانو د خپلو اثارو او لیکنو د رسنۍ په توګه کار ورکوي. ویبلاګ داسې وي لکه د یو ځانګړي کس یا کسانو د خپرونو او لیکنو آرشیف.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

- مقاله څه ته وایي؟
- د مقالې او رسالې توپیر په څه کې دی؟
- د یوې اخباري مقالې د لیکلو په وخت کې مو باید کوم ټکي په پام کې وي؟
- علمي او څېړنیزه مقاله څه ځانګړتیاوې لري؟

۲ـ په اوسنیو اخبارونو، مجلو او ویبپاڼو کې مو د کومو کومو لیکوالو مقالې تراوسه لوستي دي؟ یو یو زده کوونکی دې د یو یو تن لیکونکي نوم واخلي.

۳ـ دوه تنه زده کوونکي دې، په دغه موضوع لنډې خبرې وکړي:

- ښه مقاله هغه ده چې .....
- د مقالې د چوکاټ جوړول دغه ګټه لري چې .....

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې دغه لوست یو ځل بیا په کورونو کې ولولي او د همدې په رڼا کې دې د خپل شاوخوا یا ددغو ورځو د یوې مهمې موضوع په اړه یوه لنډه مقاله ولیکي. په مقاله کې دې د لوست لارښوونې په پام کې ونیول شي.

ketabton.com - The Digital Library

پوهاند عبدالحی حبيبي
ليکوال او څېړونکی



_ د پښتو د معاصر ادب دکومو نومیالیو له نومونو سره اشنا یاست؟

_ د پښتو کوم مشهور تاریخ لیکونکي او څېړونکي پېژنئ؟

پوهاند عبدالحی حبيبي د افغانستان لوی لیکوال، مؤرخ او څېړونکی دی. د معاصر افغانستان په محققینو او لیکوالو کې به ډېر لږ کسان له پوهاند حبيبي سره برابري وکړای شي.

هغه له يوې خوا د ګڼ شمېر ادبي تاريخي او علمي آثارو څښتن دی او له بلې خوا يې ليکنې ډېرې پخې، هر اړخيزې او ژورې دي. په دې لوست کې تاسو ته د هغه د ژوند، کتابونو او علمي هلو ځلو په باب رڼا اچول کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

د پښتو ادبياتو په مخکښو معاصرو څېرو کې د پوهاند عبدالحی حبيبي نوم لکه ستوری داسې ځلېږي. د پښتو د معاصر ادب د نوميالیو ستورو په کتار کې د هغه نوم تر ټولو دمخه دی. هغه هم شاعر دی، هم د نوي نثر له مخکښانو څخه دی، هم ژورنالیست و، هم د افغانستان دگوتو له شمېره د کمو مؤرخينو په ډله کې مخکښ ځای لري، هم د ادبي، علمي څېړنو يوه پياوړې څېره ده.

عبدالحی حبيبي په ۱۲۸۹هـ. ش. کال په کندهار ښار کې زېږېدلی دی. د کندهار په ښو ونځيو کې يې لومړنۍ زده کړې وکړې. بيا په کندهار کې د ((طلوع افغان)) جريدې مرستيال او ورپسې ددې جريدې د مسؤول چلوونکي په توگه وټاکل شو. لس کاله يې دغه جريده وچلوله. په همدې وخت کې ((طلوع افغان)) بشپړه پښتو شوه. ددې په څنگ کې چې له ژورنالیستيک اړخ څخه ډېره په زړه پورې وه، دې جريدې پښتو ادب ته هم د قدر وړ خدمتونه کړي دي.

استاد حبيبي د ((طلوع افغان)) د مسؤول مدير په حيث له دندې څخه وروسته په کابل کې د مطبوعاتو د مستقل رياست مرستيال او د پښتو ټولنې مشر شو. دلته يې د پښتو ژبې د ودې لپاره بنسټيز کارونه ترسره کړل. د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي له تاسيس سره سم يې نومورې لومړنۍ رئيس وټاکل شو.

په ۱۳۲۷ هـ. ش. کال کې د کندهار د خلکو له خوا د ولسي جرگې غړی شو او د وکالت دوره يې لا پای ته نه وه رسېدلې چې د وخت له حکومت سره د اختلافونو له کبله له هېواده بهر لاړ. څه موده يې په کراچۍ کې سياسي، علمي او ادبي هلې ځلې وکړې او بيا بېرته افغانستان ته راستون شو. څه موده د تاريخ ټولنې رئيس او د صدراعظم فرهنگي سلاکار و. خپلو علمي او کلتوري هلو ځلو ته يې د ژوند تر پای پورې دوام ورکړ.

پوهاند عبدالحی حبيبي له اوږدو ملي، علمي او ادبي خدمتونو وروسته د زړه د ناروغۍ له امله د ۱۳۶۳ هـ. ش. کال د ثور په شلمه نېټه په کابل کې له نړۍ سترگې پټې کړې او په ((شهدای صالحين)) کې خاورو ته وسپارل شو.

استاد حبيبي د خپل له ثمره ډک ژوند په اوږدو کې زيات شمېر مقالې، رسالې او

ketabton.com - The Digital Library

کتابونه ولیکل. د افغانستان د تاریخ، کلتور، ادب او نورو بېلابېلو اړخونو په سپړنه او څېړنه کې يې له نوښته ډکې هلې ځلې کړې دي. په پښتو او دري دواړو يې زيات شمېر آثار چاپ او خپاره شوي دي. دلته يې د ځينو کتابونو نومونه اخلو:

د پښتو ادبياتو تاريخ (دوه ټوکه)، افغانستان بعد از اسلام، پښتانه شعراء (لومړی ټوک)، نومورکي مؤرخين، جنبش مشروطيت در افغانستان، د پښتو ادب په تاريخ کې قصيده، د افغانستان پېښليک، تاريخ مختصر افغانستان او يو زيات شمېر نور...

ددې په څنګ کې پوهاند حبيبي شاعر او د ادبي- داستاني نثرونو ليکوال هم و. د شعرونو د بېلګې په توګه يې ((د خوشحال روح ته خطاب)) تر سرليک لاندې د يو نظم ځينې برخې لولو:

د پښتون بهار له تاوه — اې مېړه نړه سردار
تا پښتو ده ژوندۍ کړې — له خټک تر کندهار
پښتانه تا يادوينه — ننګيالی ښاغلی پلار
چې پر مرګ دې هېره نه وه — د پښتون د ننګې لار
تا ويل پس له مرګه هلته تاسې ښخ کئ مړ خوشحال
د مغولو د پښو ګرز يې چېرې نه کې بيا پايمال

نه يې مړ ته خو ژوندۍ يې — اې ادېبه ننګياليه
دا ښه نوم دې دايمي دی — په ابد ژوندون ژوندېه
ته زمور ملي پېښوا يې — د پښتو پلار توريالېه
پښتونواله دې ژوندۍ کړه — د پښتون لوی بريالېه
تا و مور ته وښودله، د پښتو دا سمه لاره
ستا په توره به نازېږو د پښتو پښتونه پلاره

ketabton.com - The Digital Library

د پښتون بېړۍ چپه وه د غزني دوران و تللی
د غوري لويي وه ورکه د سوري قام و نتلی
د لودين جنډه نسکوره قطب الدين په زړه داغلی
د مغولو طالع لوړ وو د اورنګ توغ ړېدلی
يو څو ستا د سوز ناړې وې چې پښتون يې راولاړ کئ
که نه ژر وو چې خپل کور يې د مغول په لاس ويجاړ کئ

اروابښاد پوهاند حبيبي پښتو داستاني او ادبي نثرونه هم ليکلي دي. په افغانستان کې د پښتو معلومه لنډه کيسه هم په ۱۳۱۵ هـ. ش. کال کې په طلوع افغان کې خپره شوې او د استاد حبيبي په قلم کښل شوې ده. دغه کيسه (چې د نندارې ځانګړنې هم لري) د ((توريالی پښتنه)) په نوم خپره شوې او د ((تور پيکی)) په نوم په اوسني ليکوال نومې کتاب کې چاپ شوې ده.

د (متلونه) په نوم د پوهاند حبيبي د ليکنې يوه برخه د هغه د علمي آثارو د نثر د نمونې په توګه وړاندې کوو او وينو چې هغه استاد د پښتو متلونو په اړه څومره د کار خبرې لري:

((په پښتو کې متل عين هغه شي ته وايي چې په عربي يې مثل بولي. د پښتو ادب يو مهم ټوک دغه متلونه دي چې په لنډو ويناو و کې حکمتونه او د ګټې خبرې ځای شوي دي. په متلو کې د ملتو د روحياتو خورا ښې ښې نکتې پرتې وي او ځينې پوهان وايي چې تر شعر لا متلونه د ملتو پر عقليت ښه دلالت کوي، ولې چې اشعار د داسې خلکو له کومو راوځي چې فکر او ذهن او عقليت يې تر عوامو لوړ وي، اما متلونه د عوامو له تفکره حکايت کوي او د متلونو الفاظ مصنوعي او پالش شوي نه وي او د عوامو په ژبه وي، نو متلونه د وګړو ښۍ ګڼلی شو. متلونه د ملتو د اجتماعي ژوندون او ددوی د عقلي هويت ښکاره کوونکي دي، په مختلفو اوضاعو او کيفياتو کې د تجربو او ازمېښتو نتيجې دي چې په لنډو کلماتو کې ځای شوي دي.

ketabton.com - The Digital Library

د پښتو متل دی: (جنګ په وسله کېږي او ننګ په غله) له دې متله لاندې خبرې استخراج کېدلای شي:

د پښتنو اجتماعي ژوند پر دوه رکنه ولاړ و. اول له ځان څخه دفاع، دویم یو له بله سره په روغه ژوند کول، په دې متل کې اول ته جنګ او دویم ته ننګ ویل شوی دی. د دوی عسکري احساسات په دفاعي او منظمانه حرکاتو کې او د ننګ جذبات په خپلوی او روغه کې د ژوندانه مدار و، وسله په دوی کې مهمه او غله د ارتیا مهم شی و. دې اجتماعي ارتیا دوی زراعت او کرنې ته پاڅول، نو یې په اخلاقو کې زراعتي روحیه او د کرنې قدر کول شامل شول. دا روحیه که څه هم د زړو آریایانو ده او اوستا د دوی زراعتي حالت ښه څرګندوي، مګر په پښتونوالي کې خو دغه زور روح بل راز شو او د پښتنو له روحیاتو سره سم د ننګ لپاره یوه وسیله شوه او له دې څخه موږ ته څرګندېږي چې د پښتنو د اجتماعي ژوند اساس ((ننګ)) و، نو د ننګ لپاره غله او کښت ضرور و او دې کیفیت د پښتونخوا وګړي اکثر کرونکي او زراعت پیشه کړل.))

((پر پچه وخوت کشمیر یې ولید)) دا بل متل دی او دا رابنکاره کوي چې پښتنو پر عین ملي غرور او د ځان په ویسا کې خپل حد نه ورکاوه او بې ځایه تکبر یې نه کاوه.

((د ډېرو لرګی د یوه غورزی)) د اجتماعي تعاون روح څرګندوي.

کله کله په پښتو متلو کې د فلسفې ګراني خبرې هم راغلي او دا ښیي چې د پښتنو عقلیت، سوچ، بدوي او غرنی نه و او د دوی په فکر کې ژورتوب هم موجود و، مګر طبیعي رنګ یې درلود، د صنعتي او موضوعي پوهنو صیقل نه و وهلي))

اروابنباد پوهاند حبیبي د افغانستان له لویو پوهانو، ادیبانو او مؤرخینو څخه و. د هغه راپاتې آثار د افغانستان د کلتوري او علمي میراث یوه ډېره مهمه برخه ده. د ښاغلي عبدالله بختاني خدمتګار په وینا: ((استاد پوهاند عبدالحی حبیبي زموږ د زمانې هغه ستر افغاني لیکوال او مؤلف دی چې زموږ د هېواد او سیمې د ادب او تاریخ د تیاره ګوټونو په رونړولو کې یې ستر خدمتونه سرته رسولي دي، دده له آثارو، لیکنو، وینا و او مشورو څخه زموږ د نسل لیکوالو، پوهانو او محققانو زیاته استفاده کړې ده او په

ketabton.com - The Digital Library

دې برخه کې دده د استادۍ حق ثابت دی. سربېره پر دې، دی یو داسې معلم او استاد هم و چې د ښوونې او روزنې په چارو کې يې مستقيمه برخه اخيستې ده، د ابتدايي ښوونځي معلمي، د پوهنتون استادي، د پوهنې، ښوونې او روزنې د مقاماتو اداره او لارښوونه او د درسي آثارو تاليف، هغه له شرف او وياړه ډک خدمتونه دي چې د هغو په نتيجه کې د نوموړي پوهاند د استادۍ مقام رسماً ثبتېږي.))

د استاد حبيبي پر دغه څلوريزه ددې لوست لمن رانغاړو:

مړ ملت د مرګ له خوبه راويښېږي
چې مېړونه په ربنتيا ورته غږېږي
د مسيح په دود احيا کاندي، مېړونه
په اواز يې ولسونه ژوندي کېږي

څرګندونې

اوسنۍ ليکوال: دا د پښتو د معاصرو ليکوالو يوه غوره تذکره ده. د اروابناد عبدالرؤف بېنوا په قلم ليکل شوی دغه مهم کتاب په دريو ټوکو کې خپور شوی دی. د پښتنو د ليکوالو او شاعرانو ژوند ليک او د آثارو بېلګې پکې خوندي شوې دي.

اوستا: اوستا د آريايي زړو ژبو له ډلې څخه ده چې اوس مړه شوې ده. دغه ژبه د (زند) په نوم هم يادې شوې ده. څرنګه چې د زردښتي دين، مذهبي کتاب اوستا نومېږي او دا د نوموړې ژبې او دين په باب يوازينی راپاتې مستند کتاب دی، نو دا ژبه هم د اوستا په نوم يادې شوې او مشهوره شوې ده. د ژبې د جوړښت او د لغتونو د څېړنې له مخې اوستا له پښتو ژبې سره ډېره نږدې ده.

ketabton.com - The Digital Library

۱ـ یو ځل دې ټول زده کوونکي د استاد حبیبي ((د خوشحال روح ته خطاب)) شعر له ځانه سره په چوپه خوله ولولي. بیا دې یو زده کوونکی په خپله خوښه دغه شعر د ټولګي په مخ کې په لوړ غږ د دکلمې په توګه ولولي، معنا دا چې شعر دې په دقیقه توګه ښه او غوره ولولي. په هر ځای کې چې لوستل غوره نه وو، یا ترې د کومې کلمې دقیق تلفظ سم نه ادا کېده، بل زده کوونکی دې یې سمه ښه ورته ووایي. د غلطیو له نیولو وروسته دې یو بل زده کوونکی همدغه شعر په لا دقیقه توګه په لوړ غږ د ټولګي په مخ کې دکلمه کړي.

۲ـ زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځواب ووایي:

- استاد حبیبي د ژورنالستیک کار په لړ کې کومه دنده ترسره کړې ده؟
- د متلونو په باب د پوهاند حبیبي نظر څه دی؟
- استاد حبیبي کومه لومړی لنډه کیسه لیکلې او خپره کړې ده؟
- په ولسي جرګه کې د استاد حبیبي د غړیتوب او وکالت دوره ولې پوره نه شوه؟
- د (طلوع افغان) جریده په کوم ځای کې خپرېدله؟
- (اوسني لیکوال) د پښتو د کوم پیاوړي لیکوال په قلم لیکل شوی او څو ټوکه دی؟

۳ـ یو یو زده کوونکی دې د استاد حبیبي د لیکل شویو کتابونو له ډلې څخه د یو یو نوم اخلي. که کوم زده کوونکي د استاد حبیبي د داسې کتاب نوم واخیست چې په دې لوست کې یې نوم نه و راغلی، نو ټول دې شاباش ورته ووایي.

ketabton.com - The Digital Library

زده کوونکي دې د دې لوست ددغو لغتونو او کلمو په اړه دوه دوه کرښې وليکي او بله ورځ دې يې خپلو ټولګيوالو ته ولولي: مؤرخ، متل، هويت، تعاون، دکلمه، ويسا.

د اشنايۍ په لېوني توب مې قسم
لېونۍ نه يم چې پردو پسې ځم
رائحه چې ځو د عشق نغري ونګوو
زړه زه په بلو انګازو پسې ځم
سپينو وېښتو راکۍ پيغام د تلنې
زه خو زلميو ارمانو پسې ځم
((پوهاند عبدالحی حبيبي))

راشه وغړوه سترګې
د جهان نندارە گوره
چې ښايست لري په ستورو
د آسمان نندارە گوره
ددې خپل وجود په باغ کې
په هرشان نندارە گوره
چې هر ګل وته نظر کړې
د باغوان نندارە گوره
((شمس الدين کاکړ))

ketabton.com - The Digital Library

د شرابو (الکولو) زیانونه



د نشه یي توکو د زیانونو په اړه تاسو په ښلابښلو ټولګیو کې پوره معلومات ترلاسه کړي دي. دا چې اوس په ټوله نړۍ کې د نشه یي توکو یا مخدره موادو پر ضد پراخې هلې ځلې روانې دي، ددې لامل دادی چې ښلابښل نشه یي توکي انسانانو ته ډېر زیانونه ور رسوي. په دې لړکې د شرابو (الکولو) د زیانونو په باب خبرې سره لرو.

ketabton.com - The Digital Library

د نشه يي توکو يا مخدره موادو په لړ کې شراب پوره زيانونه لري. اوس پوهان او ډاکټران ټول په يوه خوله دا خبره کوي چې شراب د انسان روغتيا، ودې، ذهني او فکري ثبات ته زيات تاوان ور رسوي. هغوی ټول شراب يوه زهرجنه ماده ګڼي او بشريت ته يې زيانمن شمېري.

د ډاکټرانو په اند، کله چې شراب بدن ته ورداخلېږي، د اعصابو د تحرک سبب کېږي او دا طبيعي خبره ده چې که هر غړی له حده زيات تحريک يا راوهڅول شي، بيا نو له حرکته پاتې کېږي او له سکون او وقفې سره مخ کېږي. همدغه ځنډ او وقفه په زړه او مغز کې د سکتو سبب کېږي او انسان په ښېره له منځه وړي.

امېدوارو ښځو ته د شرابو څښل ډېر تاوان لري، هم خپله هغو مېرمنو ته چې امېدواري دي او هم د هغوی ماشومانو ته. د نوو زېږېدونکو ماشومانو لپاره په ځانګړې توګه تاوانونه لري. د مېندو له خوا د شرابو استعمال، د نيمګړو او (غير نورمال) ماشومانو د پيدايښت سبب کېږي. کومې طبي څېړنې چې په نړيواله کچه پر امېدوارو مېندو شوې دي، دا جوتوي چې په ۲۲۳ نوو پيدا شوو غير نورمال او نيمګړو ماشومانو کې ۳۲ سلنه هغه ماشومان دي چې د هغوی مېندو د امېدواری په وخت کې په ډېره زياته کچه شراب استعمال کړي دي.

د نړۍ يو ډېر مشهور ډاکټر چې ملوين کنزي "Malvin Kinzy" نومېږي، په واشنګټن کې د شراب څښلو پر ضد په يوه جوړه شوې نړيواله غونډه کې داسې وويل:

((د شرابو په لړه کچه کارول هم کېدای شي چې د زياتو مغزي زيانونو او ضايعاتو سبب شي. هغه کسان چې شراب څښي او له دې کار څخه خوند اخلي، په دې نه پوهېږي چې په حقيقت کې هغوی د خپلو مغزي ضايعاتو سبب کېږي. هغه کسان چې داسې کوي، په دې نه پوهېږي چې هغوی د خپلو مغزو حجرې نابودوي.))

نوموړی ډاکټر په دې اړه نورې خبرې هم لري، هغه وايي: ((په لوړه کچه د شرابو استعمال او څښل په وينه او رګونو کې داسې بدلونونه رامنځته کوي چې په پايله کې يې مغزي حجرې د اکسيجن له کمښت سره مخامخ کېږي او لږ وروسته بيخي له منځه ځي.

ketabton.com - The Digital Library

کله چې دغه حجرې له منځه لاړې شي، هغه کس له مغزي اختلالونو سره مخامخ کېږي. هغه وخت چې وينې ته شراب ورداخل شي، د وينې جريان له خنډ سره مخامخ کېږي، همدغه پېښه کله کله د وينې د پرنډ کېدو سبب کېږي.))

ډاکټران په دې باور دي چې د هغو ناروغيو درملنه ډېره ګرانه او ستونزمنه ده چې لامل يې د ډېرو شرابو څښل وي. د شرابو او يا هر الکولي څښاک استعمال دغه ناوړه پايلې لري:

۱ـ د هاضمې په سيستم کې د سرطان مرضونه رامنځته کوي.

۲ـ د ينې يا ځيګر د سرطان سبب کېږي.

۳ـ د خټې (معدې) پرسوب رامنځته کوي.

۴ـ د زړه تکان زياتوي او د زړه د حملو سبب کېږي.

۵ـ اعصاب سخت کمزوري کوي او حافظه له منځه وړي.

۶ـ د انسان عمر لنډوي.

۷ـ بې اشتهايي رامنځته کوي.

ډاکټر توماس هويتګر چې خپله هم يو حاذق طبيب دی، د الکولي مشروباتو په هکله وايي: ((شراب د انسان طبيعي عمر کموي. يو داسې کس چې په شرابو روږدی نه وي د منځني عمر اندازه يې څلوېښت کاله وي، خو د يو روږدي کس د منځني عمر اندازه ۲۸ يا ۳۰ کاله وي.))

د طب له نظره کله چې د انسان بدن ته شراب ورننوځي نو د هغې ځانګړتيا له مخې چې شراب يې لري، د بدن لوندوالی جذبوي او د بدن په غړو کې يو لړ بدلونونه راولي. ددغو بدلونونو له امله د بدن يو شمېر غړي خپلې دندې په ښه توګه سرته نه شي رسولای. په دغه وخت کې د زړه تکان زياتېږي او د وينې فشار لوړېږي. په بدن کې دغه اختلال او بدلون د عقلي او عصبي ګډوډيو سبب کېږي او په پای کې يوه غولونکې مستي او لېونتوب رامنځته کېږي. همدغه غولونکي مستي انسان د مرګ تر پولې هم رسوي.

خېرنو دا ښودلې ده چې د شرابو همېشه څښل د تريخي دکخوړې اختلال، د معدې او

ketabton.com - The Digital Library

کلمو ټپونه او نور ېهلاېهل رنځونه زېږوي.

له دې کبله ټولو ته لازمه ده چې له دغو نشه يي توکو څخه ځانونه وساتي. له همدې کبله ده چې د اسلام په مبارک دين کې هم د الکولي مشروباتو څښل منع شوي دي.

د متن لنديز:

الکولي مشروبات او شراب هغه مخدره او روږدېدونکي مواد دي چې انسان ته ېهلاېهل ځاني او روحي زيانونه ور اړوي لکه: لېونتوب، عصبي او رواني ناروغي، د معدې ټب، سرطانونه او نور ېهلاېهل رنځونه. د اسلام په سپېڅلي دين کې د الکولو او شرابو څښل حرام دي. نن ورځ ډاکټرانو هم د علمي څېړنو او برياوو (لاسته راوړنو) په رڼا کې دا جوته کړې ده چې د شرابو څښل د ځاني او مالي تاوانونو او ېهلاېهلو رنځونو د زېږېدلو په څنګ کې په اوسنۍ پېړۍ کې د جرمونو او جناياتو يو لوی لامل هم دی.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې په خپل خپل وار د دې لوست يو يو پراګراف ولولي. نور ټولګيوال دې په پوره چوپتيا دغه برخې واوري. په پای کې دې دوه تنه زده کوونکي ددې لوست په عمومي ټکو خبرې وکړي.

۲ـ درې تنه زده کوونکي دې په دغو موضوعاتو خپلو ټولګيوالو ته لنډې لنډې خبرې وکړي:

- د شرابو استعمال او د عمر له منځني حد سره يې اړيکې
- د شرابو ډېر مصرف کوم رنځونه زېږوي؟
- شراب او الکولي مشروبات ټولنې ته کوم لوی لوی زيانونه رسوي؟

ketabton.com - The Digital Library

گرامري برخه

۳_ زده کوونکي دي په دوو ډلو ووېشل شي.

الف: لومړۍ ډله دې د دغو کلمو مترادف پيدا کړي:

ډول

درملنه

ناروغي

ټول

دندې

ب: دويمه ډله دې د لاندې کلمو متضاد پيدا کړي:

ناوړه

ستر

زيان

ورځ

ماشومان

بريا

۴_ دغه لغتونه په لاندې تشو ځايونو کې په سمه توګه وليکئ. جملې په خپله کتابچه کې بشپړې کړئ:

جرم او جنايت، سرطان، عمر، حجري.

- د زياتو شرابو استعمال د انسان د طبيعي ..... په وړاندې مبارزه ده.
- د څښنو په رڼا کې په ټولنه کې د الکولي مشروباتو استعمال په ټولنه کې د ..... کچه زياتوي.
- د شرابو استعمال د ينې يا ځيګر د ..... سبب کېږي.
- د شرابو د څښلو له امله په لومړي سر کې د مغز ..... ته اکسيجن نه رسېږي او بيا له منځه ځي.

ketabton.com - The Digital Library

په خپل شاوخواکې دیو داسې چا د ژوند د ستونزو یا بدمرغیو په اړه یو یو مخ ولیکئ

چې د مخدره موادو د استعمال له امله ورته پیدا شوي وي، کېدای شي د نسوارو، سګرټو، شرابو، الکولو، پوډرو او نورو په اړه هم وي.

ناامیدۍ کې امیدونه راسره وي
په تیاره کې مشالونه بنکلي بنکاري

چې په سیوري پسې زغلي ای طاهره
سر ته نه رسي د هغو مرادونه
((طاهر کلاچوي))

هر چه غمونه د دنیا ډېر کړي
د عقبا غم به له دله هیر کړي

د حسد اور په طاعت لګیږي
غریب حاسد به تر عمل تېر کړي
((پیرمحمد کاکړ))

ketabton.com - The Digital Library

د شعر په اړه څرګندونې



ـ آيا تاسو خپله کله کوم شعر ليکلی دی؟

ـ د کوم شاعر شعر مو خوښږي او ولې مو خوښږي؟

ـ آيا کوم شعر يا د شعر کومه برخه مو ياده ده؟

د شعر په باب خبرې او دا چې کوم شعر د يو چا خوښږي او ولې يې خوښږي؟ دا يو ډېر په زړه پورې بحث دی. ددې لپاره لازمه ده چې مونږ په دې پوه شو چې شعر څه شی دی؟ څه ځانګړنې لري، کوم ډول شعرونه غوره شعرونه دي او ولې غوره دي؟

په دې لوست کې په همدې ټکلي موضوع له تاسو سره خبرې اترې کوو.

ketabton.com - The Digital Library

د شعر په اړه او د شعر د تعريف، پېژندلو او ځانګړنو په اړه ډېرې خبرې شوي او کېږي. په عمومي توګه دوه نظره د پام وړ دي. هغه کسان چې د شعر ظاهري اړخ يې په نظر کې وي، هغوی شعر موزون او مقفی (قافيه لرونکی) بيان بولي. د دوی په نظر وزن او قافيه د شعر نه جلا کېدونکې برخې دي. البته په همدې ډله کې هم ځينې کسان بيا قافيه د شعر ذاتي ځانګړنه نه، بلکه له لازمو يا فروعاتو يې ګڼي.

يو بل نظر چې زياتره د شعر په اړه منطقي او فلسفي نظر دی، د شعر جوهر د هغه په ظاهري څرګند اړخ کې نه وينې، بلکې د هغه په منځپانګه او هنري اړخ کې يې لټوي چې هغه د خيال، تصوير او د شعر د نورو ځانګړنو غوښتنه کوي. له همدې کبله زياترو کسانو شعر هغه کلام ګڼلی دی چې وزن او تخيل ولري. د شعر په اړه همدغه دويم نظر تر ننه پورې د ډېرو د منلو وړ دی.

د نړۍ شعر پېژندونکي او پوهان، په دې اړه هم په دوو ډلو وېشل کېږي چې د شعر د موضوع، محتوا يا منځپانګې په اړه يې لري. د يو شمېر په نظر د شعر اصلي موخه تربيتي او روزنيزه ده. د هغوی په نظر د شاعر دنده داده چې د ټولنې د يو آګاه (باخبره) ژمن او رسالت لرونکي غړي په توګه د انسانانو د لارښوونې او روزنې په لاره کې اغېزمن کار وکړي. د دوی په نظر دغه اړخ له ښکلاييز او هنري اړخ څخه زيات مهم دی.

بله ډله پوهان او شعر پېژندونکي بيا په دې نظر دي چې د شعر اصلي اړخ يا جوهر د هغه د ښکلا او هنر اړخ دی. دوی وايي: د شعر دنده دا نه ده چې لارښوونه او تبليغ وکړي، بلکې مهمه ځانګړنه يې بايد دا وي چې په انسانانو کې د ښکلا خوښوونې احساس پياوړی کړي.

ځينې شعر پېژندونکي، کره کتونکي او پوهان بيا منځنۍ لاره غوره ګڼي او وايي چې شعر بايد هم ديو عالي او پياوړي انساني پيغام او عالي متن او محتوی لرونکی وي او هم د ښايست او ښکلا هنګامې راوهڅوي. رنګينې ولري او د موسيقۍ په څېر ولولې راوپاروي.

په پخوانيو شعري يا منظومو چوکاټونو کې چې مورږ ورته دکلاسيک شعر چوکاټونه وايو، قافيه، د شعر چوکاټ او ځانګړی وزن د زياتې پاملرنې وړ دی. د نظمونو يا شعرونو په دغو چوکاټونو کې غزله، قصيده، مثنوي، څلوريزه او نور د يادولو وړ دي.

په نوې شاعرۍ کې د پخوانيو شعري قالبونو د پاللو په څنګ کې د سپين او آزاد شعر خواته هم پوره پاملرنه اوښتې ده. آزاد شعر هغه شعر دی چې قافيه پکې حتمي نه ده، وزن يې په

ketabton.com - The Digital Library

عمومي ډول د يو شعر په کليت کې په پام کې نيول کېږي او وزن يې د کومې ټاکلې بڼلګې تابع نه دی. کرښې يې لنډې او اوږدې دي. په آزاد شعر کې وزن د يو ډول طبيعي آهنګ او موسيقۍ تابع وي. په اروپا کې هم دغه شعر په ۱۹مه پېړۍ کې خپل اوج ته ورسېد. دا په حقيقت کې آزادو شعري قالبونو ته د نوو نظرونو او افکارو ننوتل دي. مهمه خبره داده چې آزاد شعر نه يوازې دا چې له کلاسيکو شعرونو او نظمونو سره د چوکاټ له نظره توپير لري، د مضمون او محتوی له پلوه هم ورسره بايد توپير ولري. په آزادو شعرونو کې بايد د شعر مضمون هم د نوي دوران مضمون وي.

سپين شعر بيا هغه شعر ته ويل کېږي چې قافيه ونه لري. په اروپايي شعرونو کې زياتره کلاسيک روايتي او کيسه يي شعرونه په همدغه قالب کې وو چې د بيتونو وزن او اندازه يې سره برابره وه خو د قافيې له قيد څخه آزاد وو.

د شعر ځينې ځانګړنې:

لکه چې ومو ويل، د شعر د تعريف، پېژندنې او ځانګړنو په اړه بېلابېل نظرونه شته، په دې اړه د ځينو شاعرانو او شعر پېژندونکو نظرونو ته پاملرنه لازمه ده:

ـ ((شعر په ولوله ييز او موزونه (آهنګواله) ژبه د بشري فکر ځانګړې او هنري خرګندونه ده، له دې امله به مورِ شعر موزيکال فکر وګڼو.))

ـ ((په شعر کې د الفاظو معنا له هغه څه نه چې په قاموسونو کې يې راوړې، پراخه ده او د بيان قدرت يې زيات دی.))

ـ ((شعر بايد د ژوند د اړتياوو او معيارونو تابع نه کړو. د ګلاب ګل څوک ددې لپاره نه خوښوي چې د هغه اوبه د سترګو د درمل په توګه استعمالېدای شي، بلکه ددې لپاره يې خوښوي چې ګلاب ښکلی دی او ښکلا پخپله يو مستقل ارزښت دی.))

ـ ((د شعر هدف په ملت کې د روښنايۍ خپرونه ده.))

د شعر په اړه په تعريفونو کې په ځانګړي ډول دغه ګډ ټکي د پام وړ دي:

تخيل، جذبات (يا احساسات)، ښکلا، عواطف، خوند، مفکوره (په بله معنا د واقعيت انګازه) همدغه ټکي د شعريت معيارونه هم ګڼل کېدای شي.

((په شعر کې يو ډول مفکوره شته، خو يوازې د مفکورې شته والی د شعريت دليل نه ګڼل کېږي، بلکې مفکوره بايد په شاعرانه بڼه راوځلېږي.))

ketabton.com - The Digital Library

کانديد اکادميسين محمد صديق روهي د شعر د عمده او اساسي توکو يا ځانګړنو په اړه ليکي:

((شعر له ځلورو ضروري توکو څخه جوړ دی: مفکوره، تخيل، احساس (عاطفه) او وزن. ددې خبرې ضمني معنا داده چې هر نظم شعر نه دی، په شعر کې د مفکورې شته والی حتمي دی، ځکه چې بې مفهومه شعر، شعر نه دی، ليکن په شعر کې بايد مفکوره شاعرانه بڼه ولري.

له دغو يادونو څخه وروسته کولای شو چې د شعر لپاره دا لاندې تعريف پيشنهاد کړو:

((شعر په وزن لرونکې ژبې سره د مفکورې او تخيل عاطفي ترکيب ته ويل کېږي)).

د مفکورې او وزن په اړه خو خبره څرګنده ده، په بڼه شعر کې د تخيل په اړه بايد وويل شي چې: په شعر، ادب اوټولو هنرونو کې تخيل ځانګړی ارزښت لري. تخيل په شعر کې د تشبيهاتو، استعارو او ځېرو په بڼه راڅرګندېږي. احساس او عاطفه هم په شعر کې له ضروري توکو څخه ده. په شعر کې احساس يا عاطفه ضروري شرط دی. که شاعر درد، هيله، احساس، اندېښنه، قهر او تاثر ونه لري، نو لوستونکی او اورېدونکی له داسې شعر څخه خوند نه شي اخيستلای. د ليو تولستوی په قول: ((د شعر اصلي وظيفه داده چې مقابل لوري ته احساس ورولېږدوي.))

يو بل ليکوال وايي: ((په هنر کې قضاوت، مفکوره او حقيقت په عاطفي بڼه راڅرګندېږي.))

استاد روهي له دغو بحثونو څخه نتيجه اخلي او ليکي:

شعر دوه ډوله ارزښتونه لري. ذاتي (يا اصلي او پخپله په شعر پورې مربوط) او بهرني (چې د شعر لپاره دغه ارزښتونه هم مهم دي خو د شعر خپل جز نه دی).

د شعر بهرني ارزښتونه دين، اخلاقو، علم، فلسفې، سياست يا ايډيالوجۍ (مفکورې) ته خدمت کوي. متعهد شاعران د شعر بهرنيو ارزښتونو ته زيات اهميت ورکوي.

متعهد شعر د يوې ټاکلې برخې، سياسي ډلې يا ايډيالوجۍ مرام ته وقف شوی دی او له دې امله د ټولو لپاره د خوند او لذت منبع نه ګرځي، خو همېشنی (تلپاتې) شعر د ټولو انسانانو په هکله ويل کېږي او د شعر له ذاتي ارزښتونو څخه کار اخلي. په دغه ډول شعر کې هم مفکوره د بشريت لپاره له دايمي ارزښتونو سره اړه لري. د زمانې په اوږدو کې هر نسل ته احساس او عواطف ور انتقالوي. عشق، ښکلا، سوله او دوستي، ايثار، زړه سوی، ګډ ارمانونه او داسې نور همېشني ارزښتونه د شعر بڼ تازه او سمسور ساتي. د شعر ذاتي ارزښتونه: ښکلا، تخيل،

ketabton.com - The Digital Library

تصوير، هنري ژبه، آهنگ (وزن)، احساس او جذبات دي. بهرني ارزښتونه بايد شاعرانه شي. له هغې وروسته پرې د شعر نوم اينبودل کېدای شي.

د متن لنډيز:

شعر د ادبياتو يوه مهمه برخه ده. شعر له څلورو ضروري توکو څخه جوړ دی: مفکوره، تخيل، احساس (عاطفه) او وزن. د شعر په باب بېلابېل تعريفونه شوي دي. موږ کولای شو، د شعر يو ښه تعريف په دې ډول وکړو:

((شعر په وزن لرونکې ژبې سره د مفکورې او تخيل عاطفي ترکيب دی.))

د شعر په ذاتي او اصلي ځانګړتياو و کې: ښکلا، تخيل، تصوير، هنري ژبه، وزن احساسات او جذبات د يادولو وړ دي. د شعر بهرني ارزښتونه په اخلاقو، علم، فلسفې، سياست، ايډيالوجي (مفکورې) او نورو پورې اړه پيدا کوي.

همېشنی او تلپاتې شعر د ټولو انسانانو لپاره ويل کېږي او له همېشنيو ارزښتونو سره يې کار وي. نه له موقتي او سرسري ارزښتونو سره چې يوازې په يوه ډله خلکو پورې اړه ولري.

د شعر جوهر: له دې څخه موخه د شعر اصلي اړخ يا اصلي ټولګه ده. د شعر جوهر د شعر د هغو توکو ټولګه ده چې بې له هغې شعر، د شعر په نوم نه شو يادولای.

ليو تولستوی: د روسيې يو نومیالی ليکوال دی چې په نولسمه پېړۍ کې يې په روسيه او ټوله نړۍ کې د ستر ليکوال په توګه شهرت لاره. ((جګړه او سوله)) يې ډېر مشهور ناول يا رومان دی.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ د لوست یو یو پراګراف دې یو یو زده کوونکی ولولي او نور دې غوږ ورته ونیسي.

۲ـ زده کوونکي دې په څلور ډلو ووېشل شي. یوه ډله دې ددې لوست د یو لغت یا اصطلاح په باب له بلې ډلې پوښتنه کوي او هغه ډله به ځواب ورکوي، بیا به په سرچپه توګه همدغه کار تکرارېږي. ځوابونه دې لنډ لنډ وي.

۳ـ څلور تنه زده کوونکي دې د یوې یوې ډلې په استازیتوب پر دغو موضوعاتو لنډې لنډې خبرې وکړي:

- هغه کسان چې شعر ته په ظاهري توګه ګوري، د شعر په اړه څه نظر لري؟
- د شعر جوهر څه شی دی؟
- د شعر ذاتي او اصلي ځانګړتیاوې
- د شعر بهرني ارزښتونه

۴ـ زده کوونکي دې په ټولګي کې یوه کوچنۍ مشاعره جوړه کړي. د هر چا چې کوم شعر خوښ وي او هغه یې په یادو یاد وي، ټولګیوالو ته دې یې واوروي، که یوازې یو، یا څو بیته وي، هم سمه ده. بیا دې یو بل ټولګیوال د هغه شعر په ارزښت، معنا او ښکلا یو څه وویایي، داکار دې همداسې دوام وکړي او ټول زده کوونکي دې یا په شعر لوستلو او یا په خبرو کې ونډه واخلي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلې خوښې یو ښه شعر انتخاب کړي، هغه دې په یوه پاڼه کې ولیکي او تر لاندې دې دا هم ولیکي چې ولې یې دا شعر انتخاب کړی او شعر دده په نظر کومې ځانګړتیاوې لري؟ په دې اړه دې د همدغه لوست متن په پام کې ولري.

ketabton.com - The Digital Library

د ماین، ناچاودو توکو او معلولیت روانې اغیزې

په تېرو ټولګیو کې تاسو د ماینونو او ناچاودو توکو په اړه ډېر مطالب او لارښوونې لوستې دي. نږدې په هر ټولګي کې مو هغه معلومات ترلاسه کړي دي چې څنګه له ناچاودو توکو ځانونه وساتو، څنګه پرې خپله کورنۍ، دوستان او هېوادوال وپوهوو او په دې برخه کې څنګه له ټپیانو سره لومړنۍ مرستې وکړو؟

په دې لوست کې دې خبرې ته تم کېږو چې له ماین او ناچاودو توکو څخه ډېرې ځانګړې، کورنۍ او عمومي ټولنیزې ستونزې هم راپیدا کېږي. دا په حقیقت کې یو ډول روانې ستونزې دي چې زموږ ټولنه او په تېره بیا ویښ او بیدار ځوانان باید ورته ځانونه چمتو کړي، ځان هم پرې پوه کړي، خپله کورنۍ او ټولنه هم. په دې لوست کې پر همدغه موضوع له تاسو سره خبرې لرو.

ketabton.com - The Digital Library

په ښلا ښلو جنګونو کې چې په جلا جلا هېوادونو کې ترسره شوي دي، له ماينونو هم د خپلو اهدافو لپاره ګټه اخيستل شوې ده. په افغانستان کې هم په ښلا ښلو وختونو کې ماينونه کارول شوي او زمونږ يو شمېر افغانان يې د غم پر ټغر کښېنولي دي.

دا چې د ماينونو له کبله يو شمېر افغانان ټپيان شوي او يا معلول شوي دي، دغه معلوليت د ښکاره ستونزو او تکليفونو تر څنګ، رواني ستونزې او ناروغۍ هم له ځانه سره لري. که پوره پاملرنه وکړو له څرګندو نښو نښانو او ستونزو څخه دغه پټ رنځ چې رواني ناروغي يې بايد وښولو، هم د معلول کس لپاره او هم د ټولنې لپاره ډېر زيات خطر لري. دا يوه کورنۍ او بشپړه ټولنه له رواني او ټولنيزو ستونزو سره مخامخ ولای شي. له همدې کبله دې ستونزې ته د يوې درنې ټولنيزې ستونزې په توګه بايد غور وکړو.

ستونزه په پيل کې له دې څخه راولاړېږي چې:

۱ـ د ماينونو او ناچاودو توکو (او يا په عمومي توګه د جګړو له امله) يو څوک ټپي شي. لاس، پښه، سترګه يا د بدن کوم بل غړی له لاسه ورکړي. د بدن هېڅ غړی د انسان په ژوند کې اضافي نه دی او هر يو يې په خپل خپل ځای کې ضروري دی. کله چې يو څوک معلول شو، هغه سړی د عادي ژوند لپاره خپلې هيلې له لاسه ورکړي.

۲ـ ښايي دغه معلول کس د خپلې کورنۍ له خوا هم قبول نه شي.

۳ـ ښايي کله کله په شاوخوا چاپېريال او ټولنه کې هم داسې ناوړه کسان پيدا شي چې معلول کس ته په سپکه سترګه وګوري.

۴ـ په داسې حالاتو کې که معلول انسان له ټولنې څخه ځان ګوښه کړي، يا خپل مهارتونه او وړتياوې له لاسه ورکړي، نو ورو ورو له رواني پلوه په يو ناروغ انسان بدلېږي چې هم ځان او هم ټولنې ته زيان رسوي.

مونږ ټولو ته (د معلول کس په ګډون) لازمه ده چې ددې ستونزې د مخنيوي لپاره په ټولنه کې د معلولينو د ښه جذب او په عمومي توګه د يوې سالمې ټولنې د جوړېدو لپاره دغو ټکو ته پاملرنه وکړو:

ketabton.com - The Digital Library

۱ـ معلول کس باید په هیڅ ډول خپل ځان د ټولنې نیمګړې برخه ونه ګڼي. هغه باید په رواني ډول ځان داسې وګڼي چې هیڅ نیمګړتیا او عیب نه لري. هغه معیوب نه دی، معلول دی او په ټولنه کې خپل ځای، خپل قدر او خپل درنښت لري.

۲ـ د معلول کس کورنۍ باید په دې برخه کې زیاته پاملرنه وکړي، که هغوی د خپلې کورنۍ معلول غړي ته په خپله غېږه کې لکه د پخوا په څېر په مینه او محبت ځای ورکړي، ټوله کورنۍ ورسره نېکمرغه پاتې کېږي.

۳ـ مورِ باید په خپلو خبرو اترو کې، له معلولینو سره په چلند کې، په لیکنو او ویناوو کې معلولینو ته د معیوب او نیمګړي خطاب ونه کړو. هغوی ته داسې کلمې ونه کاروو چې د توهین، ملنډو او تحقیر څرک تري ولګي. دا به په هیڅ ډول غوره نه وي چې مورِ هغوی ته دکانې، ړانده، ګوډ، شل، لیونې او نورو خطاب وکړو او دغه نومونه داسې وکاروو چې د توهین او تحقیر بوی تري راپورته شي. ددې په ځای باید هغوی داسې معلولین وګڼو چې د بېلابېلو علتونو له امله له دغې ستونزې سره مخامخ شوي او که مورِ هر یو له داسې پېښو سره مخامخ شوي وای، په همدغه حالت کې به وای.

۴ـ معلولین باید د ټولنې د روغو کسانو په څېر د ټولو حقوقو لرونکي وي. هغه کسان یې چې د زیات معلولیت له کبله د کار جوګه نه وي، باید د ژوند ټولې اسانتیاوې ورته برابرې شي. هغوی چې د کار جوګه وي، په هره برخه کې ورته د کار لارې چارې برابرې شي. په دې توګه به هغوی د عادي انسانانو په توګه ځان د ټولنې داسې مهمه برخه وبولي، لکه نور ټول چې دي.

۵ـ معلولو ماشومانو، ځوانانو او لویانو ته باید د زده کړې امکانات هم برابر شي. په هغه صورت کې چې دوی کولای شي د عمومي زده کړو په مؤسسو کې ګډون وکړي،

ketabton.com - The Digital Library

بايد ټول همزولي ورته د ورونو او خويندو په توګه له ځانه سره په برابره بڼه وګوري او زيات درنښت يې وکړي چې له معلوليت او ستونزو سره سره له دوی سره په څنګ کې ناست دي او زده کړه کوي چې په راتلونکي کې ترې د ټولنې د پرمختګ او سوکالۍ لپاره ګټه واخيستله شي. که ددې امکان نه وي چې ځينې کسان يې د زده کړو په عمومي مرکزونو کې زده کړو ته دوام ورکړي، بايد بېلابېل ځانګړي ښوونځي ورته جوړ شي.

د اسلام مبارک دين او دغه راز نړيوالو بېلابېلو ټرونونو د معلولينو د حقونو په برخه کې ډېر زيات ټينګار کړی دی. معلولين يې د ټولنې هغه برخه ګڼلې ده چې هم ورسره بايد مرسته وشي، پالنه يې وشي او هم ورته د ژوند په ټولو چارو کې له نورو انسانانو سره يو ځای دګډ ژوند او ګډ کار لارې چارې برابرې کړي.

که موږ داسې وکړل، نو له رواني او ټولنيز پلوه به مو مهم کار ته پاملرنه کړې وي. دا د ټولو افغانانو او په ټېره بيا د ټولو ځوانانو دنده ده چې معلولينو ته درناوی وکړي او هغوی ټول په هره برخه کې د خپل ځان سيال او له ځانه سره برابر او د مساوي حقونو لرونکي وګڼي.

د متن لنډيز:

د ماينونو او ناچاودو توکو له امله زموږ زيات شمېر هېوادوال وژل شوي، ټپيان شوي او معلول شوي دي. دغه معلول افغانان له يو لړ ځانګړو کورنيو او ټولنيزو او رواني ستونزو سره هم مخامخ کېږي. موږ بايد خپلې دغه خويندې او خپل ورونه د خپلې ټولنې پر اوږو بار ونه ګڼو، بايد درناوی ورته ولرو او هغوی په ټولو برخو کې له ځان سره د برابرو حقوقو او وجايبو لرونکي وشمېرو، نه نيمګړي کسان.

له معلولينو سره غوره چلند هغوی له رواني پلوه پياوړي کوي او په ټولنه کې د ګټورو او اغېزمنو غړو په توګه خپله دنده ترسره کوي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې په خپل خپل وار ددې متن یو یو پراګراف ولولي. نور زده کوونکي دې ورته غوږ وي. د پراګراف له لوستلو وروسته دې د هغه په څنګ کې ناست ټولګیوال ددغه پراګراف (صفتونه) په نښه کړي.

۲ـ پنځه تنه زده کوونکي دې په خپله خوښه په خپل کور، دوستانو او یا په خپل شاوخوا کې د کوم معلول په باب خبرې وکړي، دا چې څنګه معلول شوی او اوسنی حالت یې څنګه دی؟

۳ـ دغه متن د (ی) ګانو له نظر کې نیولو پرته لیکل شوی دی. تاسو یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او د (ی) ګانو سمه کارونه په پام کې ولرئ:

((موږ ته لازمه ده چې خپلو معلولو هیوادوالو ته د ژوند په هره برخه کې د خپلو سیالو او د مساوی حقونو لرونکو هیوادوالو په سترګه وګورو. له دوی سره مرسته زموږ دنده ده. که داسې ونه کړو، هغوی له ډېرو روانی ستونزو او ناروغی سره مخامخ کیږي. راځئ چې دوی له یاده ونه باسو. دوی خپلې خوښۍ او ورونه وګڼو او ټولنی ته یې د غوره انسانانو او غړو په توګه روزنی او پالنی ته پرله پسی پاملرنه وکړو.))

کورنۍ دنده

هر زده کوونکی دې په خپل کلي کور کې د یو معلول کس په زړه پورې کیسه ولیکي، څنګه معلول شوی؟ د خلکو چلند ورسره څه ډول دی؟ اوس څه کوي؟

ددغې لیکنې (کیسې) د متن ټولې (ی) ګانې باید سمې لیکل شوې وي او که ناسمې وي، سبا ته یې په ټولګي کې سمې کړي.

ketabton.com - The Digital Library

په دې کيسه کې دې دغه ټکي په پام کې ونيسي:

۱ـ د ټولنې روان واقعيتونه دې په پام کې ونيسي.

۲ـ نثر دې هنري او ادبي ځانګړنې ولري، يعنې نثر دې خوږ او روان وي.

څه غواړو ؟

چې وړې تياره د جهالت هغه سحر غواړو موږ
وطن د علم په رڼا کې منور غواړو موږ
چې په وطن کې يې خبرې د ښېګڼې وشي
هسې مامور هسې آمر، هسې عسکر غواړو موږ
نه چې سبب د زرد رويې شي د وطن لپاره
چې خوار غريب په ګېډه مړ کا هغه زر غواړو موږ
په فېشنو او عېشياتو پسې مه ځه ګوره
ای د مکتب ځلميه تا ته لوړ هنر غواړو موږ
چې وي صادق او په ايمان سره خادم شي د قام
داسې اديب داسې شاعر داسې رهبر غواړو موږ

((قيام الدين خادم))

يوه بېباکې يوه نړۍ هڅه او هاند له منځه وړې.

((لويي پاستور))

ketabton.com - The Digital Library

ادبي کره کتنه



په تېرو ټولګيو کې تاسو د ادب او ادب پوهنې په اړه يو لړ معلومات ترلاسه کړي دي. د ادب څېړلو، ارزولو، کره کولو او تاريخي مطالعې ته ادبپوهنه وايي. ادب پوهنه دري عمده څانګې لري: د ادب تيوري، ادبي کره کتنه (يا ادبي نقد) او د ادب تاريخ.

ادبي کره کتنه د ادبپوهنې يوه مهمه څانګه ده، د ادبياتو د ودې او پرمختګ په بهير کې ادبي نقد يا ادبي کره کتنه ځانګړی ځای لري. په دې لوست کې به وګورو چې ادبي کره کتنه څه شی دی؟ په ادبي هلو ځلو کې يې ارزښت څه دی؟ کوم کوم معيارونه لري او کوم کوم ډولونه يې مهم دي؟

ketabton.com - The Digital Library

د ادبي نقد يا کره کتنې په هکله ډېر تعريفونه وړاندې شوي دي، خو د پېژندنې تر ټولو مهمې برخې يې دادي:

ادبي کره کتنه د ادبي آثارو د هر اړخيزې ارزونې په معنا ده چې ددغو آثارو ښکلاوې، ارزښتونه او نيمګړتياوې په نښه کوي. د ادبي کره کتنې له لارې لوستونکي پوهېږي چې کوم ادبي اثر عالي، ځلند او پياوړی، کوم منځنی او کوم يو کمزوری دی؟

د ادبي کره کتنې له لارې لوستونکي او د ادبي آثارو لېوال او مينه وال د ادبي اثارو له ارزښتونو سره اشنا کېږي. له همدې کبله څېړونکي په دې نظر دي چې د ادبي نقاد کار دادی چې د ادبي اثر د ليکوال او عادي لوستونکي ترمنځ وسيله شي. کره کتونکی د ليکوال او لوستونکي ترمنځ د اړيکو پل دی، د اړيکو مزی دی او څومره چې دا مزی پياوړی وي، د يو ملت د ادبي يون په پياوړتيا او ښکلا کې خپل اغېز زياتوي. د کره کتونکي دنده داده چې لوستونکو ته څرګنده کړي چې په دې يا هغه ادبي اثر کې مهم ارزښتونه، لوړې ښکلاوې او پياوړتياوې کومې کومې دي، يا دغه او هغه اثر څه کمزوری او نيمګړتياوې لري؟ که دغه واسطه، يا د اړيکو پل او مزی نه وي، ښايي يو غوره اثر خلک ښه ونه پېژني او يا يې له پياوړو اړخونو، ځلندو برخو او ښکلاوو څخه ناخبره پاتې شي. دغه راز کېدای شي چې مينه وال د يو ادبي اثر له نيمګړو خواوو او کمزوريو هم پوره خبر نه شي. له دې لارې د ادبي آثارو او ليکنو اصلي او ريښتيني ارزښتونه رابرسېره کېږي.

د يو دقيق کره کتونکي کار دا نه دی چې د يو ادبي اثر په باب د ښه يا بد حکم وکړي، يعنې يو اثر په بشپړه توګه (ښه) يا (بد) وګڼي. د هغه موخه بايد دا وي چې د يو اثر هر اړخيزه ارزونه وکړي، ټول اړخونه يې راوسپړي، ځلاوې او نيمګړتياوې يې يادې کړي. سره له دې چې نقاد يا کره کتونکی هم ښايي کله کله د خپلو ځانګړو احساساتو، نظرونو او ذوقونو له مخې د ادبي اثر په اړه شخصي ټکي هم ورداخل کړي، خو مهمه خبره داده چې دی وکولای شي خپل دغه احساسات داسې مهار کړي چې د يو ادبي اثر اساسي ارزښتونه تر پټ پاتې نه شي.

ketabton.com - The Digital Library

ادبي کره کتونکی د يو ادبي اثر د کره کولو او نقد په وخت کې بايد د يو ځانګړي ادبي اثر د ليکوال د وخت حالات، شرايط او امکانات له يوې خوا په نظر کې ولري، له بلې خوا بايد دې ته پام وکړي چې د هغو شرايطو په رڼا کې د هغه وخت عمومي ادبي وضعيت څه ډول و؟ ايا ليکوال هغه څه په ښه توګه ويلي دي چې غوښتل يې ويې وايي؟ که داسې نه وي او منقد او کره کتونکی د ادبي اثارو ارزونه يوازې د خپل نظر او فکر له مخې وکړي، کره کتنه به يې بريالۍ نه وي.

لکه چې ومو ويل ادبي نقد د ادبي آثارو ارزونه ده او دا خبره په حقيقت کې له يو ډول ((قضاوت)) سره ملګرې ده. ددې خبرې معنا داده چې ادبي کره کتنه د آدبي اثارو په اړه ((قضاوت)) دی او له همدې کبله لازمه ده چې کره کتونکی د ادبي آثارو په هکله د ښتيني معرفت او پوهنې لرونکی وي. هغه بايد يو لړ داسې اصول او معيارونه خپلې مخې ته ايښې وي چې د هغو له مخې وتوانېږي، په غوره او دقيقه توګه د کره کتنې په کار کې بری ترلاسه کړي. له همدې کبله يې دغو ټکو ته پاملرنه اړينه ده:

۱ـ د کره کتونکي موخه دا نه ده چې يو نوی شی رامنځته کړي، بلکې هغه څه چې موجود دي او ليکل شوي دي، تحليل او توصيف يې کړي، ښېلابېل اړخونه يې وڅېړي او د ښېلابېلو برخو اړيکې يې وارزوي، له همدې کبله هغه بايد د يو منځګړي او دريمګړي کس په توګه ادبي اثر وارزوي.

۲ـ ادبي کره کتونکی ددې په څنګ کې چې له شعر او داستان او په عمومي توګه له ادبياتو سره يې مخه ده، له ډولونو څخه په يو ډول يې له ښکلا پوهنې، ټولنپوهنې او اروا پوهنې سره هم اړيکې بايد له پامه ونه غورځوو. په دغو برخو کې هم کره کتونکي ته د تجربې لرل لازمي دي.

۳ـ کره کتنه د ادبي بهير په وده او بشپړتيا کې اساسي ونډه لري. دا يوه ستره موخه ده. نقاد د يوې داسې سترې دندې لرونکی دی. له همدې کبله بايد ادبي کره کتونکی له سرسري ټکو، لکه شخصي لېوالتيا يا کينې څخه بهر په عمومي توګه د يو ولس د ادبي بهير په پياوړتيا کې خپله ونډه جوته کړي او سره له دې چې د يو ځانګړي ادبي اثر په اړه

ketabton.com - The Digital Library

قضاوت کوي، ددغه عمومي ادبي بهير بشپړتيا، ښکلا او ځلا ته يې پام وي.

ځينو څېړونکو د کره کتنې لپاره درې شرطونه لازم ګڼلي دي:

۱ـ ذوق، ۲ـ پراخ ادبي معلومات او اطلاعات، ۳ـ تجربه او زيات تمرين.

۱ـ ادبي ذوق: د ادبي اثارو د پېاوړتياوو او نيمګړتياوو د څرګندولو غوره عامل دی. ذوق له دوو برخو جوړ دی، فطري استعداد او بل ادبي او هنري تربيت چې اکتسابي (زده کېدونکې) بڼه لري.

۲ـ هغه څوک چې ښه ادبي ذوق ولري، که چېرې د زياتې مطالعې، لوستنې او څېړنې ستونزې پر ځان ومني، کولای شي چې د ادبي آثارو غوره ارزوونکی او کره کتونکی شي. د خپلو ادبياتو او د نړۍ د ادبياتو په باب پراخه او ژوره مطالعه، د ادبياتو په باب د نورو آثارو لوستل او عمومي معلومات ترلاسه کول، د يوه کره کتونکي کار ته پياوړتيا وربښي.

۳ـ کره کتونکي ته لازمه ده چې د کره کتنې کار ته د يو عادي او سرسري کار په سترګه ونه ګوري، پرله پسې تجربې ترلاسه کړي، بيا بيا تمرين وکړي او وتوانېږي چې يو ښه کره کتونکی شي.

د ادبي کره کتنې د ډولونو په اړه هم ډېرې خبرې شوې دي. ځينو څېړونکو ورته بېلابېل ډولونه په نظر کې نيولي دي چې يو څو يې يادوو:

سنتي نقد، تاريخي نقد، فلسفي نقد، فورموليستي (شکلي) نقد، اړواپوهنيز نقد، اجتماعي نقد او نور...

د متن لنډيز:

ادبي کره کتنه يا ادبي نقد د ادبپوهنې يوه مهمه برخه ده. کره کتنه د ادبي آثارو د ارزښتونو د راڅلونو څرګندونه کوي. ادبي کره کتنه د ادبي آثارو د هر اړخيزې ارزونې په معنا ده. موږ کولای شو چې د کره کتنې په وسيله لوستونکي او د ادبي ليکنو مينه وال په دې وپوهوو چې کوم اثر ډېر لوړ او پياوړی، کوم يې د منځني حد

ketabton.com - The Digital Library

او کوم يې کمزورى دى؟ ادبي نقاد او کره کتونکى په حقيقت کې د ادبي اثر د ليکوال او د اثر د لوستونکي ترمنځ د اړيکو پل يا د اړيکو مزى دى.

څېړونکو د کره کتنې يا کره کتونکي لپاره درې شرطه لازم ګڼلي دي:

۱ـ ذوق، ۲ـ پراخ ادبي معلومات او اطلاعات، ۳ـ تجربه او زيات تمرين.

غوره کره کتونکى د ټولنې د ادبي بهير په وده، ښکلا او بشپړتيا کې ستره ونډه لري. له کره کتنې پرته د يو ولس ادبيات لازمه وده نه شي کولاى.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې يو ځل بيا ټول متن په چوپه خوله په دقت سره ولولي او دغو پوښتنو ته دې ځواب ووايي:

- ادبي کره کتنه څه ته وايي؟
- ادبي کره کتنه د اثارو د ليکوال او لوستونکو ترمنځ د څه شي حيثيت لري؟
- د ادبي کره کتنې هدفونه کوم کوم دي؟
- د ادبي اثر د ارزولو په وخت کې کومو کومو ټکو ته پاملرنه پکار ده؟

۲ـ څو تنه زده کوونکي دې په دغو موضوعګانو (د خپلو نورو معلوماتو او د ادبي کتابونو او ليکنو د مطالعې له مخې) پنځه پنځه دقيقې خبرې وکړي.

- د کوم پښتو ليکوال ليکنې مو خوښې دي او ولې؟
- ايا په کوم شعر يا داستان مو نقد لوستى دى؟ که مو لوستى وي، آيا خوښ شوى مو دى کنه؟ د خوښېدلو يا نه خوښېدلو علتونه يې په لنډه توګه خپلو ټولګيوالو ته ووايياست.
- کره کتونکى بايد څه وکړي چې کره کتنه يې ښه او پخه راشي؟
- کره کتنه د ټولنې د ادبي بهير په وده او پرمختګ کې کومه ونډه لري؟

ketabton.com - The Digital Library

زده کو ونکي دې د دولسم ټولګي د پښتو لوست د کتاب کوم شعر يا داستان په غور ولولي او يوه دوه مخيزه کره کتنه دې پرې وليکي. معرفي دې يې کړي او پياوړي او نيمګړي اړخونه دې يې په ګوته کړي.

د کره کتونکي کار دا دی چې د يو کتاب د ارزښتونو په هکله خبرې وکړي، د کتاب په ليکلو کې د ليکوال محرک يا د هڅونې لاملونه په هغه پورې اړه نه لري، لکه د يو کتاب د خرڅو شوو نسخو له شمېر سره چې يې کار نشته.

انګليسي ليکوال

سامرست موام

((داسې کوم شي نشته چې د زده کړې له لارې تر لاسه نشي.

هيڅ شی زده کړې ته نه رسيږي. زده کړه بد اخلاق پر ښو اخلاقو بدلوي. ناوړه اصول سموي او د هغې پر ځای يې راوړي. زده کړه انسان د پرښتو ترکچې لوړ وي.))

مارک تواين

ketabton.com - The Digital Library

ويپانگه

((الف))

آز: حرص

آغلی: ښکلی

استخراج: راویستل، راوتل، خارجېدل

استوگه: استوګنه، مېشتېدنه

اشلوک: شعر، نظم

امسال: سږکال

انتشار: خپرېدل، خواره واره (منتشر- پاشلی، خپاره)

انتصابي: نومول شوی، چې انتخابي نه وي، نصب‌شوی

اند: فکر

اوربلکی: اورلګید

اوره: وریځ

اواللعزم: لوی پیغمبران چې په خپل ماموریت کې يې له پوره زغم او استقامت څخه کار اخیستی وي.

ایثار: قرباني، سرښندنه

ایږونه: یوه دسته کښتی (د ایږ په بڼه هم شته)

ایلایي: اطاعت (له ایل او ایلېدل څخه)

ایواد: (اوس د هېواد په بڼه)

اړینه: ضروري

ketabton.com - The Digital Library

((ب))

باجره: غنمو او وربشو ته ورته يو ډول دانې دي چې ډوډۍ ترې پخوي.

بال: وزر

بجلی‌گر: د برېښنا مسوول

بدوی: لومړنی، ابتدايي، وحشي

بربن: لوړ باغ

برتی: څېره (لکه په پوځ کې برتي کېدل- څېره کېدل) په لښکر کې شاملېدل

بردمه: بالکل، مالامال

برمل: ماسپښين

برهان: دليل

بری: پخوا يې فعلي بڼه (بول: فتحه کول) هم مستعمله وه، اوس بری د بريالیتوب يا ظفر لپاره کارول کېږي.

بريا: لاسته راوړنه، کاميابي

بريځر: غرمه

بصر: سترګې، نظر

بلاغت: څرګند، تيار

بمبن: د هندوانو روحاني مشر

بنستيز: بنيادي، اساسي

بهير: جريان، کتار، لړ

بودتون: بتخانه، بتکده

بورجل: اقامت‌گاه، سنګر، مسکن

بوللـه: قصيده

بټ بېدیا: توده صحرا، تود بيابان

بېړۍ: زولنې

((پ))

پامور: د پام وړ، د پاملرنې وړ، د توجه وړ

پرتله: مقايسه

پرتم: دبدبه، شکوه

پسمانده‌گي: وروسته پاتې والی

پسول: ګانه، زيور

پسوللل: ګانل، ښکلي کول، اًراستن

پلوشه: مو، بته

پن: انداز

پوپل: د يو ګل نوم

پوکړونه: پوکول، پوف کول، دمول

پويايي: فعاليت، حرکت، ولولې

پيشنمی: پيشلمی

پيودل: پييل، منظم کول

پيځ: زغم، صبر، نيمګړتيا، عيب

پېر: دوران، مهال، وخت، ځل، وار

((ت))

تاثر: خواشيني، خپګان

تاديب: ادب ورکول

ketabton.com - The Digital Library

تالاو: ډنډ، تالاب

تانی: حوصله، دقت

تبعید: شړنه، له خپل هېواد څخه په زور شړل، په بل ځای کې چېرې اوسېدنه

تپ: زخم

تثبیت: جوت، ثابت، څرګند، ښکاره

تحقیر: کم ګڼل، سپک ګڼل

تذکره نګار: تذکره لیکونکی، د ژوندلیک لیکونکی

تربته: وارخطا، هک حیران

ترقي یافته: پرمختللی

ترمل: ماښام (ښایي مل د مهال لنډیز وي په دې توګه: برمل: لوړ مهال (ماسپښین)، برمل: کور مهال: مازیګر او ترمل: تور مهال یا تیاره مهال ماښام وي.)

تری: د تېرېدو ځای، عبور، پلی، (د تری په مؤنثه بڼه اوس هم په ختیځه لهجه کې ژوندی کلمه ده، هغه نری لار چې د سیند او غر ترمنځه تېرېږي.)

تریخی: تلخه

تسلسل: دوام، جریان

تسبیهات: په پاکی یادول، په سپېڅلتیا سره

تصنعي: غیر طبیعي

تعاون: مرسته، همکاري

تعلیقات: نښلونې، لمن لیکونه

تکلف: سختي، پېچلتیا (له تکلیف څخه)

تکلف: سختي، تکلیف

تل: ژورې، عمق

تمهید: مقدمه، سریزه

تمیز: پاکي، نظافت، غور، فکر

توکم: نژاد

توکي: عناصر، برخې

توکي: عناصر، مواد

تیرون: تېرېدل، ګذر، (خو دا کلمه د تیري او یرغل په معنا هم راځي)

تېرېدنګ: فعلي بڼه: تېرېدل، د نوم بڼه: تېرېدنګ لکه خېرېدل: خېرېدنګ

((ټ))

ټاپی: دوران، وخت، مهال

ټوټکي: شګون، جادو

ټیک: له سر و څخه جوړه شوې ګانې چې په تندي راځړېږي

((ث))

ثقافت: کلتور، فرهنګ

ثمین: ګران بیه، قیمتي، ارزښتمن

ketabton.com - The Digital Library

((ج))

جاج: سوچ، فکر

جاګير: ملکيت، د ډېرو زمکو ملکيت

جام جم: د جمشيد جام چې هر څه په کې ښکارېدل

جبلی: غرنی، طبيعي

جبين: تندی، تنډه

جرړې: ريښې، بيخونه

جګړن: جنګيالی، عسکر، لښکر

جندڼ: جګه ونه

جندۍ: ګل

جيل: زندان

((چ))

چنډی: شاعر

چونی: بلبل

چيتر: د چيتر مياشت، د پسرلي بارانې مياشت

((ح))

حاذق: هوښيار، تکړه (حاذق طبيب) ښه او اغېزمن طبيب

حباب: د اوبو په سر فوقانی

حباب: پوڼاکه

حزم: محکم، استوار ساختن، هوشياری

حشم: شوکت، جلال

خصمانه: غليمانه، دښمنانه

حلقه: کړۍ

حليم: مهربان، شفقت، نرمي

((خ))

خارپوڅې: خاپوړې

خپسر: ځان، خپل ځان، خپلسر

ختن: په چين کې د افسانو او ښکلاوو سيمه ګڼل شوې ده. وايي چې د هوسيو نافې يې د مشکو او عطرونو ښکلې څپې خپروي.

ختي: لباس، کميس

خدم: خادم، خدمتګار

خلقت: خوی، عادت

خنډ: مانع

خوان: دسترخوان

خوف او رجاء: ډار او اميد

خونول: (په بوللـه کې وخونوليه) مصدر يې خونول: قربانول، ځاروول، نثاروول

خور: د سيلاب د راوتلو لار

ketabton.com - The Digital Library

((ځ))

ځل: ځلېدل، درخشش

ځلا: رڼا، روښنايي

((خ))

څپان: څپاند، مواج، څپه لرونکی

څکول: کشول، کشیدن

څنډونه: څنډ: افق، کناره

((د))

د ژوند مدار: د ژوند چاپېریال، د ژوندانه ډګر

درنګ: کان، معدن

دُرونه: غمي، مرغلرې

دری: له درېدلو څخه اخیستل شوی، درېږي، ودرېږي

دریځ: منبر، د درېدو ځای

دکلمه: په دقیقه او شاعرانه بڼه د شعر لوستل، د شعر بڼه او غوره لوستل، غوره ادا

دلالت: د دلیل راوړل

دیباچه: سریزه، مقدمه

دیوات: مشوانۍ

دښنه: دښمن، غلیم

((ذ))

ذاتي: اصلي

((ر))

رابیا: راګرځول، بېرته ترلاسه کول

رامشت: طرب، ساز او سرود

رامشتګر: مطرب، سازی

رېي: بیرغ، جنډه

رسالتمن: د رسالت لرونکی، متعهد، ژمن

رسن: (دار و رسن):

رغونه: د غرو لمنې

رکن: برخه، غړی

رمز: راز، سمبول

رندانه: مستانه

((ز))

زاید: اضافه، سرباري، ډېر زیات

زبون حالي: بدمرغي

زغل: زغستل، منډه وهل

زلما: ځواني، زلمیتوب

زنار: رسۍ

زوږ: فریاد، هنګامه، ولوله

زېرمه: ملاتړ حمایت، حفاظت، (اوس د

ketabton.com - The Digital Library

ذخيرې په معنا کارول کېږي)

((ژ))

ژانر: ډول (ادبي ډول)

((س))

سالونه: شنبلی، سرمه ریگ

سپند: سپیلنی

ستهان: ستان، ځمکه، سرزمین

سجع: سجع لرونکی، وزن لرونکی، اًهنگ لرونکی

سرپول: گرټ کول، لکه د چاپو سر پول

سرگذشت: هغه څه چې په ژوندکې تېرېږي،

د ژوند حالات، ژوندلیک

سفله: ناپوه، جاهل

سلاست: رواني

سلنه: فیصدي

سماج: ټولنه

سمبول: نښه

سهل: اسان

سوراړا: وچ کلک

سوژه: موضوع

سیر: سفر، گرځېدل، یون

سینګړ: کاړ، سنګلاخ

سېنسن:

((ش))

شاخ: ښاخ

شام: مانښام

شرف: ویاړ، شرافت

شنسب: د غوریانو د لوی نیکه نوم دی (شین اسبه)

شها (شهی): ښکلې، معشوقه

شهکار، بې جوړې کار، له عظمته ډک اثر، ستر کار

شوللِ: شول (اوس یوازې په یو لام په فعلي بڼه)

شن (شنا): مست، مستي، فعلي بڼه یې شنېدل دی چې اوس هم په ختیځه لهجه کې شته او د آس د شنېدلو لپاره کارول کېږي.

((ښ))

ښندو: د ښندل له مصدر څخه، نثارول، بخششول

ښکلونکی: سینګارو ونکی، ښکلی کو ونکی (آراینده) (ښکل یې هم د فعلي مصدر بڼه ده).

ketabton.com - The Digital Library

بښځمنو: بښځينه وو، مېرمنو

((ص))

صراحت: څرګندوالی، په بښکاره بڼه

صم: کوکک، زهر

صيقل: تورپل

((ط))

طنازه: بښکلی، دلربا

طوس: طوس په اوسني ايران کې يوه سيمه ده، د فردوسي د زوکړې ځای

طوق: د غاړې زنځير

طيلسان: بې لستونې اوږده جامه، هغه جامه چې قاضيان او خطيبان يې اغوندي.

((ع))

عارضه: نقصان

عارضي: ضمني (چې اصلي نه وي)

عروج: لوړتيا

عقليت: هوښياري، پوهه

((غ))

غزال: هوسۍ

غله: غله جات، دانې، حبوبات (غنم، وربشې او نور مواد)

غوړول: خپرول، خورول

((ف))

فانوس: څراغ، (د پانوس په بڼه هم راځي)

فتنه: فساد، امتحان، ازمايش

فراغت: خلاصون، وزګارتيا

فرقان: د پاک قرآن يو بل نوم، د قرآن عظيم الشان ۵۲ سورت چې (۷۷) آيته لري

فروعات: ضمني، څنګيز، چې اصلي نه وي

فکټ (فاکټ) سند، لاسوند

((ق))

قريحه: شعري ذوق او وړتيا، استعداد (د شعر په برخه کې راځي) بڼه قريحه، بڼه ذوق، بڼه استعداد

قطب: شمال

((ک))

کتابګوتی: کوچنی کتاب، رساله

کجل: د رنجو په شان تور مواد

کرکټر: (د کيسو او افسانو څېره، اتل، قهرمان

ketabton.com - The Digital Library

کلاسیک: لرغونی

کمند: لومه، جال، پړی، تناب

کهاله: کهول: کورنی، خاندان

کوکب: ستوری

کون: دنیا

کور: هېڅ، په هېڅ شمېرلی

کیکر: یوه ونه چې پانې زیړې او ازغنه ده

د یوه سحرایي مرغه نوم هم دی، صحرایي چرک.

کڅوړه: خلطه

کښل: لیکل

((گ))

گانې: ښکلی کول، زیورول، د زیور او

گانې فعلي بڼه (پخوانی)

گرز: گرد

گره: غوټه

گهیځ: سهار

گوټ پیر: څنگ، گوټ، څنډه

گوښی: جلا، بېل

((ل))

لاسکښلي: قلمي

لاښونه: د غرو څنډې

لرمل: مازیگر

لوغړن: ضعیف، کمزوری

لونل: پاشل

لوړول: پورته کول

((م))

مؤرخ: تاریخ لیکونکی

ماته پېړی: مات تخت، ماته څوکی

مالکي: مالک والی

متانت: کلکوالی، پیاوړتیا، دروندوالی

متبرک: مبارک، سپېڅلی

مثل: متل

مجال: فرصت، امکان

مخبط: دا هم امیخته شفته، تباه، فاسد

مخکښ: تر ټولو مخکې، پېشگام

مرأة العروس: د ناوې هنداره

مراقد: د ((مرقد)) جمع، زیارتونه

مرقد: (جمع یې مراقد): مزار، قبر، زیارت

مزیت: ښېگڼه

مستعار نوم: پور شوی نوم، د خپل نوم پر ځای یو بل نوم غوره کول چې اصلي نوم یې څوک ونه پېژني.

مسجع: وزن، وزن لرونکی

مشاطه: نایڼه، سینگارگره

ketabton.com - The Digital Library

مظاهر: ښکارندې، نمونې، ښکارندې

معاشره: ټولنه، جامعه

مافیها: هغه څه چې په هغې کې دي

مرسل، مرسلان: د خدای له خوا راليږل شوی،

معراج: اسمان ته تګ، پورته تلل، تکامل

معرفت: پوهه، علم، د عرفان د سلوک درېم پړاو

معشیت: زندګي

معلول: د يوه پېښې او علت له کبله ناتوانه يا کم توانه شوی

معيوب: عيب لرونکی، نيمګړی

مقفي: قافيه وال، د قافيې لرونکی

مقيد: ژمن

مکيز: ناز، عشوه

مملوکي: بنده ګي، غلامي، مريتوب، د مملوک وضع او حالت

منثور: په نثر

منقد: نقاد، کره کتونکی، نقد ليکونکی

مهار: تابع، په ولکه کې راوستل

مهار: قابو، په خپل لاس کې نيول

مهتاب: سپوږمی

مواعظ: وعظونه

موشګاف: نازکخيال، باريکخياله، چې خيال يې ويښته سوری کوي

ميرځمن: دښمن، غليم

((ن))

ناچاودي: نامنفجر شوي

ناخن: نوک

نادر: ډېر لږ، کم، خال خال

نرد: (شطرنج) يوه لوبه ده

نسب: نژاد، قوم، قبيله

نشت: نشت د شته او نشته يوه د لنډيز بڼه ده. نابود اوس هم په پښتو کې شته لکه په ښېرا کې ((خدای دې نشت کړه))

نغرل: تېرول، خوړل

نغوړېدل: اوربدل

نقاد: کره کتونکی، نقد ليکونکی

نقش نگين: د غمي انګور

نمری: جامې، کالي، لباس

نمزدک: جومات، مسجد

نوع: ډول

نول: غم، بدمرغي، خپګان، ويړ، کړاو، ماتم

نيسان: پسرلی (د ثور مياشت)

نيلی: اس

ketabton.com - The Digital Library

((و))

واله: وياله، جوی

وجايب: دندې، وظايف، مکلفيت

وچوبی: وچوالی، وچ شوی، بې اوبو

ويسا: باور، اعتماد، ډاډ، اوستا

ويساک: د هندوانو جشن

ويلاړ: نيت، هوډ، اراده

ويړيا: وړيا، مفت

وړتيا: استعداد

وړنگن: درخشان، مشعشع، (وړانگو ته منصوب)

((هـ))

هتياتي: هت، کلمه که خوشی و در وقت اختيتام کار بکار برده ميشود.

هلال: سپوږمی (نوې مياشت)

هويت: پېژند

هويه: هگی

هډو: بيخي (اصطلاح غوندې ده)

((ي))

يم: درياب

ينه: ځيگر

يون: حرکت، سفر، رفتار، په پښو تگ

ketabton.com - The Digital Library

اخځليکونه:

۱ـ احمد شاهي شهنامه، ناظم حافظ مرغزی، پېژندنه او تعليقات: پوهاند عبدالشکور رشاد، د متن سمون، سريزه او لمنليکونه: محمد معصوم هوتک، کندهار، علامه رشاد اکاډيمي، ۱۳۸۷هـ.ش. کال

۲ـ اوسني ليکوال، دويم ټوک، عبدالرؤف بېنوا، کابل

۳ـ اوسني ليکوال، لومړی ټوک، عبدالرؤف بېنوا، کابل، ۱۳۴۰هـ.ش. کال

۴ـ پټه خزانه، محمد هوتک بن داو ود، کابل، ۱۳۳۹هـ.ش. کال

۵ـ پښتانه شعراء، لومړی ټوک، عبدالحی حبيبي، کابل

۶ـ پښتانه، پوهاند ډاکټر حبيب الله تړی، د پښتني فرهنګ د ودې ټولنه، جرمني، پېښور چاپ، ۱۳۷۷هـ.ش. کال

۷ـ پښتو ادب کې د مېرمنو برخه، شاه جهان، پښتو اکيډيمي، ۱۹۹۳م. کال

۸ـ پښتو قلمي نسخې، (ناچاپ اثر)، څېړندوی حبيب الله رفيع

ketabton.com - The Digital Library

۹_ تذکرة الاولیاء د سلیمان ماکو، پوهاند عبدالحی حبیبي په سریزه، کابل
۱۰_ تور برېښ، سرمحقق عبدالله بختاني، ۱۳۴۷هـ.ش. کال
۱۱_ د ادبیاتو په لړکې، پوهنمل بریالی باجوړی، ۱۳۸۷هـ.ش. کال
۱۲_ د استاد یاد (د مقالو ټولګه) کابل، ۱۳۶۴هـ.ش. کال
۱۳_ د افغانستان ژبې او توکمونه، دوست محمد دوست، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۵۴هـ.ش. کال
۱۴_ د پښتو ادبیاتو تاریخ، دویم ټوک، پوهاند عبدالحی حبیبي، کابل
۱۵_ د پښتو ادبیاتو تاریخ، دویم ټوک، پوهاند عبدالحی حبیبي، کابل چاپ.
۱۶_ د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی او دویم ټوک، پوهاند عبدالحی حبیبي، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴هـ.ش. کال
۱۷_ د پښتو د نوي ادب لارې، پوهاند عبدالحی حبیبي
۱۸_ د پښتو لومړی ژباړل شوی ناول کوم یو دی؟ کابل مجله، ۱۳۶۶هـ.ش. کال (جدي _ حوت) د زرین انځور مقاله.
۱۹_ د پښتو نثر تاریخ، محمد افضل رضاء، پېښور، دویم چاپ، ۱۹۹۵م. کال
۲۰_ د پښتو نثر هنداره، پوهاند صدیق الله رښتین، پېښور
۲۱_ د حمزه شینواري کلیات، پېښور، پښتو اکیډیمي چاپ
۲۲_ د خلکو سندرې، حبیب الله رفیع، کابل، ۱۳۴۹هـ.ش. کال
۲۳_ د عبدالحمید دیوان، د سرمحقق زلمي هېوادمل په زیار او سریزه، کابل چاپ.
۲۴_ د عبدالحمید مومند کلیات، د محمد آصف صمیم په سریزه، ۱۳۸۶هـ.ش. کال
۲۵_ د عبدالحمید مومند کلیات، دویم چاپ، سریزه، سپرنه او تدوین د محمد آصف صمیم، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه
۲۶_ د عبدالحمید مومند یاد (د مقالو ټولګه) کابل، ۱۳۶۶هـ.ش. کال
۲۷_ د علي محمد مخلص دیوان، ډاکټر پرویز مهجور خویشکی سریزه او تدوین،

ketabton.com - The Digital Library

پښتو اکيډيمي، پېښور يونيورستي.
۲۸_ د غني کليات، غني خان، کابل، د قومونو او قبايلو وزارت، ۱۳۶۴هـ.ش. کال
۲۹_ د قافيې فن، محمد ابراهيم همکار، پېښور چاپ، ۱۳۸۱هـ.ش. کال
۳۰_ د قلم خاوندان، هميش خليل، پېښور
۳۱_ دکاظم خان شيدا ديوان، د عبدالرؤف بېنوا په زيار او سريزه، کابل چاپ
۳۲_ د ميرزا خان انصاري ديوان، سمونه او څېړنه د ډاکټر پروېز مهجور خويشکي، پښتو اکيډيمي، پېښور، يونيورستي، ۲۰۰۴م. کال
۳۳_ دربارهٔ ادبيات و نقد ادبي، دکتر خسرو فريک ورد، تهران، ۱۳۷۸هـ.ش. کال
۳۴_ دستارنامه، خوشحال خان ختک، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۴۵هـ.ش. کال
۳۵_ شعر پېژندنه، اکادميسين کانديد محمد صديق روهي، پېښور، ناهيد کتاب چاپولو مؤسسه، ۱۳۷۴هـ.ش. کال
۳۶_ شفيق د پښتو لنډې کيسې يو شهيد ليکوال، د محمد زرين انځور مقاله، سپېڅلي مجله، پېښور
۳۷_ عبقريان، محمد موسی شفيق، کابل، ۱۳۴۶هـ.ش. کال
۳۸_ غني او اجمل، د سمينار د مقالو ټولگه، کابل، د قومونو او قبايلو وزارت، ۱۳۶۵هـ.ش. کال
۳۹_ فرهنگ اصطلاحات ادبي، سيما داد، تهران، انتشارات مروارايد، ۱۳۸۵هـ.ش. کال
۴۰_ فرهنگ اصطلاحات ادبي، سيما داد، تهران، چاپ سوم، ۱۳۸۵هـ.ش. کال
۴۱_ فرهنگ بزرگ سخن، دکتر حسن انوري، تهران، سخن، چاپ چهارم، ۱۳۸۶هـ.ش. کال
۴۲_ قافيه، پوهنمل محمد آقا شېرزاد، کابل، ۱۳۸۶هـ.ش. کال

ketabton.com - The Digital Library

۴۳_ قصه نویسی، رضا براهنی، تهران، ۱۳۴۸هـ.ش. کال
۴۴_ کمکی خیبر (مجله)، ۱۳۸۸هـ.ش. کال، شپږمه گڼه، کیسه او ژوند، د زرین انځور مقاله
۴۵_ گجري، قلندر مومند، یونیورستي بک ایجنسي، پېښور، ۱۹۵۸م. کال
۴۶_ محکوم بیگناه یا گلچینی از بهترین آثار نظم و نثر ویکتور هوگو، ترجمه شجاع الدین شفا، تهران چاپ.
۴۷_ مکتب های ادبی، رضا سید حسینی، تهران چاپ
۴۸_ ملي هنداره، محمدگل نوري
۴۹_ نقد ادبي، ج ۱، دکتور عبدالحسین زرین کوب، تهران چاپ
۵۰_ نقد ادبي، دکتر عبدالحسین زرین کوب، تهران، اتم چاپ، ۱۳۷۳هـ.ش. کال
۵۱_ ننګیالی پښتون، د خوشحال خان خټک د سمینار د مقالو ټولګه، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۴۵هـ.ش. کال
۵۲_ ولسي سندري، زلمی هېوادمل، کابل، ۱۳۴۶هـ.ش. کال
۵۳_ سلسلة الاحاديث الصحيحة للالباني
۵۴_ مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح
۵۵_ سيرت النبي، ابن هشام
۵۶- په ۴۵ مخ کې «ادبیات د اسلام ... »، اتم لوست د عربي ژبې له څانګې څخه اخیستل شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English